# د افغانستان یونلیک

دري ملګري

علامه اقبال

سید سلیمان ندوي

سر راس مسعود

لیکوال

سید سلیمان ندوي

ژباړن

محمد اسماعیل "عندلیب"

اردو چاپ ۱۹۴۵ کال-زر ټوکه
نفیس اکاډمي- حیدر اباد-دکن

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

موده مخکې د پوهنتون د دورې یو ټولګیوال د پي ډي ایف په بڼه یو کتاب راواستاوه، چې په اردو ژبه لیکل شوی و، کتاب له اوس څخه اوه اتیا کاله مخکې په هندوستان کې چاپ شوی و، دا افغانستان د هندوستان د درې نومیالیو پوهانو د یو شریک سفر یونلیک و، چې د همدې ډلې یو ګډونوال سید سلیمان ندوي له خوا د سفر د پیل څخه تر پیل پورې خپل مشاهدات راټول کړي، لیکلي او بیا چاپ شوي وو.

سفر په ۱۹۳۳ز کال کې د افغانستان د وخت د حاکم نادرشاه په بلنه تر سره شوی دی، لیکوال د تورخم له لارې افغانستان ته داخل شوی، او د کندهار د سپین بولدک له لارې بېرته له افغانستانه وتلی دی، په دې ټول سفر کې نوموړي خپل د سترګو لیدلي حالات د خپل پیاوړي قلم په مټ ثبت کړي، او وروسته بیا چاپ شوي دي.

ماته له دې امله کتاب په زړه پوری و چې د افغانستان پورې یې اړه درلوده، اوږد نه و، ځکه مې ژباړې ته ملا وتړله، که څه هم د مصروفیت له امله یې زیات وخت واخیست، خو په ډېر شوق مې وژباړه.

لوستونکي به خپله د کتاب په خوږو پوه پوه شي، خو که د نقاد یو ژباړن په توګه لنډه تبصره و کړم، نو ویلای شم چې لیکوال ځای ځای هڅه کړې د افغانستان بناروته د هغه وخت د هندوستان له ځینو سیمو سره پرتله کوي، انګریزان پکې واکمن وو، او افغانستان له جګړو او بغاوتونو راوتلی هېواد و، زما په ګومان دا پرتله یې مناسبه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هڅه کړې چې په کتاب کې لیکل شوي نومونه، هغه که د اشخاصو دي که د ځایونو دي، لږ او ډېر توضیح کړم، خپل معلومات مې د لمنلیک په ډول په کتاب کې ځای کړي دي.

د افغانستان په اړه د لیکوال له مینې، خلوص، افغانستان سره د اسلامي ورورولۍ له احساساتو ډک دي، د افغانستان د ښه راتلونکي لپاره ځینې مشورې لري، چې که اوس هم ورته پاملرنه وشي، او عملي شي نو له ګټې به خالي نه وي.

دا چې کتاب په لاس لیکل شوی، بیا سکین شوی، نو ځینې برخې یې نه لوستل کېږي، همدا راز د اردو او فارسي شعرونو برخه کې زه یو نیم ځای کې له ژباړې تېر شوی یم، او په دې باور چې شونې ده ژباړه د متن خواږه له منځه یوسي.

انسان له تېروتنې خالي نه وي، شاید ځینې برخې یې تېروتنې ولري، که څوک یې را په ګوته کړي، مننددوی به یې یم.

په درنښت

محمد اسماعیل عندلیب "نبي خیل"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

مولانا سید عبدالقدوس هاشمي

په ۱۹۳۳ کال کې شهید نادرشاه زموږ دريې مشرانو ته د کابل د سفر بلنه ورکړه، موخه دا وه چې د دې مشرانو له ارزښتمنو مشورو څخه د افغانستان د هر اړخیز پرمختګ، په ځانګړي ډول د تعلیم د انتظام په لړ کې ګټه واخیستل شي، دا مشران هر یو حکیم الاسلام حضرت علام اقبال رحمة الله علیه، حجة الله حضرت علامه سید سلیمان ندوي مد ظله العالي، مرحوم ډاکټر سر راس مسعود رحمة الله علیه وو.

د ۱۹۳۳ کال په اکتوبر میاشت کې دوی کابل ته ولاړل، او یوازې دري ځلور ورځې هلته پاتې شول، بېرته راغلل، په دې لنډ قیام کې یې له شهید نادرشاه پرته، له وزیرانو، امیرانو، علماوو او ادیبانو سره لیدنې وشوې، په بیلا بیلو مسائلو یې نظریات تبادله کړل، او افغانستان د هغوی له افکارو او لیدلوریو تر ټولو زیاته ګټه پورته کړه.

بل پلو د خپل هېواد خلکو دوی ته په هیله منو سترګو کتل، چې له افغانستانه یې موږ ته څه راوړي دي، د پغمان د انګورو او د کندهار له انارو له خوند څکلو پرته یې څه تر لاسه کړي دي، هغوی د سعدي شیرازي په څېر د خپل هېواد خلکو ته د خوږو خبرو ډالۍ وړاندې کړه، روښانه ده چې له دې پرته بله کومه غوره ډالۍ نه شوه کېدای.

علامه اقبال خپل مشهور مثنوي "مسافر" ولیکه، کوم چې د دې څو ورځني سیاحت په اړه د هغه د شاعرانه جذباتو او حکیمانه خیالاتو مجموعه ده، د خیبر، سرحد، کابل، غزني، او کندهار په ویاړمنو مناظر او مزارونو د شاعر اوښکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، او د حال په ژبه د بابر، محمود، غزنوي، حکيم سنايي او احمد شاه دراني د خاموشه خاورو سره سوال او ځواب دی.

استاد علامه سيد سليمان ندوي بيا دا ارزښتمن مضامين وړاندې کړل، چې په ۱۹۳۴ زېږديز کال کې په رساله معارف کې پرله پسې خپاره شوي دي، او شايد دا لومړی ځل وي چې د کتاب په شکل کې خپرېږي، په هغې کې سوانح هم شته، او تذکرې هم، احوال هم شته، او افکار هم، تاريخي اسناد هم شته او جغرافيايي معلومات هم، د مدرسو او معبدونو حال هم موجود دی، د اخبارونو او رسالو فهرست هم، موږ ته له دې ډاليو پرته بل غوره څه کېدای شول.

په نړۍ کې پېښې منځ ته راځي، تاريخي يادګارونه او نښې موندل کېږي، خو هر څوک د اقبال او سليمان ندوي سترګې چېرته لري؟ په چمن کې هر سهار ګلاب غوړېږي؛ خو هر څوک د کردګار د پېژندنې دا پاڼې چېرته لوستلای شي، هر ماښام لمر ډوبېږي، خو هر څوک د خليل عليه السلام په څېر د "لا احب الافلين" د توحيد غږ چرته پورته کولای شي؟ په همدې ډول هر څوک له سفر او سياحت څخه يو ډول ګټه نه شي اخيستلای، او بيا نورو ته له هغې ګټه رسول خو ستره خبره ده.

کله مو چې دا مضامين ولوستل؛ نو معلومه شوه چې علامه په ځغلنده سفر بيا هم افغانستان او د دې هېواد تاريخي اثارو ته د دقت په نظر کتلي، او په څومره ښه انداز سره يې د خپلې پراخه علمي مطالعې په ګلانو سينګار کړې دی، زما لپاره به د هغې ستاينه په کوچنۍ خوله ستره خبره وي، خو لوستونکي به خپله درک کړي.

د ليکنې طريقه يې دومره صافه او له تصنع څخه پاکه ده، چې بې مبالغې لوستونکی به د دې يونليک په لوستلو سره خپل ځان د دې سفر ملګری محسوس کړي، داسې به و انګيري چې سيد صاحب يې ګوته نيولې او له ځانه سره يې ګرځوي، ورته وايي چې دا وګوره! مخامخ ښار غزني دی، دلته سلطان محمود

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزنوي ژوند کړی، او له دې وروسته د هر کال پېښو تاریخ له کلونو او نومونو سره په تفصیل سره وايي، په پای کې وايي چې د عباس غوري په لسم پښت کې د علاء الدین حسین زېږېدلی دی، چا چې د خپل ورور سیف الدین په غچ کې دا ښار (غزني) په ایرو بدل کړ، او د جهان سوز لقب یې خپل کړ، له هغې وروسته ورته د علاء الدین جهان سوز لیکلې ویاړنه اوروي، او په دې ډول غزني ته رسېږي، د پخواني غزني پر ځای د نوي غزني د ابادۍ اړوند تاریخي حقایق بیانوي، د احمد شاه ابدالي یادونه کېږي، د هغه د ځای ناستي تیمور شاه نوم راځي، ویل کېږي چې نوی غزني هغه اباد کړی دی.

د حکیم سنایي مزار راځي، اقبال د مزار سره نږدې ولاړ او ژاړي، او د ژړا غږ یې اورېدل کېږي، د سید له سترګو هم اوښکې بهېږي، د مزار ډبرلیک (کتیبه) لولي او وايي چې په دې ډبرلیک دې څوک نه غولېږي، دا له وفاته ډېر وروسته لیکل شوې، او کېدای شي چې تاریخي تېروتنه پکې شوې وي، د وفات صحیح تاریخ دا دی.

له هغه ځایه د سلطان محمود مزار ته ځي، په لاره کې د سپرو له یو ټولي سره مخ کېږي، بیا د اوسنۍ نړۍ د مسلمانانو یادونه کېږي، په مزار لیکل شوی ډبرلیک لولي او د فرخي سیستاني مشهوره مرثیه هم وايي چې ویلي یې دي:

شهر غزنین نه همان است که من دیدم پار
چه فتاد است که امسال دګرګون شد کار

لنډه دا چې لوستونکی داسې محسوسوي چې یو پوه استاد خپل شاګرد له ځانه سره بوځي، سفر کوي، او د اثارو د تحقیق او تاریخ تر څنګ د نورې مطالعې لپاره د کتابونو نومونه هم اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حج له یونلیکونو پرته غالباً دا د اردو ژبې تر ټولو لومړی سفرنامه ده چې د علمي مطالعې پایله بلل کېدای شي.
علامه شبلي نعماني رحمة الله علیه د روم او شام یونلیک هم شته؛ خو د دې لنډ کتاب په لوستلو سره به په بې اختیاره ډول ووایې چې د علامه شبلي نعماني د نورو کارنامو د بشپړاوي په توګه، د دې تکمیل هم د هغه ځای ناستي او زموږ د قوم او ژبې ستر محسن په لاسونو شوی دی، او دا باور به نور هم پوخ شي، چې علامه سید سلیمان ندوي چې د ژوند یوه یوه شیبه یې د علم د طالبانو او د معارف د ترو په خدمت کې تېرېږي، کله چې د افغانانو د خدمت لپاره کابل ته تللی دی، هلته یې هم په اوردو ژبه خبرې کونکي نه دي هېر کړي.

اللهم متعنا بطول بقائه و کثر فینا امثاله

عبدالقدوس هاشمي
دار السلام – حیدر اباد –دکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان یونلیک

د سیر او سیاحت په موخه اسلامي هیوادونو ته د سفر په لړ کې مې یوه هیله دا هم وه چې لږ تر لږه تر ټولو نژدې اسلامي هیواد افغانستان هم ووینم، په ۱۹۲۷ زېږدیز کال کې په پېښور کې د جمعیة العلماء په غونډو کې د ګډون په موخه دوه ځلې د خیبر درې ته تللی وم، چې یو ځل راسره په دې لنډ سفر کې مولوي ظفر علي خان صاحب، او مولانا سید حسین احمد صاحب هم ملګري وو، او دوهم ځل راسره مولانا محمد علي او شعیب قریشي ملګرتیا کوله، خو دواړه ځلې مې د لنډي کوتل له کلا ور هاخوا تګ په نصیب نه شو.

په لومړي ځل له خیبر څخه پېښور ته د ستنیدو پر مهال دومره ناوخته شو، چې د پېښور پر لور تللې لاره بنده شوه، او شپه مو د جمرود[1] په سرای کې د منځنیو پېړیو د مسافرو په څېر تېره کړه، او دوهم ځل مو ټوله ورځ د لنډي کوتل د مشهور شینواري مشر سره تېره کړه.

دې سرسري لید مو د لیوالتیا اور نور هم لبغړانده کړ، د دوبي په تېر موسم کې له ډاکټر ذاکر حسین صاحب سره نه ماتیدونکې ژمنه شوې وه، چې راتلونکی کال به افغانستان ته ځو، خو په سړني دوبي لا د یخنۍ زور نه و بالا شو، چې له (کوه طور) څخه خپله د لیدنې اواز پورته شو.

د ډاکټر اقبال لیک راورسید چې د افغانستان حکومت زه، سر راس مسعود او تاسې د ځینې علمي او تعلیمي مسائلو په اړه د مشورو په موخه غوښتي یو، ایا تاسې تګ ته چمتو یاست؟ ما ځواب ورکړ، د دې هیواد هر هغه خدمت ته چمتو یم، چې زه یې کولای شم، د اکتوبر په اومه نېټه د افغانستان د کونسل جنرال

---

[1] -جمرود د پښتونخوا په خیبردره کې یو ښار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلاح الدين سلجوقي ليک راغی، چې هغه هم همدا غوښتنه کړې وه، او ما هغه ته هم د خپل چمتوالي خبر ورکړ، د ښاغلي کونسل غوښتنه خو دا وه چې موږ د اکتوبر په ديارلسمه نېټه د خپلواکۍ د جشن پر مهال کابل ته ورسېږو، خو دومره ژر د پاسپورټ تر لاسه کېدل ناشوني و، له همدې کبله د وخت ټاکنه د پاسپورټ له تر لاسه کېدو وروسته د ملګرو مشورې پورې غوټه شوه.

زما هيله وه چې د اکتوبر په نولسمه به پاسپورټ تر لاسه کړم، له بلې خوا سر راس مسعود د پوهنتون کارونو لپاره ببرته د راستنيدو په ببړه کې و، په اولسم اکتوبر هغوی پاسپورټونه تر لاسه کړل، په شلم اکتوبر له لاهور، او يو ويشتم اکتوبر له پېښور څخه د تګ پروګرام جوړ شو، هغوی په همدې پروګرام روان شول، او زما په هکله د دفتري څېړنو لړۍ پيل شوه، بالاخره په اتلسم اکتوبر په نيني تال[۲] کې په هغې لاسليک وشو، په يو ويشتم اکتوبر اعظم ګړه ته ورسېد، زه لکهنو[۳] ته راغلی وم، او په دوهمه ورځ د يو چا په پېژندګلو پاسپورټ لکهنو ته راورسيد، پاسپورټ په درويشتم اکتوبر سهار راورسيد، او زه د همدې ورځې په دوه بجې پېښور ته روان شوم.

په پېښور کې ملګرو هر يو حکيم عبدالعزيز ندوي، حکيم عبدالجليل ندوي، او د افغانستان د پاسپورټ مامور عبدالغفور خان صاحب ته مو ليک استولی و، په څلورويشتمه نېټه د شپې اته بجې موټر د پېښور سره نژدې د نوښار سيمې ته ورسېد، دلته په غير متوقع ډول حکيم عبدالعزيز ندوي، حکيم عبدالجليل ندوي، او د پېښور سوداګر عبدالرحمن ندوي، تر ما مخکې رارسېدلي وو، چې په ليدو يې زيات خوشاله شوم، يو ساعت وروسته موټر پېښور ته ورسېد، په داسې

---

[۲]-نينيتال د هندوستان يو ښار دی چې په اتراکنډ کې موقعيت لري.

[۳]-لکهنو د هندوستان د اتراپرديش ايالت تر ټولو ستر ښار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول چې پېښور ته زما د راتګ خبر خپور شوی نه و، خو بیا هم د موټرو په تم ځای کې د افغانستان د حکومت استازي، د جمعیة علماء سرحد ملګري، او د بهارت سبها[۴] ځیني غړي موجود وو.

شپه مو د حکیم عبدالعزیز په نوې جوړه شوې جونګړه (امان منزل) کې تېره کړه، سهار مو د ښار له ځینې علماوو او قومي کارکوونکو سره لیدنې وشوې، د پنجاب په څېر په صوبه سرحد کې هم د شریعت په پرتله رواجونو او دودونو ته د قانون حیثیت ورکول شوی دی، له هغه وخته چې صوبه سرحد کې کونسل رامنځ ته شوی، ځینې جذباتي مسلمان فعالین په دې هڅه کې دي، چې رواجونه او دودونه مات، او شرعي احکام د قانون په توګه ومنل شي، هغوی له ما غوښتنه وکړه چې له افغانستان څخه پېښور ته د بېرته راستنیدو څخه وروسته دلته د شریعت مجلس غونډه وشي، او زه پکې ګډون وکړم، خو دا چې په فکر کې نه راګرځېده چې د ستنیدو لاره به مو بدلیږي، دا غوښتنه مې ومنله.

دلته په رسېدو سره معلومه شوه چې د پاسپورټ سره سره د سفر حکومتي کار پای ته دی موندلی، تر اوسه د افغانستان د حکومت د پاسپورټ د مامور ویزه او د صوبه سرحد د حکومت لاسلیکونه پاتې دي، چې په دې سره به له پولې څخه د تېرېدو اجازه راکړل شي، خو دا کار هم پای ته ورسېد، او په پنځه ویشتم اکتوبر مو باید غرمه ناری د حکیم عبدالجلیل ندوي سره کړی وای، په دې میلمستیا کې د ښار ځیني علماء او مشران شریک وو، له ډوډۍ وروسته مو د ماسپښین لمونځ اداء کړ، او بیا افغانستان ته تلونکی موټر راورسید، له دې ځایه د حکیم

---

[۴]-بهارت سبها د هغه مهال هندوستان د ځوانانو یوه کین اړخې ټولنه وه، چې هندو، مسلمان او سیکانو یې غړیتوب درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالعزیز افغاني دواخانې ته ولاړو، او له هغه ځایه رخصت او له پېښور څخه ووتم.
شا او خوا د مازدیګر درې بجې وې چې موټر د پېښور له پولو بهر شو، ما فکر وکړ چې اوس د سفر سترتیا پای ته ورسېده، خو لږ وروسته د خیبردرې په دروازه کې د جمرود لاره راغله، موټر د یو دفتر مخې ته ودرېد، دلته د برتانیې محکمه د تګ راتګ پر مهال له هر شخص څخه یوه یوه، او له موټر څخه څلور روپۍ اخلي، زه په موټر کې یوازې وم، زما سره یو خدمتګار، او موټر چلونکی و.
اوس نو په خیبر دره کې روان وو، دواړو خواوو ته د غرونو لړۍ، او د درې په منځ کې کږلېچه لاره وه، د انګریزانو حکومت په خپلو حدودو کې سرک ډېر ښه جوړ کړی، د درې تر ټولو تنګ ځای ماته د علي مسجد سیمه معلومه شوه، دلته ډېر کوچنی، خو تاریخي مسجد جوړ شوی، له مسجد سره د چای، ترکارۍ، او تازه میوو څو دوکانونه هم شته، تر دې مسجد پورې په (۱۹۲۷ز) کال کې دوه ځلې مخکې هم راغلی وم، دلته د یو لمانځه اداء کولو شرف هم لرم، اوس مې یو ځل بیا په مسجد نظر واچاوه، مخکې د افغانستان او هندوستان تر منځ پوله همدا مسجد و، خو اوس انګریزانو له دې څخه هم مخکې خپل سرحد اچولی.
له دې درې څخه د خیبر اورګاډي پټلۍ هم تېره شوې، کومه چې د انګریزانو د اینجنیرۍ هیښوونکی کرامت بلل کېږي، سربېره پر دې د انګریزانو د سیاست یوه ستره بریا هم ده، د اورګاډي دا پټلۍ همداسې شا او خوا پنځلس میله غځېدلې ده، چې کله د غر په څوکه، او کله د درې په لمن کې، او کله یې بیا د غر سینه څیرې کړې ده.
په هر حال، د دې منظرو له لیدو وروسته شا او خوا څلور بجې د لنډي کوتل په پراخه دره کې موټر د یوې کلا مخې ته بیا ودرید، په میدان کې سرتیري په ورزشي لوبو اخته وو، دلته موټر چلونکی او زما ملازم کلا ته ننوتل، هلته یې د جمرود

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسید او پاسپورټ وښودل، او بیا راته د مخکې تګ اجازه وشوه، موټر مخکې روان شو، لږ واټن وروسته بیا د انګریزانو صنعت کاري پای ته ورسېده، او د درې فطري لاره راښکاره شوه، دلته د انګریزانو د پولې وروستی دفتر و، د یوې غونډۍ پر سر په یوه ودانۍ کې د خیبر ایجنسۍ دفتر و، موټر چلونکی او ملازم بیا ولاړل، هلته یې پاسپورټ وښود، او د پاسپورټ افسر د examined مهر پرې ولګاوه.

لږ مخکې ولاړو، چې د افغانستان او هندوستان د اوسني سرحد لوحه مو په نظر راغله، په دې لوحه په انګلیسي ژبه لیکلي و «له دې ځایه د هندوستان سرحد دی، هیچاته بغیر له صحیح پاسپورټ څخه مخکې تګ اجازه نه شته»، دلته یوه لوړه ستنه درول شوې او لاره بنده ده، کټ مټ هغه شان، څنګه چې د اورګاډي د پټلۍ له منځه پر وتلو لارو د اورګاډي د راتګ پر مهال په پاټک یا بل څه لاره بندېږي، دلته دواړو لورو ته پیره داران ولاړ وي، د هغې غاړې والا دلته د راتګ پر مهال او د دې غاړې والا هغې غاړې ته د تګ پر مهال دا ستنه د سرحد دار د سرتېرو په اجازه پورته کوي، او بیا مسافر بل لوري ته اوړي، په همدې ترتیب پیره داران د برتانوي سرحد دارۍ له سرتیري څخه چې شاته د ودانۍ سره نژدې ولاړ و، د لاس په اشارې سره امر تر لاسه کړ چې دا ستنه پورته کړي، او یو دم موټر له غلام هیواد څخه ازاد هیواد ته داخل شو.

دې ځای ته تورخم وایي، چې اوس د افغانستان او هند سرحد دی، زما په اند لکه څنګه چې د درې پورته برخه زیات کږلیچونه لري او ستونزمنه ده، د جنګي او سیاسي مصلحتونو پر اساس د برتانیې حکومت خپله واکمني تر هغه ځایه غزولې ده، له دې وروسته نسبتاً دره پراخېږي او غزیږي، لاره په فطري حالت کې ده، خو په ځینو سیمو کې ډبرې له منځه لرې کړای شوي دي، لوړې ژورې یې سره برابرې کړي دي، له دې سرحد څخه په څو قدمه واټن سره د یو غر په سر د افغان حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ پوسته جوړه شوې چې د تورخم په نوم یادیږي، د دې لاندې د اوبو چینه بهیږي، او یو کوچنی باغ، یا د څو ونو لاندې سیوری خالی ځمکه د مسجد کار ورکوي، دلته مو اودس او د مازدیګر لمونځ اداء کړ، او د افغانستان افسر پاسپورټ وکوت، د لارې محصول یې څلور روپۍ واخستې.

اوس موږ د افغانستان په سیمه کې روان وو، د درې لاره دم په دم پراخېده، غرونه لرې پاتې کېدل، پنځه بجې د افغانستان ختیځې سرحددارۍ ته ورسېدو، چې ډکه[5] نوم یې دی، دلته دا دره نوره هم پراخه شوې، او مخامخ راته د کابل د سیند لرې ژورې اوبه ښکاره شوې، د څادر په څېر اوارې بهېدې، یو لور ته د افغان سرحددار د لوېدیځ په ډول ودانۍ وه، او بل طرف ته د خامو دیوالونو یو پاټک و، چې د افغاني سرحدداري دفتر و، دلته بیا موټر چلونکي او ملازم پاسپورټ وښود، او دلته پرې په دې متن چې (بسرحدداری در مشرقی ملاحضه شد، برای ردفتن کابل) د اجازې مهر ولګول شو، موږ ته خبر راکړل شو، چې د شاهي میلمه په توګه د افغان سرحددار سره به زما پېژندنه وشي، خو هغه ناروغه و، له داخل څخه بهر راتګ ته د انتظار پر مهال د ځنډ وېره وه، له همدې کبله هغوی ښښنه وغوښته، او د مخکې تګ اجازه یې راکړه، افغان سرتیري ځنځیر لرې کړ، او موټر مخکې روان شو.

ماښام نژدې و، پښتانه مسافر چې نارینه مېرمنې، ماشومان او سپین ږیري پکې و، تلل راتلل، اوښان، خره، غوایان، غواګانې، او مېږې له څرځایونو بېرته راستنېدې، د خیبر له درې څخه تر دې ځایه پښتنې کلیوالې مېرمنې له سر څخه تر پښو پورې په تور لباس کې پټې وې، خو مخونه یې لوڅ او په ازادۍ سره

---

[5]-ډکه د تورخم او جلال اباد پر لویه لاره پرته سیمه او د مومندرې ولسوالۍ اړوند ده، هلته د غازي امان الله خان د مهال د ازادۍ یو څلی هم جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرځېدل، په بدن تر ښنګرو پورې توره کورتۍ، په پښو کې د لويو پايڅو والا عموماً تور پرتوګونه، له سر څخه تر پښو پورې تور ټيکري، له هر ډول ګاڼې او ظاهري سينګار نه په بشپړه توګه پاک، هغوی ته په کتلو سره دا فکر کېدو چې شايد اصلي اسلامي پرده همدا وي.
له ډکې چې مخکې ولاړو لومړۍ افغاني پوسته مو وليده، خيمې ولاړې وې، سرتيري په خپلو خړو لباسونو کې ګرځېدل، له دې خيمو لږ لرې د دوی د پخلنځي خيمه په نظر شوه، د هغوی پوځي لباس څه دا ډول و، خړ پتلون، خړ کوټ، په سر خړه خولۍ چې مخې ته يې چتر راوتلی و، د مصري سرتېرو لباس هم همدا ډول دی، خو د هغوی په سر ترکي خولۍ وي، چې د هغې په سر يو خړ پوښ اچول شوی وي، د همدې پوښ مخې ته يو چتر راوتلی وي، چې موخه يې له سترګو څخه د لمر نيول دي.
اوس ماښام و، موټر په پوره رفتار سره په پوره چوپتيا کې منډې وهلې، کوم کوم ځای کې به د پښتنو کروندګرو ډله يا د کوچيانو کوچنۍ قافله مخې ته راغله، چې ورسره به د څارويو رمه، د بار وړولو څاروي،ان تر دې چې د کوم غوايي يا خر په شا به چرګان هم ابښودل شوي وو، کوم کوم ځای کې کښت هم و، يو د بل پسې افغاني پوستې هم تېرې شوې، چې ابادۍ يې د خامو ديوالونو وې.
د خيبر له درې څخه تر دې ځايه د خامو ودانيو رواج دی، او غالباً د دې سيمې د اب و هوا اغيز دی چې دا ډول ودانۍ په باران کې هم خوندي وي، دلته باران هم کم وريږي، خو د دې ځای خړوبېدل او شينوالی د هغو چينو څخه دی، چې واورې ويلې شي، او بيا اوبه په چينو کې راځي، د بېرته تګ پر مهال مې په ملتان کې هم داسې ودانۍ وليدلې، په کابل او غزني کې هم داسې ودانۍ وليدل شوې، د حيرانتيا ځای دا و چې کلاوې، او شاهي ودانۍ ټول له خامو خټو جوړ شوي وو، دا خاوره ډېره نرمه او سريښناکه ده، له کاګل وروسته دا ديوالونه ډېر کلکيږي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلاوو کې ځو ځو ګزه پلن دیوالونه وي، او په هر کونج کې یې د ختو برجونه هم جوړ شوي وي، په دیوالونو کې د ټوپکونو لپاره بې شماره سوري وي.
په خیبر دره او د خپلواک سرحد په نورو سیمو کې د هرې کورنۍ، او قبیلې همدا ډول بیلا بیلې کلاوې وي، چې له بریدونو څخه یې خوندي کوي، د دې کوچنۍ کلا مشر ته ملک وايي، له جمرود څخه تر لنډي کوتل پورې د ملکانو دا ډول کلاوې ځینې نړېدلې، او ځینې لا هم ولاړې وې، پر لاره مو همدا ډول افغاني پوستې ولیدلې، چې ځینې یې ډېرې لوړې وې، سرتیري به په زینو ښکته پورته کېدل، له دې کبله چې شپه شوې وه، په فکر کې مو ګرځېدل، داسې نه چې پر لاره مو کومه پوسته ودروي؛ خو خبر شوو، چې د ډکې سرحد دار په تلفون ټولو ته خبر ورکړی، او د نه ودرولو لارښوونه یې ورته کړې وه.
د شپې اته بجې وې، د سپوږمې رڼا خپره وه، هر لور ته د غرونو دیوالونه تر سترګو کېدل، په ځینو ځایونو کې له ډبرو چینې روانې وې، د انسانانو او د انساني ابادۍ نښې تر لرې لرې ځایه نه لېدل کېدې، د تېز رفتاره موټر له اواز پرته هر لور ته چوپتیا خپره وه، مخې ته یو پول راغی چې داسې برېښېده نوی جوړ شوی، او تر اوسه نه دی استعمال شوی، تر لاندې یې چینه روانه وه، موټر چلوونکي موټر لاندې ښکته کړ، د چینې له منځه واوښت، او غوښتل یې چې پورته راوخیژي، خو د چینې د یخو ابو له کبله د موټر ماشین بند شو.
بیا بیا د ماشین د چالانولو هڅه وشوه، او شیبه دلته تم شوو، خو په دې چوپتیا، یوازیوالي کې بیا هم امن، امنیت او ډاډ خپور و، له دې څخه مو دا نتیجه واخیسته چې الحمد لله په هیواد کې د مسافرو لپاره هر ډول امنیت او ډاډ شته، او دا د هیواد تر ټولو ستره ښېګمرغي ده.
له بار بار کوښښ وروسته ماشین بیا ګرم او چالان شو، او پورته راوخوت، اوس جلال اباد نژدې و، سرک سیده او صاف و، دواړو خواوو ته د ونو کتارونه وو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کتارونو تر خمتولو وروسته موږ ته د جلال اباد رڼاوې ښکاره شوې، او بالاخره ابادي راغله، موږ د شهید باغ[۶] په میلمستون کې ودریدو، په زینو کې مامور د ښه راغلاست لپاره ولاړ و، دا د باغ په داخل کې یوه ستره ودانۍ وه، چرته چې ډېرې کوټې د میلمنو لپاره جوړې شوې، او چمتو وې، له همدې کوټو څخه یې په یوه کې ځای راکړ، پالنګونه او په هغې باندې پاکې بسترې، او کمبلې په خورا ترتیب اچول شوې وې، کوټه کې میز، چوکۍ، د ارام چوکۍ، او هر څه موجود و.
په دې اکتوبر کې د جلال اباد موسم د پېښور هومره یخ و، دلته په رسېدو سره مو اودسونه وکړل، او له ټولو تر مخه مو د ماښام، او ماسختن، مسافرانه لمونځونه یو ځای اداء کړل، لږ وروسته ډوډۍ راغله، له ډوډۍ وروسته د کابل مشهور سرده[۷] او انګور راوړل شول، سرده دومره خوږه او دومره یخه وه، چې په دې یخنۍ کې مو ونه شوه خوړلای، ټوله شپه مو ارام وکړ، سهار له پاڅېدو وروسته مو د باغ څخه لیدنه وکړه.
څومره خوندور حالت و، د باغ شاته غرونه و، د غرونو په لمن کې د کابل سیند یا بله کومه چینه په ارام سره بهېدل، یوه چینه له کومې راغلې، او د باغ په څنډه څنډه کې روانه وه، د سرکونو دواړو اړخونو ته د چنار لوړې لوړې ونې ولاړې وې، دا میاشتې د افغانستان د منې موسم وي، هلته په منې کې د ونو پاڼې د وچېدو پر ځای ژېرېږي، هر لور ته پرتو ژیړو ژیړو پاڼو یو بل پسرلی جوړ کړی و.
ما د جلال اباد د دې باغ نوم باغ شهید واورید، شاید د دې لپاره وي، چې امیر حبیب الله خان شهید به جوړ کړی وي، د باغ د ودانۍ طرز له هندوستان څخه

---

[۶]-د امیر شهید باغ د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال په جلال اباد کې جوړ شوی، چې مخامخ ورته د امان الله خان مقبره ده.
[۷]-ممکن سرده شیریخ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپير درلود، لوړه برنډه، له هغې څخه وروسته دالان، د دالان په منځ لار کې لاره وتې او يو پراخه تالار ته داخليده، د دې ټول تالار پر سر د بام پر ځای گمبذه جوړه شوې وه، او دواړو خواوو ته کوټې، د دې تالار شاته لوړه څپره وه، چې د هغې لاندې حالت يوې کوچنۍ درې ته ورته و، چې اوبه پکې روانې وې، او مخامخ ورته غرونه، وامو وربدل چې د دې باغ نسبت امير حبيب الله خان ته کيږي، خو د لوی تالار لوړې دروازې پر سر يوه ډبره نصب شوې وه، چې لیکنه پرې شوې وه، ما د دې ډبرليک د لوستلو هڅه وکړه، خو د افضل خان له نوم پرته مې نور هيڅ ونه شول لوستلای.

ما اوريدلي و، چې د بچه سقاو د اړودوړ پر مهال جلال اباد او دلته شته دولتي ودانيو ته سخت زيان رسيدلی و، يوه نښه يې دا وه چې د دې باغ د دالان د دروازو او کړکيو نه يوازې دا چې هنداري ماتې وې، بلکې په اور سره يې د سوځېدلو په څېر نښې هم وې.

د افغانستان د ودانيو بامونه خام او له سرماتي پرته او د چونې يا گچ پر ځای په ختو سره له بهر څخه پوښل شوي دي، له همدې امله هغه چا چې د هندوستان ودانۍ يې ليدلې وي، دا ودانۍ ورته هومره ښکلې نه ښکاري، مسجدونه هم عموماً د خامو ديوالونو دي، منارې او گمبذې نه لري، له همدې کبله له لرې ځايه زړه راښکونکې نه برېښي، او همدا علت دی، چې له بهر څخه راغليو سيلانيانو ته دا ودانۍ په زړه پورې او ابادې نه برېښي، سره له دې چې دا ابادۍ په داخل کې ډېرې ښکلې، او ښې جوړې شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جلال اباد ښار هم همدا حالت و، د مسافرو لپاره هوټل يا د خوراک دوکانونه شته، د چايو سمارونه هر ځای ګرم وي، له دې ځايه يو څه لرې د هډې کلی[۸] دی، دا کلی د مشهور مجاهد او عالم د هډې ملا صاحب[۹] په نوم سره مشهور دی، د هندوستان په انګريزي او هندوستاني ورځپاڼو کې له نن څخه شل کاله مخکې دا سړی ډېر مشهور و، څوک چې له انګريزي پوځونو سره څو څو ځله په جګړه کې ښکېل شوی دی، د هغه دولتي لقب نجم المشايخ و، چې په همدې هډا کلي کې واقع مدرسه نجم المدارس هم د هغه نوم ته منسوبه ده، او د کابل له يو عالم څخه مې واورېدل چې هلته د ملا صيب ډېر ښه کتابتون هم پاتې دی، دا د پخواني عربي ډول مدرسه ده.
ماته په جلال اباد کې مامور وويل چې د جلال اباد په شا او خوا کې د بدهـ مذهب خلکو ډېرې ډبريني ښښې پاتې دي.
جلال اباد له پېښور څخه اتيا ميله، او کابل له پېښور څخه دوه سوه ميله لرې موقعيت لري، نن مو بايد يو سل او شل ميله فاصله وهلې وای، سهار اته بجې له جلال اباد څخه مخکې روان شوو، سرک ښه او ډېره برخه يې نوې جوړه شوې وه، پلونه هم ترميميدل، په ځينو برخو کې سرکونه هم جوړېدل، پښتانه مزدوران په کار بوخت و، په اوښانو او خرو سپاره کوچيان، او په ځينو ځايونو کې ببېل

---

۸-د هډې کلی د جلال اباد ښار جنوب لور ته پروت يوه تاريخي سيمه ده، چې هلته د بودايانو د مذهبي ځايونو ښښې اوس هم شته.

۹-د هډې ملا صيب مشهور ديني عالم و، چې نه يوازې د علم او عرفان له امله بلکې د انګريزانو پر ضد د جهاد له کبله يې هم خورا شهرت درلود، اصلي نوم يې عبدالقدير او په نجم الدين يې شهرت درلود، هلته د نجم المدارس په نوم د افغانستان په کچه يوه ستره مشهوره ديني مدرسه ده، او اوسمهال د نجم الدين اخوندزاده له زيارت سره يو ستر مسجد هم جوړ شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهونکي کروندګر له غويانو سره ليدل کېدل، څومره چې مخکې تللو، لاره هم ډېرينه کېده.

له جلال اباده لږ وړاندې ولاړو، او لومړۍ ستره ابادي راغله چې نملا[۱۰] نوميږي، دلته يو ډېر پراخه شاهي باغ دی، چرته چې دولتي ميلمستون هم شته، باغ په ونو ښکلی شوی، په څنډو يې د چنار او صبر ونې کېنول شوي، لاره له باغ څخه بهر تېره شوې وه، خو موږ د باغ د لېدلو لپاره د باغ له منځه وتلې لاره غوره کړه، باغ مو يو نظر وليد، خو ووتو، په دې کلي کې د کروندګرو کورونه او نور باغونه هم شته.

هغه وخت چې افغانستان کې د موټرو او لاريو سپرلۍ رواج شوې نه وه، او خلکو به په اسونو او اوښانو سفر کاوه، نو عموماً به له هر دولس، ديارلس ميله سفر وروسته يو پړاو و، او په هر پړاو کې به د دولتي کار کوونکو او ميلمنو لپاره د اوسېدو لپاره ځايونه جوړ شوي و، چرته به چې ټول وسايل چمتو و.

اوس د موټرو تېز يون پړاونه هم لرې کړي دي، اوس په هر اتيا ميله، سل ميله، يو نيم سل ميله کې داسې ودانۍ له نوي سامان الات سره جوړې دي، خو خلک اوس هم د پخوانيو پړاوونو په حساب ځي، او د هغوی په فارسي ژبه کې زموږ د هندوستاني لفظ (پړاو) بالکل په ازادۍ سره کارول کيږي، او د سفر پر مهال د فاصلې د ټاکنې لپاره دا لفظ چې (يک پړاو، دو پړاو) کاروي، د ميل په ځای هغوی فارسي هندوستاني لفظ (کروه) کاروي، چې هم ورته په هندي ژبه کې (کوس) وايو، او تقريباً د انګريزانو د پاو کم درې ميله سره برابر وي، خو اوس د

---

[۱۰] -د مملې کلی چې اصلي نوم يې نمله دی، د جلال اباد ښار لويديځ لور ته پنځه ديرش کيلو متره لېرې د خوږيانو ولسوالۍ کې موقعيت لري، دلته شاهي باغ يا د مملې باغ په اړه روايت دی چې مغل پاچا شاه جهان جوړ کړی، او نمله هم د هغه د يوې لور نوم و، چې دا سيمه هم د هغې په نوم يادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نویو سرکونو جوړول په فرانسوي اصطلاحاتو برابر شوي، چې متر، سانتي میتر او کیلو متر دی.
دلته په سرکونو د میلونو نښې نه دي لګول شوي، ځکه خو مسافر د فاصلې پېژندلو کې ستونزو سره مخ کیږي، که د حکومت د ټولګټو وزارت دې اړخ ته لږه پاملرنه وکړي، نو په دې اصلاح سره به د مسافرو ستره ستونزه حل شي.
له نملا څخه وړاندې د شا او خوا نیم ساعت مزل کولو وروسته شاید موږ د فتح اباد[11] کلي ته رسېدلي و، دا له جلال اباد څخه اتلس میله لرې سیمه ده، او ویل کیږي، چې دا کلی د کابل او پېښور په بالکل منځ کې واقع دی، دا هم کوچنی کلی دی، کوچنی بازار لري، چې مسافر پکې د خوراک څښاک توکي، او ترکاري موندلای شي، د ګرم سمارونو ښې چای خانې پکې شته.
دا چې اوس د پېښور او کابل تر منځ د مسافرو، او توکو لارۍ او ټیکسي موټرې زیات تګ راتګ کوي، د دې اړتیا ده چې په هره لږه فاصله د هغوی لپاره تیل او د ترمیم څه سامان موجود وي، نو د صوبه سرحد یو مسلمان سوداګر له افغان حکومت څخه د دې ټیکه نیولې ده، د هغه لومړی دوکان په ډکه کې و، چرته چې د پاني پت یو ځوان مسلمان نوکر و، دوهم دوکان مو په فتح اباد کې وموند، د دوکان ودانۍ نوې جوړه شوې وه، تر ودانۍ لاندې زیر زمیني کوټه د تیلو زېرمه وه.
د نملا په شا او خوا کې کروندې دي، چې افغان کروندګرو دا مهال قلبه کوله، دا قلبې د هندوستان قلبو ته ورته دي، په دې هیواد کې پټیې د چینو او نهرونو له

---

[11]-د فتح اباد کلی چې اوس په پټیوات مشهور دی، په دې برخه کې لیکوال تېروتنه کړې، ځکه چې له جلال اباد څخه د شیرزادو ولسوالۍ پر لور غزېدلې لاره کې لومړی فتح اباد او بیا د میملې کلی راځي، او فتح اباد د سره رود ولسوالۍ اړوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوبو څخه پنه او خړوبېږي، دا چيني او نهرونه ذاتا ژور دي، چرته چې دا اوبه ځي، هغه زمکه تروتازه او شنه کوي، او هلته ابادي پيدا کيږي، څه وخت وروسته چې د دې اوبو مخه بل لور ته اوړي، ابادي هم هلته انتقاليږي، د دې نقل مکاني ځينې نښې په ځينو سيمو کې ليدل کيږي.

د پښې طريقه دا وه چې کروندګر د قفګير په څېر د لرګي يوه اله اخلي، او له نهرونو څخه اوبه را پورته کوي، بيا يې شيندي، د افغانستان په لويو لويو ښارونو کې مو د سرکونو د شبنم کولو طريقه همدا وليده، د سرکونو دواړو خواوو ته چينې بهيږي، د ښاروالۍ مامور چې د سرکونو د پاکولو لپاره ګومارل شوی وي، هغه همداسې له چينو څخه اوبه په شړپولو سره راپورته کوي، او سرکونه لمدوي، تر څو دوړې کينې.

له جلال اباد څخه تر فتح اباد پورې ډېرين سرک ډېرې داسې دي، چې موټر سخت درځوي، زموږ موټر نوی و، خو بيا يې هم يوه کمانۍ ماته شوه، کله مو چې فتح اباد کې موټر کې تېل اچول، دا ماته کمانۍ مو ولېده، هلته په ډېره مشکله يوه وسپنه پيدا شوه، هغه مو کړه او بيا مو په وسپنيز تار کمانۍ ترميم کړه، چې دوه نيم ساعته وخت يې و اخيست، د دې دوکان کارمند هم هندوستانی و، هغه راته چای راکړ، هغه راته وويل چې له دې ځايه شپږ ميله لرې يو مزار دی، چې په اړه يې ويل کيږي، د حضرت لوط عليه السلام[۱۲] قبر دی، او خلک يې زيارت ته ورځي.

هلته مووليدل چې ځينې کوچنيان قرأن کريم، ګلستان او بوستان او ځينې د فارسي نظم نور کتابونه لولي، په ترنم سره د هغوی لوستل په ځانګړي ډول و، چې ماته ډېر هيله ښنونکي معلوم شول.

---

[۱۲]-د ننګرهار ولايت د سره رود ولسوالۍ کې د تور غر په لمن کې يو قبر دی، چې د لوط عليه السلام د قبر په نوم شهرت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شا او خوا يوولس بجې د موټر ترميم پای ته ورسېد ، او موږ مخکې روان شوو ، لاره همداسې سخته، ډبرينه، او له کړليچونو ډکه وه، کله چې کابل ته ورسېدو، له وزيرانو څخه راته معلومه شوه، چې اوسني حکومت د کابل او پېښور تر منځ د يو بل سرک په جوړولو کار پيل کړی، چې اوسنۍ لاره به اسانه، او ورسره به د پېښور او کابل تر منځ لاره پنځوس ميله کمه شي، او هيله ده چې د دې سرک په جوړېدو سره به د افغانستان او هندوستان تر منځ تګ راتګ او سوداګريزې چارې پر مخ ولاړې شي.

زما په فکر پېښور جلال اباد ته هومره اهميت لري، څومره چې چمن او کوټه کندهار ته لري، خو څومره ښکلا او ابادي چې د کندهار په بازارونو کې شته، هومره د جلال اباد بازارونو کې نه شته، حال دا چې جلال اباد له پېښور څخه يوازې اتيا ميله لرې دی، او په همدې اساس په جلال اباد کې د سوداګرۍ د پرمختګ ورتيا زياته ده، چې د افغانستان او ياغستان او نورو ختيځو غره ايزو سيمو تر منځ يوازې همدا ښار د سوداګرۍ مرکز جوړېدای شي.

له فتح اباد څخه يو نيم ساعت وروسته د کولال([13]) سيمې ته ورسېدو، ابادي يې کمه، خو خلک يې مصروف و، کوچنی بازار يې هم درلود، چې د شپې ورځې پکې د اړتيا وړ توکي موندل کيږي، د خوراک هم څو دوکانونه و، چې له دې ځايه تر کابل پورې بيا بل داسې ځای نه شته، له همدې کبله مو دلته ډوډۍ وخوړه، که څه هم دې دوکان ته يې هوټل ويل، خو هوټل نه شي بلل کېدای، خو د اشپز يو پاک دوکان بلل کېدای شي، يو خوا يې ماته ميز او چوکۍ کېښودل، او بيا يې پرې ډوډۍ کېښوده، له پېښور څخه چې کومه افغانۍ ټيکله پيل کيږي، ټول افغانستان کې همدا پيدا کيږي، دلته د چپاتيو رواج نه شته.

---

[13]-کولال يا کولاله سيمه د شيرزادو ولسوالۍ اړوند يو کوچنی کلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورې نرۍ په څېر دلته هم ډوډۍ په کور کې پخيږي، او بيا بازار ته راوړل کيږي، دا د تنور يوه غټه ډوډۍ وي، ډوډۍ، چرګ، هګۍ، او د فيرنۍ درې خوراکه، او د کافي درې پيالې يې ما، موټرچلوونکي، او ملازم ته تياري کړې، خو تاسې به دې ارزانۍ ته حيران شئ، چې د دې ټول خوراک قيمت د انګريزي سکې په حساب يوازې يوه روپۍ او يوه انه و.

موږ د افغانستان په داخل کې شا او خوا پاو کم درې ميله مزل وهلی و، خو تر اوسه مو د کوم مسجد مناره نه وه ليدلې، دلته راته فکر راوغورځېد، چې ايا دا ټول اسلامي هيواد له مسجدونو خالي دی؟ ما له دوکاندار پوښتنه وکړه چې دلته کوم مسجد شته، هغه مخامخ يوې لوړې چوترۍ ته اشاره وکړه، د ماسپښين وخت و، هلته ولاړم، ومې ليدل چې د دې کلي په تر ټولو لوړ ځای د خاورې يوه چوتره ده، ورسره يو کوچنی دالان دی، دالان يوازې يوه دروازه درلودله، دروازه مې پرانيسته ومې ليدل چې په ديوال کې د امام لپاره د محراب په اندازه ځای جوړ شوی دی، او د خطيب لپاره په څنګ کې د دوه زينو والا بله چوتره وه، اوس پوه شوم، چې دلته په مسجدونو کې ګمبذې او منارې نه شته، ځکه خو دا مسجدونه بهرنيانو ته مسجدونه نه ښکاري.

په هر حال، مسجد کې مو د ماسپښين او مازديګر دواړه لمونځونه يو ځای اداء کړل، او درې بجې شا او خوا مو سفر پيل کړ، څومره چې مخکې تلو، د لارې تاو و پيچ، لوړې ژورې لا پسې زياتېدې، کوم ځای کې لاره د غرونو منځ، او کوم ځای کې هلته دلته له غرونو څخه په څنډه لاره ايستل شوې، او دومره تنګه ده، چې دوه موټر په مشکله تېرېدای شي، او په څنګ کې يې بيا ژور خوړ، چينه، يا کنده ده، که موټر چلونکی د يوې ثانيې لپاره هم بې پروايي وکړي، نو د موټر او سپرليو هډوکي به هم معلوم نه شي، د غره ييزو لارو تاو و پيچ دومره دی چې په هر کونج کې دا ويره وه که کومه لارۍ يا موټر له دې لارې مخې ته راشي، نو جنګيږي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت دا دی که چېرې پوه او خواریکښ موټر چلوونکی نه وي، نو روغ رسېدل مشکل دي، د دې لوړې ژورې او کنډوکپر لارې په لیدو سره د سعدي دا درویشانه کیفیت شعر راپه زړه شو چې:

گهی بر طارم اعلی نشینم

گهی بر پشت پای خود نه بینم

لنډه دا چې د دې خطرناکې او لوړې ژورې لارې څخه په تېرېدو سره د ماښام مهال هغه ځای ته ورسېدو، چرته چې د کابل پر سیند بند جوړ شوی، او اوبه له لوړې ژورې ته بهیږي، دلته نږدې یوه ابادي وه، چې شاید نوم یې خاک جبار[۱۴] دی، اوله دې وروسته لاره تر ډېره ځایه داسې ده، چې پاس غرونه، او لاندې سرک دی، او له هغې لاندې بیا له لوړو ژرو سره لاس او گریوان د چینې په څېر د سیند اوبه بهیږي، په دې وخت کې هم موږ له کابل څخه تلونکي له سپرلیو او توکو څخه ډکې لارې لیدلې.

پایله کې له کابل څخه پنځلس میله لرې د بت خاک[۱۵] سیمه راورسېده، مطلب دا چې دا د کابل بندر دی، د پخواني ډول یو ښه بازار دی، زیاتو خلکو هم تگ راتگ کاوه، دلته د لارې پر سر موټر د یو کور مخې ته ودرېد، معلومه شوه، چې دلته کابل ته د تگ پر مهال محصول اخستل کیږي، له دې ځایه د کابل پر لور سرک اوار، او پاک دی، دواړو خواوو ته یې چینې بهیږي، او غالباً دواړو خواوو ته یې د چینار ونې کېنول شوې وې.

---

۱۴-خاک جبار د کابل ولایت یوه ولسوالۍ ده.

۱۵-بتخاک د خاک جبار ولسوالۍ یو اړوند کلی دی، چې اوسمهال د کابل له ښار سره ډېر نږدې ځکه موقعیت لري، چې د کابل ښار خورا پراخه شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره چې ښار رانژدې کېدو، رڼا زياتېده، اوس د کابل د تلاشۍ او محصول مرکز راورسېد، دلته د موټر لمبر، د چلوونکي نوم، د مسافر نوم، او نور ثبتيږي، چې موږ هم ثبت کړل، دلته تلفون راوشو، چې د حکومت ځينې استازي د ښه راغلاست لپاره راځي، څو دقيقې بايد انتظار وکړئ، څو دقيقې نه وې تېرې، چې له شا خوا يو تېز رفتار شاهي موټر راغی او ودريد، څو تنه راښکته شول، چې يو يې د بهرنيو چارو وزارت، او بل يې د تعليم وزارت استازی و، يو دوه نور ښاغلي هم و، هغوی په ښه رويه ښه راغلاست ووايه، او د خپلو خپلو وزارتونو له خوا يې د ميلمه پالنې الفاظ اداء کړل، زه يې خپل موټر ته بوتلم، او ښار ته داخل شوو.

شپه وه، د ښار ډېرې برخې په برېښنا روښانه وې، ځينې ودانۍ يو څه لوړې، او شانداري وې، سرک پاک او هوار و، پوليس په ښه لباس ملبس وو، د تګ راتګ او نظم لپاره ولاړ وو، له زوړ کابل څخه تېر شوو، او د کابل نوي ښار ته ورسېدو، هلته دار الامان ته راوستل شوو، کومه ماڼۍ چې امير امان الله په خپل حکومت کې په نوي طريقه جوړول غوښتل.

دلته د اروپايي انجنيرانو په سرپرستۍ سره د نوي طرز او طريقې پنځه شپږ دولتي ودانۍ جوړې شوي دي، او هره ودانۍ څو څو منزله ده، په دې ودانيو کې يوه په زړه پورې ودانۍ شاهي ميلمستون دی، موټر د همدې ميلمستون مخې ته ودرېد، ټول ښکته او باغ ته ننوتو، د دې باغ په دروازه کې مو هغه څوک وليد چې زموږ په څېر نويو راغلو ميلمنو پالنه کوي، د هغه نوم سرورخان او ګويا يې تخلص و، دا د مرحوم امير عبدالرحمن خان د وخت د مشهور سردار عبدالقدوس خان لمسی دی، عمر يې شا او خوا پنځه ويشت دېرش کاله دی، پر فارسۍ سربېره په عربۍ او انګليسي هم خبرې کولای شي، د شعر او شاعرۍ لوړ مزاج لري، په فارسۍ کې به داسې کم شعرونه وي، چې سرورخان ته به زده نه وي، د شعر العجم او د ميرزا مظهري د خريطه جواهرات ټول منتخب اشعار ورته په يادو زده دي، فکر کيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پنځه ویشت دېرش زره شعرونه به یې زده وي، د ښه رویې، تېز ذهن، عالي مزاح، د یادښتونو حافظ، او د قلمي کتابونو زده کونکی دی، په فارسي ښه لیکل کولای شي، د کابل د شاهي ادبي انجمن (چې هغې ته رایل اکاډمي ویل پکار دي، او اوسني حکومت جوړ کړی دی) غړی دی، د کابل په مجله کې یې مضامین چاپیږي.

څنګه مې چې سرورخان ولید ورته مې وویل (در کابل دیده بودم، و اکنون در کابل مي بینم)[۱۲] هغه زما له دې جملې خوند واخیست، زه یې له ځانه سره د میلمستون دوهم پوړ ته بوتلم، چرته چې زموږ مخکې رسېدلو ملګرو اړولي وو، او یوه خونه یې ماته ځانګړې کړای شوې وه، دلته لومړی د میلمستون له مدیر سره وپېژندل شوو، او بیا مو ډاکټر اقبال او نواب سرراس مسعود سره وکتل، سر راس مسعود سره پروفیسر هادي او ډاکټر سر اقبال د لاهور غلام رسول خان بیرسټر د سکرتر په توګه میشت و، له هغوی سره مو لیدل وشول.

پروفیسر هادي زما پخوانی ملګری دی، له هغه سره له دولسو کلونو راهیسې لیدل کتل کیږي، د مرحوم نواب محسن الملک وراره دی، لومړی د ساینس لپاره انګلستان ته تللی و، له راتګ وروسته یې په جامعه ملیه[۱۷] کې واړول، هلته یې د ساینس ټولګې ته پرمختګ ورکړ، بیا مسلم پوهنتون ته ولاړ، فارسي په یو ډول د هغه مورنۍ ژبه ده، ایراني فارسي، او په ایرانۍ لهجه ښه فارسي وایي، الله تعالی ښه مردانه ښایست، او برابره ونه ورکړې، اوس یې له لندن څخه په فارسي کې د دوکتورا سند تر لاسه کړی، په ایراني بیړۍ چلولو یې په انګریزي ژبه کې یو کتاب هم لیکلی دی.

۱۲- له اول "کابل" څخه د کابل مجله او له دوهم "کابل" څخه د کابل ښار مطلب دی (لیکوال).

۱۷-جامعه ملیه اسلامیه د هندوستان په پلازمېنه ډیلي کې یو پوهنتون دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلام رسول خان له نن څخه ځلور ويشت کاله مخکې د امير حبيب الله خان په زمانه کې په کابل کې د زده کړو لپاره څو کاله اوسېدلی دی، له همدې کبله د ملګرتيا له کبله ټول خوښ شوو.

په هر حال، کله مې چې له دې ښاغلو سره ليدل وشول، نو ما هغوی ته وويل دا چې تاسې زه پرېښودم، په دومره بېړه مو سفر پيل کړ، د اردو دا شعر مې په ټوله لاره يادېدو چې:

يار ان تېزګام نې منزل کو جا ليا

هم محو ناله جرس کاروان رهی

ټولو وويل داسې ښکاري، چې دا شعر يې همدې ورځې ته ويلی و.

د شپې نهه بجې وې، ميلمانه صدر اعظم سردار هاشم خان بللي وو، د هغه له خوا تليفن وشو، چې نوی راغلی ميلمه دې هم ورسره يوځای شي، ټول چمتو شوي وو، د نه ځنډېدو له کبله زه هم بې له دې چې د سفر کالي بدل کړم، په همدې حالت کې له هغوی سره ملګری شوم، موږ په دوه موټرو کې روان شوو، په يو موټر کې زه، ډاکټر اقبال، او سرورخان، او په بل کې سرراس مسعود، پروفيسر هادي، او غلام رسول خان سپاره شوو، لږه شيبه وروسته د صدر اعظم صاحب ماڼۍ ته ورسېدو، د ماڼۍ په هره برخه کې د برېښنا روښنايي وه، ځای ځای د پوځيانو پهرې ولاړې وې، د يوې دروازې مخې ته ښکته شوو، نور ټول ميلمانه رسېدلي وو، موږ تر ټولو وروسته ورسېدو، په ماڼۍ کې هر څه د اروپا په طرز او طريقه جوړ شوي وو، له يو کوشکن نه تېر، او يو پراخه دالان ته ورسېدو، له ټولو سره مو پېژندګلو او ليدنه وشوه.

په ميلمنو کې مې چې اوس د چا نومونه ياد دي هغه دا دي: سردار شاه محمود خان د حرب وزير، شهزاده اسد الله خان د شاهي پوځ قوماندان، سردار فيض محمد خان د بهرنيو چارو وزير، سردار احمد خان د دربار وزير، الله نواز خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوائد عامه وزیر، میر عطاء محمد خان د پارلمان مشر (د مجلس اعیان صدر) او داسې نور.

له څو دقیقو وروسته صدر اعظم سردار هاشم خان راورسېد، لوړه ونه، ښکلې څېره، غنم رنګ، متوسط بدن، په فرانسوي ډول جوړه رېږه، په سر یې افغانۍ خولۍ، په غاړه افغاني کورتۍ او پتلون، په نوي افغانستان کې د امیر حبیب الله خان له زمانې څخه له سر پرته په نور ټول بدن اروپایي لباس رواج دی، دلته ټول هغه که با سواده وي، که دولتي مامورین وي، پوځي، پولیس، امنیت، او تر دې چې خادمان او دولتي موټر چلوونکي هم همدا لباس اغوندي.

هاشم راغلو، له میلمنو سره یې په لاس سترې مشې وکړه، سردار فیض محمد خان یو په یو د هندوستاني میلمنو تعارف وکړ، او له دې وروسته سردار هاشم خان ټول له ځانه سره کړل، او د خوراک خونې ته ولاړو، خوراک په مېز او چوکۍ و، هر څه په اروپایي طریقه جوړ شوي وو، د خوراک ویشلو مسئولین په تور لباس کې وو، په لاسونو کې سپینې دستکشې، او په سر افغانۍ خولۍ، د خوراک مدور میز په بیلا بیل ډول انګورو، میوو، او ګلدانونو ښایسته شوی و، د خوراک مهیا کولو طریقه، د خادمانو ادب او سلیقه هر څه د نوې متمدنې نړۍ په کچه برابر و، او د ډاکټر اقبال په وینا موږ ته تعجب و چې ایا موږ د افغانستان په کابل ښار کې یو او که د نوي تمدن په نوي ځای کې.

د مېز پر سر بیلا بیل ډول خبرې پیل شوې، سرورخان ګویا زما خوا ته اشاره وکړه، او ویې ویل مولانا وایي چې په کابل مجله کې د افغانستان د ډېریو علماوو، شاعرانو، او د کمال څښتنانو حالت چاپیږي، خو دا یادونه تر اوسه نه ده شوې، چې لومړی په کابل کې چا د اسلام دعوت پیل کړ، ټولو وپوښتل هغه څوک دی؟

ما وویل د خراسان عام جنګیالی ابن حیان، چې د ابو مسلم خراساني څخه وتښتید، او دلته راغلو، او له همدې ځایه د افغانستان په تاریخ خبرې پیل شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې موضوع سردار فیض محمد خان چې د اماني دورې د تعلیم وزیر، او اوس د بهرنیو چارو وزیر دی، دومره له معلوماتو ډکه وینا وکړه، او د هندوستان د موریا خاندان [18] او د پنجاب د پخوانیو سلطنتونو او افغانستان د اړیکو یادونه وکړه، دا تفصیلات یې په دومره ښه انداز سره وړاندې کړل چې زه یې په خپلې ستاینې مجبور کړم، سرراس مسعود په دې علمي دسترخوان جاپان ته د خپلو سفرونو حالاتو په بیانولو سره نور خوند پیدا کړ، او ډاکټر اقبال د فلسفې او سیاست نکتې بیان کړې.

په دې مهال راته معلومه شوه چې د پارلمان مشر میر عطاء محمد خان په نولس سوه شپږ ویشت کې په مکه معظمه کې په اسلامي کنفرانس کې د افغانستان له سفیر سره ملګری و، او هغه وویل چې زه یې هلته لیدلی وم، خو ماته له هغه سره لیدنه یاده نه شوه، ډېر متین، سنجیده او غلی مشر دی، ښکلې ږیره لري، عمر یې د پنځه پنځوسو او شپېتو کلونو شا او خوا کې دی، د عربي هیوادونو څخه یې لیدنه کړې، روانه عربي وایي.

د حرب وزیر (دفاع وزیر) شاه محمود خان د شهید نادر خان تر ټولو کشر ورور دی، اوس ځوان دی، خو ماشاء الله صالح ځوان دی، په هغه کې د ګرانۍ او محبوبیت نښې ښکاري، هغه په خپله پوځي یونیفارم کې و، او شهزاده اسد الله خان هم په پوځي لباس کې و، دا د شاهي پوځي ټولي قوماندان دی، امیر حبیب الله خان مرحوم د خلف امیر امان الله خان ناسکه ورور، د نادرخان او هاشم خان او نورو خوریی دی، اوس یې عمر کم دی، خو په تندي کې یې د نېکمرغۍ رڼا ښکاري، شا اوخوا د پنځه ویشتو کلونو دی.

---

[18] -مائوریا په هندوستان کې یوه واکمنه کورنۍ تېره شوې، چې له مېلاد مخکې له ۳۲۱ څخه یې تر ۱۸۵ پورې واکمنې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د خوراک په ملګرو کې د الله نواز خان یادونه ضروري ده، شونې ده ځینو ته یاد وي، چې د نړیوالې جګړې پر مهال د اسلامي کالج لاهور دولس محصلین له پولې اوښتي وو، له هغوی څخه یو دا هم و، اصلاً افغان دی، خو له ډېرې مودې یې کورنۍ ملتان کې اباده ده، په دې اساس هغه هم افغان او هم هندوستانی دی، د سقاو د پاځون پر مهال لومړی کس چې نادرخان سره یې مرسته کړې وه، همدا و، د یو مجاهد په توګه یې د سرحد په ځینو قبایلو ځاص اغیز و، هغه له همدې قبایلو څخه درې کسان راواخستل او نادرخان ته راغلو، او د همدوی لومړی ټولی و چې له شا ولي خان سره کابل ته ورسېدل، اوسنی حکومت د هغه د خدمتونو پوره قدر کوي، او بیلا بیلې دندې یې ورته سپارلې دي، هغه اوس د فواید عامه وزیر دی، غوښن بدن، کوچنۍ ږېره، غنم رنګی، له ږېرې یې خپلواکي او عزم ځاځي.

له خوراک وروسته د ملاقات لومړۍ خونې ته راغلو، چای، سګرټ، او نور وړاندې کېدل، سردار هاشم خان وویل چې د سندرو په اوریدلو خو بد نه ګڼې، ما وویل چې له ساز پرته به څه ستونزه نه وي، هغه ممکن د ساز په لفظ پوه نه شو، ویې ویل (دلته نڅاګرې نه وي، نارینه سندره وایي) ډاکټر اقبال یې تایید وکړ، او بیا د قوالانو یا پوځي ترانې ویلو یوه ډله راغله، دې ډلې اداب وړاندې کړل، او په قالین کیناسته، سندره ویل یې پیل کړل، په هندوستان کې خو د بیدل ډېره پوښتنه کیږي، مګر افغانستان او د منځنۍ اسیا د نورو فارسي ژبو هیوادونو کې د بیدل زیات قدر کیږي، هغوی هم د ببدل غزل پیل کړه، بیا یې د حافظ یو دوه غزلې وویلې، بیا یې بیدل پیل کړ، د لږ وخت لپاره دا مجلس ګرم و، په پای کې ټولو د کوربه مننه وکړه، او ټول میلمانه د شپې په یوولس بجې رخصت شول.

سبا ورځ جمعه وه، غوښتل مو د اسلامي هیواد د جمعې ورځ وګورو، سهار بیلا بیل ملګري د لیدنو لپاره راغلل، هندوستانیان هم پکې و، دولتي کسان، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

باسواده خلک هم، د افغانستان او هندوستان تر منځ شا او خوا یو ساعت وخت توپیر شته، د افغانستان وخت یو ساعت وروسته دی، ما د خپل ساعت وخت نه و بدل کړی، نورو ملګرو یو ساعت وروسته کړې وه، دولس بجې وروسته د لمانځه وخت شو، مرحوم نادرخان به په بیلا بیلو مسجدونو کې د جمعې لمونځ اداء کاوه، خو په دې ورځ د ښار تر ټولو ستر مسجد پول خشتي کې د جمعې لمونځ کېدو، موږ هم دې مسجد ته ورسېدو.

کله چې پر امیر معاویه د دمشق په مسجد کې یو خارجي برید وکړ، له هغه وخته په مسجدونو کې د اسلامي حکمرانانو دا رواج دی، چې یوه خوندي خونه د بادشاه لپاره جلا شوي وي، کله چې امیر معاویه دا بدعت پیل کړی و، نو د هغې خونې نوم (مقصوره) و، خو معلومه نه ده چې افغانستان کې دې خونې ته څه وایي، په هر حال، په دې جامع مسجد کې هم دا مقصوره کوټه جوړه شوې وه، او د افغانستان پاچا هم په دې کې لمونځ اداء کاوه.

پل خشتي د یو پول نوم دی، چې د لرګي پر ځای له خښتو جوړ شوی دی، له همدې کبله ورته پول خشتي وایي، او په همدې اساس دې مسجد ته هم جامع پل خشتي نوم اخستل کیږي، دا مسجد د کابل په پخواني ښار یو تنګ بازار کې موقعیت لري، سره له دې چې مسجد پراخه و، خو د هندوستان د مسجدونو په څېر په زړه پورې نه و، له دروازې څخه تر محراب پورې له لمونځ کوونکو ډک و، د بې وزله مسلمانانو کمی نه وه، له ظاهري حالت څخه روښانه وه، چې دهیواد مالي حالت ښه نه دی، ټول په پخوانیو افغاني جامو کې و، په منبر یو افغان مولوي صاحب په فارسي کې وعظ کاوه.

موږ یې شاهي مقصوره ته بوتلو، هلته نور ځانګړي خلک هم له پخوا موجود وو، لږ ساعت وروسته نادرخان شهید تشریف راوړ، ډنګر بدن، دنګه ونه، تور والي ته مایل رنګ، لیکې لیکې کمیس، او په پښو بوټان، پر سر خولۍ او پګړۍ، په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپيني دستشکې، مسجد ته په ډېرې سادګۍ داخل شو، خلک ټول په خپلو ځايونو ناست و، يعنی له کومو صفونو چې تېر شو، هلته خلک د ده احترام لپاره ونه درېدل، او نه واعظ خپل وعظ بند کړو، د موحدو مسلمانانو دا رويه څومره اغېزناکه ده، چې د خدای په کور کې له خدای څخه بل هيچاته احترام نه کوي، کله چې هغه د مقصوره دروازې ته راغی، نو سترګو مو يو داسی منظر وليد، چې د اسلام د مساوات د عملي ښېلګې په توګه به مو په زړه کې ساتلی او خوندي وي.

کله چې د مقصوره دروازې مخې ته راورسېد، نو يو لوړ دنګ بې وزله سپين ږيری له خپله ځايه پورته شو، او هغه ته يې ځان ورساوه، د هغه پر سر عربي دستمال تړلی و، کله چې ورسېد، د پاچا مخ يې ښکل کړ، (افغانستان کې د مينې د اظهار په توګه يو د بل مخ مچوي) مرحوم شاه هم په همدې مينه د هغه مخ ښکل کړ، او هغه يې له ځانه سره مقصوره ته دننه کړ، خپلو ساتونکو ته يې وويل چې ده ته هم په لومړي صف کې ځای ورکړي، دننه يې له موږ ټولو سره وکتل، دا چې له ما سره يې لومړۍ ليدنه و ه، له همدې کبله زه ورسره سردار فيض محمد خان معرفي کړم، لاس يې راکړ، او په ډېره تواضع او خاکسارۍ يې زما پوښتنه وکړه، خپل څنګ کې يې ځای راکړ، او لږ وروسته وعظ ختم شو، اذان وشو، وروسته ټول د ستنو اداء کولو لپاره ودرېدل، بيا دوهم اذان وشو، خطيب په عربي کې خطبه پيل کړه، په دوهمه خطبه کې چې خطيب د شاه غازي او مجاهد شاه نادرخان نوم واخيست، نو ما وليدل چې مرحوم په خپلې سينې لاس ايښی، او د تواضع له کبله يې خپل سر ټيټ کړ، د هغه دا اداء زما ډېره خوښه شوه.

د جمعې لمونځ، او سنت مو اداء کړل، خلک په خپلو ځايونو ناست و، امام دعا وکړه، او ټولو د امين لپاره لاس پورته کړل، له لمانځه وروسته شاه مرحوم يوه بله اغېزناکه نظاره وړاندې کړه، هغه کمزورې سړی يې راوغوښت، اوموږ ته يې وويل چې دا سيد دی، او نيک سړی دی، له ما سره له پخوا بلد دی، بيا يې هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چې دعا وکړه، چې اسلام سربلند شي، او دا چې د مسلمانانو څومره خدمت کولای شي، الله هومره نیک توفیق ورکړي، په سر کې خو هغه پوه نه شو، چې شاه مرحوم څه وویل، شاه بیا همدا خبره وکړه، هغه د دعاء لپاره لاسونه پورته کړل، له شاه سره موږ هم لاسونه پورته او امین وکړل.

بیا ټول پورته شول شاه مرحوم موږ میلمنو ته وویل چې «ما هم تر اوسه ډوډۍ نه ده خوړلې، که ستاسې خوښه وي، نو ډوډۍ به یو ځای وخورو»، خو د نورو اړینو کارونو له کبله موږ ټولو معذرت وغوښت، هغه له ټولو سره بیا مخه ښه وکړه، او د موټر خواته ولاړ، او د هغه د ساتونکو موټر د هغه تر شا روان شو.

زموږ لپاره چې د غلام هیواد اوسیدونکي یې، د شاه او ګدا د یوشان والي نظاره ډېره اغېزناکه وه، ډاکتر اقبال وویل، زه نن پوه شوم، چې دار الحرب کې د جمعې لمونځ ولې نه شته؟ ما وویل ډاکټر صاحب لکه چې تاسې د اسلام د نظریې په توګه ویلي و چې:

ایک هي صف می کړی هوګیی محمود و ایاز
نه کویی بنده رها اور نه کویی بنده نواز

تا نن عملاً د دې انځور ولید، که د غزني لوړ دربار دې نه دی لیدلی، نو د کابل کوچنی دربار خو دې ولید، هغه وویل هو ومې لیده.

# چینایي ترکستان

د جمعې له لمانځه وروسته له ما او ډاکټر اقبال سره یو بل مسئول او باخبره کس هم ملګری و، له هغه سره مو د چینایي ترکستان د پېښنو په اړه خبرې کېدې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چينايي ترکستان او افغانستان پولې سره نښتې دي، راته څرګنده شوه، لکه څنګه چې د هندوستان په سرحدي سيمو کې قبايل شته، دلته هم قبايل دي، چې له چينايي ترکستان سره اړيکې لري، له دې قبايلو څخه شا او خوا پنځوس زره افغانان له ترکي مجاهدينو سره شريک دي، دا هم راته روښانه شوه، چې که چېرې د دې مجاهدينو حکومت ته کمه بريا هم په برخه شي، نو د روسيې حکومت يې منلو ته چمتو دی، سربېره پر دې د بخارا پخوانی والي يې د دوی لپاره د سفير په توګه ټاکلی دی. دا هم روښانه شوه، چې د ترکي مجاهدينو د دې تحريک په وړاندې خطرونه د چين د حکومت پوځي قوت نه، بلکې د مسلمانانو خپلمنځي نفاق يې لامل دی، او د چين له لوري چې څوک د جګړې لپاره راغلي دي، هغه هم (تنګيا) يعنی چينايي مسلمانان دي.

## د منځني ختيځ مرکزيت او اسلام

په دې وخت کې ډاکټر صاحب ډېره عجيبه خبره وکړه، چې حالاتو ته په کتو يې تمه کېدای شي، هغه وويل چې اروپا د پرمختګ په دې پړاو کې خپل ټول قوت په سمندري ځواک مصرف کړی، د هر ډول سوداګرۍ او سياحت د تګ راتګ لارې يې په سمندرو جوړې کړي، د خپلو همدې بېړيو په واسطه يې ختيځ له لوېديځ سره وصل کړی دی، خو اوس داسې ښکاري، چې د سمندري لارو دا حيثيت به ژر ختم شي، راتلونکي کې به لوېديځ او ختيځ د منځني ختيځ له لارې سره وصل کيږي، او د اوبو پر ځای به وچه لاره د اهميت وړ وګرځي، او د ختيځ او لوېديځ تر منځ به سوداګريزې قافلې د موټرو، لاريو، الوتکو، او ريل ګاډيو له لارې تګ راتګ کوي، او دا چې دا ټوله لاره د اسلامي هيوادونو څخه تېريږي، په همدې اساس په دې اسلامي هيوادونو کې به ستر اقتصادي او سياسي انقلاب رامنځ ته کيږي، له دې کبله به د پخوا په څېر افغانستان ته يو ځل بيا د نړۍ د لويې لارې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه اهمیت ورکول کیږي، نو ځکه دې حالت ته سر له اوس څخه چمتوالی نیول پکار دي.

د دې نظریې د ثبوت لپاره حالات زموږ په مخ کې دي، له پېښور څخه کابل ته، له چمن څخه کندهار ته، له کابل څخه مزارشریف او هرات ته، له کندهار څخه هرات ته موټرې تګ راتګ کوي، له هغې ځایه به یا د بخارا لاره تاکل کیږي، او یا به د ایران څخه تېرېږي، لومړی به د منځني ختیځ خلکو د حج د سفر لپاره د وچې لاره کاروله، د اکبر له زمانې بیا د هندوستان له بندرګاوو څخه تلل، خو د انګریزانو په زمانه کې د افغانستان او ترکستان خلک؛ بلکې د ډېریو ختیځو هیوادونو مسلمانان هندوستان ته ځي، او له هغه ځایه د سمندر له لارې مکې معظمې ته سفر کوي.

که د وچې لاره یو څه جوړه شي، نو باور وکړئ، چې دا حاجیان به بیا د وچې لاره خوښوي، او دا خلک به لومړی افغانستان یا بلوچستان ته ځي، له هغه ځایه ایران، بیا عراق، له عراق څخه نجد او له نجد څخه به د حجاز لاره پرانیستل شي، دا هماغه لاره ده چې د خلفاوو او اسلامي بادشاهانو په زمانو کې کارېدله، دا چې اوس په هندوستان کې هم د وچې له لارې د حج د سفر لپاره چمتوالی نیول شوی، د همدې راتلونکي پیل دی.

## خوراکونه:

دار الامان ته په رسېدو سره په دسترخوان له لمړي سر څخه ښوروا او نور انګریزي ډول خوراک و، خو وروسته بیا هماغه ختیځ، بلکې هندوستاني خوراکونه و، په خوراکونو کې د هندوستان او افغانستان تر منځ توپیر نه لیدل کیږي، یوازې دومره چې دلته مرچک نه خوړل کیږي، او د پلاو ډولونه، غوښه او کتغ هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوستان په څېر و، د يو نوي ډول پلاو نوم يې راته مستان وويل، يوازې دال هغه څه دي، چې له هندوستان څخه بهر نه موندل کيږي، افغانستان کې هم نه شته.
د خوراک پر سر خاکسار، ډاکټر اقبال، سرراس معسود، پروفيسر هادي، غلام رسول خان، سردار فيض محمد خان، الله نواز خان او سرور خان خبرې کولې.

## حضرت نور المشايخ:

ډاکټر صاحب څلور بجې د حضرت نور المشايخ سره د ليدنې وخت ټاکلی و، زه هم ورسره ولاړم، دا حضرت نور المشايخ هماغه دی، چې په هندوستان کې د شور بازار په ملا مشهور دی، اصلي نوم يې فضل عمر دی، د مجددي طريقې شيخ دی، په کابل ښار، قبايلو، او شاهي پوځ کې يې زيات مريدان شته، په ۱۹۱۸ زېږديز کال کې د افغانستان او انګريزانو په جګړه کې دی هم د مرحوم جنرال نادرخان سره په جهاد کې شريک و، او قبايل به يې په خپل اثر او رسوخ او تقريرونو سره په افغان لښکر کې ګډون ته چمتو کول، د افغانستان د ازادۍ په جګړه کې د هغه زياته ونډه وه.
هندوستان کې هم د هغه مريدان شته، په (کاټيا واړ)[۱۹] کې ځينې پښتانه د هغه مريدان دي، چې د شاه امان الله خان د واکمنۍ په وروستيو کې راغلي وو، او ويل کيږي، کله چې امان الله خان د اصلاحاتو د راوستلو پر مهال د منځلارۍ له پولې پښه واړوله، نو شيخ له شاه خفه شو، له افغانستانه بهر ولاړ، او ژمنه يې وکړه، تر کله چې امان الله هلته شته، دا به رانه شي، د بچه سقاو په ټوله موده کې هم هندوستان کې و، ورور يې هم هڅه وکړه چې بېرته يې ستون کړي، خو هغه انکار وکړ، او د نادرخان له بريا وروسته افغانستان ته راغی، حکومت يې ښه استقبال

[۱۹]-کاټيا واړ د هندوستان يوه ټاپووزمه ده، چې د عرب سمندرګي په څنډه موقعيت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ، او د عدليې وزير يې وټاکه، د هغه ورور محمد صادق خان مجددي يې مصر ته د سفير په توګه واستاوه.

په اغلب ګومان چې اوسني حکومت هغه ته د حضرت نور المشايخ لقب ورکړی، او اوس په همدې نوم ياديږي، حضرت صاحب شوربازار هم ورته وايي، د لږ وخت لپاره يې د عدليې د وزير په توګه کار وکړ، خو بيا يې دا دنده د خپلې ملنګۍ او لاربنوونې د طريقې د مسلک خلاف وبلله، او دنده يې خوشې کړه، سره له دې چې حکومت يې عملاً استعفاء منلې وه، خو اوس هغه د عدليې وزير، زوم يې مولانا فضل احمد مجددي د عدليې وزارت مرستيال و، او تر اوسه هغه د دې وزارت کارونه پر مخ وړل.

د شيخ صاحب کور د کابل پخواني ښار په يوه کوڅه کې دی، موټر په کوڅه کې دننه ولاړ، او په يو کونج کې ودريد، زه او ډاکټر صاحب کوز شو، په کوڅه کې مخکې ولاړو، خو افسوس چې کوڅې پاکې نه وې، د بيت الخلاء د جوړولو طريقه هم ښه نه وه، د يو کور مخې ته ودرېدو، ځينې نور خلک هم منتظر وو، کور له هر ډول جوړښت، ښکلا، او ظاهري ښايسته خالي و، بيخي درويشانه و، بهر د کېناستو ځای هم نه و، د مېرمنو ځای هم دلته و، هغوی پرده وکړه، او موږ ته د داخليدو اجازت راکړل شو، مولانا فضل احمد موږ يوې اوږدې خونې ته بوتلو، چې يو اړخ ته يې يو تخت پروت او ساده فرش پکې وېړ و، ملا صاحب پر تخت ناست و، موږ په فرش کېناستو، ملاصاحب د بدن له لحاظه زموږ له مولانا شوکت علي نه کم نه و، تر اوسه يې د سر اوږېرې ويښته تور و، پښو کې يې څه تکليف و، ځکه اوس له ګرځېدو معذور و، له ډاکټر صاحب سره يط يو ځل په لاهور کې کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې وه، له ما سره يې لومړی ملاقات و، له ما يې پوښتنه وکړه، چې ستا اصلي وسن بهار [۲۰] دی؟ ما ورته وويل هو.

هغه د هندوستان اکثره علماء پېژندل، زما د نوم له کبله يې د مولانا شاه سليمان پهلواردي پوښتنه وکړه، ما ورته د خپلې کورنۍ خصوصيات تشريح کړل، بيا ما ورته وويل چې تاسې د بهوپال حضرت شاه ابو احمد مجددي رحمة الله عليه پېژنئ، هغه وويل هو، ما ورته وويل چې زما مرحوم ورور مولانا حکيم سيد ابو حبيب مجددي د هغه خليفه و، بيا ما ورته په سرهند کې د حضرت مجدد صاحب رحمة الله عليه د درګاه د مسجد د امام حافظ فضل الرحمن ندوي سلام ورساوه، چې زما ملګری دی،نوموړي يې د سلام ځواب ووايه.

د سرهند په يادولو سره مو د لږ وخت لپاره د هندوستان په حالاتو، او د بچه سقاو له پاځون څخه د خلاصون په اړه خبرې وکړې، بيا چای راوړل شو، او په يو لوښي کې وچه ميوه (بادام او انځر) د تحفې په توګه ډاکټر صاحب ته وړاندې کړل، او موږ رخصت شولو.

## هندوستاني ګوند:

له دې ځايه نېغ په نېغه د الله نواز خان ځای ته ولاړو، افغانستان کې د هندوستانيانو ستره ډله شته، ډېری يې د حکومت په مختلفو دندو ټاکل شوي دي، دوه پکې د لوړو دندو والاصاحب منصبان دي، چې يو شاه جي سيد عبدالله نائب سالار دی چې اصلاً د پېښور اوسيدونکی دی، د هجرت په وخت کې افغانستان ته تللی، حکومت يې درناوی وکړ، او لوړه څوکۍ يې ورکړه، دويم الله نواز خان دی، چې مخکې يې يادونه شوې ده، دا لومړی په شاهي اداره کې د

[۲۰]-بهار د هندوستان په ختيځ کې يو ايالت دی، د وګړو د شمېر له پلوه د هندوستان درېيم ستر ايالت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړي یاور په توګه ټاکل شوی و، او اوس د ټولګټو چارو وزیر دی، نور هندوستانیان په علمي، تعلمي، او اداري برخو کې دندې تر سره کوي.
د یادونې وړ یو ځوان مقبول الحق غازي پوري دی، دا د غازي پور[۲۱] ښار سره نږدې د یو کلي (بخشو پوره) اوسیدونکی دی، د هندوستان د علي ګړ مسلم پوهنتون د ایف ایس سي محصل و، په ۱۹۲۱ زیږدیز کال کې یې هغه ځای خوشې کړ، د مولانا محمد علي مرحوم جامعې ته ولاړ، او بیا به یې د ترک موالات د تبلیغاتو لپاره کار کاوه، په دې موده کې په افغانستان کې د ځینو استادانو د اړتیا اعلان په هندوستان کې خپور شو، ده هغه اعلان لوستی او غوښتنه یې کړې وه، چې منل شوې وه، او له هغه وخته تر اوسه د دې هیواد خدمت کوي، دا لومړی د معلم په توګه افغانستان ته راغلی و، خو د خپلې خوارۍ او مطالعې په نتیجه کې یې د ګوګړ جوړولو په برخه کې ترقي وکړه، د اور قطیو او بارود جوړ ولو په دولتي کارخانو کې داخل شو، او د خپلې خوارۍ په پایله کې د اور قطیو جوړلو حکومتي کارخانه د پخواني الماني ماهر په پرتله په ښه بریالیتوب سره چلوي، دلته داسې نور هندوستانیان هم شته.
دې هندوستانیانو نن د میلمنو په ویاړ، د الله نواز خان په ځای کې د ماښام د چای دعوت کړی و، د کابل ټول هندوستاني ورونه راټول شوي وو، چې زما په فکر شمېر یې له سل یو نیم سلو کم نه و، کله چې زه او ډاکټر صاحب ورسېدو، نو ډېر میلمانه راغلي و، د افغانستان د حکومت په استازو کې یوازې د بهرنیو چارو وزیر سردار فیض محمد خان موجود و، سرراس مسعود له موږ مخکې رسېدلی و، د دې ځای په داخل کې یو ستر میدان و، چې هلته دا مجلس جوړ شوی و، په

---

[۲۱]-غازي پور د هندوستان په اترپردیش ایالت کې یو ښار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ کې یې اوبو فواره وه، چې شا او خوا یې د میلمنو او خاصو کسانو د ناستې ځای جوړ و.

په میدان کې ځای ځای ښه په ترتیب سره میزونه ایښودل شوي وو، څلور خواوو ته یې چوکۍ وې، کیک، کولچې، میټایي او چای چمتو و، مولانا سیف الرحمن مجاهد (د ډیلي د فتح پوري پخواني مدرس) او مولانا منصور انصاري سره مو لیدنه وشوه، دوی ستر مجاهدین او مشهور قوماندانان دي.

مولانا سیف الرحمن لوی عالم دی، د ډیلي په فتحپوري مدرسه کې یې کلونه تدریس کړی، د لومړۍ نړیوالې جګړې پر مهال د هغه ځینې شاګردان، هغه خپله، مولانا عبید الله سندي، او ځینې نور علماء سرحد ته تللي وو، تر څو هلته له هندوستاني مجاهدینو سره مرسته وکړي، اوس دا خپله له کلونو راهیسې په کابل کې ګوښه ته ژوند کوي، او مولانا عبید الله سندي[۲۲] په حجاز کې میشت دی.

مولانا سیف الرحمن له خپله ځایه پورته شو، په ډېره مینه یې غاړه راکړه، زما په راتګ خوشاله شو، مولانا انصاري هم ډېر په جوش ښه راغلاست ووایه، په سرحد کې د شهید مولانا اسماعیل رحمة الله او سید احمد بریلوي معتقدین او پلویانو مجاهدینو ډلې مرکز چمرقند دی، اوس یې مشر مولانا بشیر دی، هغه هم دلته راتلو.

یوه ټوکه دا وشوه چې یو چا د اکتوبر په دې یخنۍ کې چې زموږ د دیسمبر د میاشتې سره برابره وي، د اوبو فواره پرانیسته، خو دا چې سید راس مسعود دا وخت زکام و، د هغه په وینا یې دا فواره بنده کړه، دا وخت سردار فیض محمد خان

---

۲۲- حضرت مولانا عبید الله سندهي صاحب په ۴۴ زېږدیز کال کې وفات شوی دی. انا لله و انا الیه راجعون (لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلمنو ته مخ کړ، او دا شعر یې ووایه، چې لومړی مصره یې د بل چا؛ خو دوهمه د ده خپله ده:

گوهر شهوار می سازد نثار مقدمت
ورنه از فواره مقصود دگر کی دارد آب

په موږ کې خو شاعر ډاکټر اقبال و، ملگرو له هغه وغوښتل چې ځواب ورکړي، هغه لږه شیبه وروسته لومړی مصره بدله کړه، او ځواب یې ووایه چې ماته پوره یاد نه دی:

......می شمارد قدر احسان شما
ورنه از فواره مقصود دگر کی دارد آب

له چای وروسته د ټولو انځور واخستل شو، عجیبه وه چې علماوو په دې هیڅ اعتراض ونه کړ، له دې وروسته د هندوستانیانو له اړخه مولوي بشیر د میلمنو د هرکلي وینا وکړه، چې لومړی یې د افغانستان د حکومت مننه وکړه، د اوسني حکومت ستاینه یې وکړه، له هندوستانیانو سره د حکومت د رویې مننه یې وکړه، او بیا یې د هندوستان حالاتو ته په اشارې سره وویل (چې د ناهیلۍ هیڅ لامل نه شته، بلکې له مصیبت وروسته راحت راځي)، د میلمنو له اړخه ځوابي تقریر ما وکړ، چې یوازې یوه فقره یې ماته یاده ده، چې ما خپلو هندوستاني ورونو ته په خطاب کې ووېل (د تاریخ په اوږدو کې هندوستان د افغانستان په معاملاتو کې څو ځلې د گناه ارتکاب کړی، اوس د دې وخت رارسیدلی دی، چې دا ورونه د ښه خدمت په کولو سره د خپلو گناهونو کفاره ورکړي).

له ما وروسته ډاکټر اقبال لنډ تقریر ورکړ، او په دې توگه مجلس پای ته ورسېد، موږ خپل میلمستون ته راغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بېرته ستنېدو پروګرام:

زما اراده وه چې په کابل کې څو ورځې پاتې شم، او بيا بېرته د پېښور له لارې ولاړ شم، خو معلومه شوه، چې سر راس مسعود د مسلم پوهنتون د اړينو کارونو له کبله څلورم نومبر ته بايد علي ګړه ته ورسيږي، او ډاکټر صاحب د غزني د زيارت هيله لري، له همدې کبله د بېرته ستنيدو لاره د غزني، کندهار، او چمن غوره شوه، د دې پخوانيو ښارونو د غير متوقع زيارت شوق ماته هم وشو، له همدې کبله مې په کابل کې د زيات پاتې کېدو فکر له سره وويست، او له نورو ملګرو سره مې په همدې لاره د بېرته ستنيدو اراده وکړه.

## د پوسته خانې له لارې ليک استول (ډاک):

له افغانستانه هندوستان ته په اونۍ کې دوه ځلې د پوسته خانې له لارې ليکونه ځي، د پوسته خانې اداره خپلې لارۍ لري، چې د هغې په واسطه پېښور ته ليکونه وړل کيږي، د اکتوبر په اته ويشتمه نېټه سهار پاڅېدو او لومړی مو هندوستان ته څو ليکونه وليکل، يو مې ورور حکيم عبدالعزيز ندوي ته وليکه، چې د لارې د بدلولو خبر مې ورکړ، او ورته مې وليکل، تر څو د صوبه سرحد د جمعية العماء ناظم خبر کړي، چې د هغه له خوا په جوړېدونکې جلسه کې ګډون نه شم کولای.

تر اوسه افغانستان کې د کارتونو او لفافو رواج نه شته، يوازې ټکټونه دود دي، ټيکټونه په بيلا بيلو نرخونو او رنګونو ښکلي دي، چې د کابل په حکومتي مطبعه کې چاپيږي، د ټيکټ په منځ کې د افغانستان دولتي بيرغ (محراب او منبر) انځور دی، تر لاندې ليکل شوي (پست دولت افغانستان) او پاس په فرانسوي ژبه ليکل شوي (پوسټس افغانيس)، په څنډو کې يې د ټيکټونو نرخ ليکل شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مو چې د بېرته ستنیدو اراده کړې وه، نو باید دلته مو په یو دوه ورځو کې د لیدلو وړ ځایونو څخه لیدنه کړې وای، زموږ له ځای سره نژدې د کابل موزیم و، په همدې اساس لومړی هلته ولاړو.

## د کابل موزیم:

دا موزیوم په دار الامان کې دی، د امیر امان الله خان له خوا جوړ شوی، د بچه سقاو په زمانه کې دې موزیوم ته هم زیان ورسېد، چې دلته کومې مجسمې وې، هغه یې بتان بللې، او مات کړي وو، ځینې شیان یې په شخصي توګه استعمال شوي وو، نادرشاه په خپله واکمنۍ کې دا موزیوم بېرته جوړ کړ، ځینې غلا شوي توکي یې په بیلا بیلو لارو بېرته تر لاسه کړل او دلته یې سره یو ځای کړل.

له سرور خان ګویا سره په یوولس بجې دې موزیوم ته ولاړو، د ډېرو ښه دوه منزله کوچنۍ ودانۍ وه، د ودانۍ طول ډېر او عرض یې کم و، ښکلې دروازه یې درلوده، په دروازه یو ساتونکی ولاړ او پهره یې کوله، د موزیوم له مدیر سره مو پېژندنه وشوه، او بیا د شیانو په لیدلو بوخت شوو، د لوړې دروازې په دواړو خواوو په دیوالونو د خطاطیو نمونې راځړېږي، لاندې ځینې ډېرېنې لیکلنې دیوال ته تکیه شوي، یو د شاه جهان ډبرلیک دی، چې په هغې کابل ته د شاه جهان د راتګ یادګار ښېته لیکل شوې ده، د دې ډبرلیک د عبارت نقل پروفیسر هادي چې وروسته راغلی و، اخستی دی، دویمه ډبرینه کتیبه د اورنګ زیب عالمګیر د کوم مسجد ده.

له دروازې وروسته په څو زینو پورته وختو، یو مستطیل ډوله څېره ده، چې دواړو خواوو ته یې کوټې وې، او په هره کوټه کې ځانګړي توکي ایښودل شوي وو، یوه د دفتر کوټه وه، په دې څېره یا برنډه کې له اسلام څخه د مخکې وخت بتانو مجسمې وې، ډیری پکې د بودا مذهب د وخت یادګار و، ځینې یوناني افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

طرز نمونې وې، دا ټولې مجسمې په افغانستان کې کیندل شوې او راوړل شوې وې.

یوه کوټه د پخوانیو انځورونو وه، چې د ډېرو پخوانیو امیرانو او سلاطینو انځورونه پکې وو، په یوه خونه کې د افغانستان پخوانۍ وسلې ایښې وې، خول، چار اینه، سپر، توري، تیغونه، پخواني ټوپکونه، د چار اینې په اړه مو په مرثیو کې اوریدلی و، خو دلته مو ولیدل، دا په سینه تړل کېدونکی د وسپنې پوښ و، سرتېرو به د سینو د ساتنې لپاره تړل، د دې وسلو په لیدلو سره به حیران شوو، چې د وسپنې دومره ستر بوج بارول او بیا سرتیري جنګېدل، ماته وویل شول چې د بچه سقاو په زمانه کې له دې کوټې څخه دوه تاریخي او ارزښتمن توکي ضایع شوي دي، باور کیږي، چې دا دواړه شیان اروپا ته رسول شوي دي، او شاید یو د بابر خنجر و، او بل د سلطان بایزید یلدرم[۲۳] (زغره) وه.

په مجسمو کې یو تر ټولو عجیب شی چې د کافرستان[۲۴] (د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې فتح شوی نورستان) د پخواني مذهب یو بت و، له یو ځانګړي ډول غټ لرګي څخه تراشل شوي مختلف شکلونه و، تر ټولو ډاروونکی د جګړې دیوتا (د جګړې خدای) مجسمه وه، د لرګي دا ځواکمن هیکل په اس سپور ځواکمن او دنګ دیوتا و، په ورته توګه د نورو کارونو لپاره بیلا بیل دیوتاګان و چې مناسب شکلونه یې جوړ شوي وو، دا شکلونه د لرګي توږلو څخه نه، بلکې د لرګي بیلا بیلې برخې پرې شوي، او بیا یو له بل سره نښلول شوې جوړ شوي دي.

---

۲۳-لومړی بایزید د ترکیې د عثماني سترواکۍ څلورم سلطان و چې په بایزید یلدرم یې شهرت درلود -۱۳۶۰-۱۴۰۳م.

۲۴-د افغانستان د اوسني ولایت نورستان پخوانی نوم کافرستان و، هغه مهال یې ډېر اوسېدونکي مسلمانان نه و، دا ولایت د افغانستان په ختیځ کې موقعیت لري، چې د کونړ، لغمان، پنجشیر او بدخشان سره ګډه پوله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ستر تالار کې د ډبرې یوه غټه پیاله ایښودل شوې، چې شا اوخوا یې د کومې مدرسې یا خانقا د اوقاف سند په ښکلو حروفو کیندل شوی و، خو نه د دې ځای معلومات شته، نه د دې خانقاه، او نه د مدرسې، تر دې چې د دې ډبرین سند لوستل هم نن سبا اسانه نه دي.

په یوه بله خونه کې هغه پخوانۍ سکې وې، چې افغانستا کې تر لاسه شوي دي، د یوناني او بودایي مذهب د زمانې سکې هم پکې وې، ځینې یې د پخوانیو اسلامي زمانو وې، چې تر ټولو پخوانۍ یې د عبدالملک د وخت وه، د اموي عباسي، غزنوي، او غوری زمانو سکې هم پکې وې، بیا خپله د افغانستان د وخت سکو نمونې هم وې.

په یوه خونه کې قلمي کتابونه ایښودل شوي وو، دا هغه کتابونه و چې د خپل حسن خط او انځورونو سره د لیدلو وړ و، لاندې نسخې یې د یادولو وړ دي:

(۱) صور الکواکب د عبدالرحمن صوفي پخوانی خط، او ښه انځورونه.

(۲) دعوت الکواکب و الطلسمات امام رازي، د دې کتاب په لیدلو سره باوري شوو، چې علامه ابن تیمیه چې په دې کتاب کومې نیوکې کړې، هغه صحیح دي، د دې لومړی فصل د علم په فضیلت کې دی.

(۳) تاریخ سلطان ابو سعید بهادرخان نسخه، په ۹۸۱ کال کې لیکل شوې.

(٤) د مولانای روم مثنوي، یوه نسخه چې په پیل کې یې د بیرم خان خانان په لاس لیکل شوی عبارت لیکل شوی و.

(٥) ذخیرة الملکوک شیخ علي همداني په اخلاقو کې په ۷۸۶ هجري کال کې فات شوی.

(٦) د معافا بن اسماعیل په ۶۳۰ هجري کې وفات شوی، انس المتقصعین،دا په وعظ او اخلاقو کې کتاب دی، په دې کې درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه حديثونه، درې سوه کيسې او بيتونه دي، دا نسخه د ۷۳۰ هجري کال ده.

(۷) سلسلة الذهب او سبحة الابرار خپله د مصنف مولانا جامي په ليک.

(۸) بهارستان جامي، د علي رضا په ښکلي خط نسخه د ۹۸۳ هجري کال ده، د مصنف د وفات کال دی ۸۹۸ هجري.

(۹) د جامي هفت اورنګ، او د نظامي او خسرو د خمسونو مجموعه چې په هرات کې مشهورو خطاطانو په ۸۹۹ هجري کال کې په ښکلي طريقه او لطافت سره ليکلی دی، ځای ځای پکې انځورونه او پاڼو ته يې زر ورکړل شوي.

(۱۰) د بيدل کلياتو يوه خاصه نسخه، چې له فرغانې څخه تر لاسه شوې ده.

(۱۱) د حافظ ديوان يوه عجيبه نسخه، دا نسخه په ۹۰۷ هجري کال کې د سلطا حسين مرزا په زمانه کې چمتو شوې، ټوله له انځورونو سره او په زرو ليکل شوې وه.

(۱۲) د مواهب لدنية يوه ځانګړې نسخه، د هغې خصوصيت دا دی چې په اخر کې يې د اورنګزيب عالمګير د قلم عربي عبارت دی.

په دوه الماريو کې غير مرتب کتابونه ايښودل شوي وو، خو د يادونې وړ کوم کتاب پکې نه و.

يوه بله خونه د تبرکات خانه په نوم وه، په هغې کې د قرآن کريم بيلا بيلې قلمي نسخې وې، يوه غټه نسخه وه، چې خط يې ډېر روښانه او کاغذ يې وريښمين معلومېدو، راته وويل شول چې دا له روسيې څخه تر لاسه شوې، د هوسۍ د څرمن پر کاغذ د قرآن پاک درې نسخې په کوفي خط ليکل شوې وې، چې يوه يې د حضرت عثمان له خوا او دويمه يې حضرت امام حسن ته منسوبه وه، په دې دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې یوه یې کوم وخت هندوستان کې هم پاتې شوې، په هغې لیکل شوي و، «در عهد فرخ سیر داخل کتب خانه نواب قطب الملک شد».

## د صدر اعظم راتګ

لا مو د میوزیم ځیني نور ځیزونه کتل چې خبر راغی سردار محمد هاشم خان صدر اعظم د میلمنو د لیدلو لپاره راځي، له همدې کبله ژر راغلو، شیبه وروسته صدر اعظم راورسېد، موږ یې په دروازه کې ښه راغلاست ووایه، او بیا مو دویم پوړ ته خپل میشت ځای ته راوست، ډېرې خبرې مو وکړې، سید راس مسعود د هیواد په معدنیاتو او سرکونو جوړولو ټینګار وکړ، او ویې ویل چې له معدنیاتو څخه مطلب جواهرات او کانونه نه دي، چې اوس ارزښت نه لري، بلکې مطلب مې بیلا بیل معدنیات، او په خاص ډول پیټرولیم دی، چې په دې غرونو او درو کې زیات دي. صدر اعظم د دې و ړاندیز تایید وکړ، خو ویې ویل ستونزه دا ده چې د اروپا ماهرین بیا بیا تجربه شوي دي، او معلومه شوې، چې هغوي په سختو شرایطو او د زیات بدل تر لاسه کولو سره بیا هم خپل کار په امانداری سره نه کوي، ډېرو یې له حکومت سره درغلي کړې ده، د بېلګې په ډول یې د ځینو پېښو یادونه وکړه، سید راس مسعود وویل چې زه د خپل پوهنتون څخه د ځینو داسې بادیانته ماهرانو تاکنه کولای شم، چې موږ پرې واقعي باور کولای شو.

د سرکونو د جوړولو په برخه کې صدر اعظم وویل چې زموږ حکومت له دې کار څخه غافل نه دی، د افغانستا له زړه کابل څخه تر مزارشریف پورې لاره اوس جوړه شوې ده، چې سبا یې د پرانیستې او کتلو لپاره زه مزارشریف ته ځم، د دې سرک په جوړېدو سره د میاشتو لاره په ورځو کې وهل کیږي، دویمه لاره له کابل څخه تر پېښور پورې تر جوړېدو لاندې ده، دا نوې لاره له هغې پخوانۍ لارې څخه په کومه چې تاسې راغلي یاست ښه او لنډه به وي، او ویې ویل چې یو جاپانی انجنیر اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راغلی و، خو خلکو زیات وېرولی و، هغه په موټر یوازې ځان د ټول هیواد څخه لیدنه وکړه، د ستنیدو پر مهال یې د هیواد د امنیت ډېره ستاینه او مننه وکړه.

ډاکټر اقبال هم د سرکونو په جوړولو ډېر ټینګار وکړ، او ویې ویل چې په راتلونکي کې د سوداګریز تګ راتګ سلسلې لپاره منځنۍ اسیا او افغانستان مرکزیت باوري دی، بیا د ریل ګاډۍ خبره وشوه، او وویل شول چې افغانستان کې تر هغه وخته د ریل ګاډي جوړول مناسب نه دي، تر څو چې هیواد پوره ځواکمن شوی نه وي.

په خبرو خبرو کې دوه بجې شوې، موږ یو ځای د خوراک لپاره لاندې خونې ته ولاړو، له صدراعظم سره مو یو ځای ډوډۍ وخوړه، د خوراک پر مهال د حکومت پر مالیاتو خبرې وشوې، همدا مهال د حیدراباد ریاست عالیه د مالیاتو یادونه وشوه، او وویل شول چې په اوسنۍ اقتصادي تباهۍ کې بیا هم د هغه ریاست مالیاتو ته زیان نه دی رسېدلی.

له ډوډۍ وروسته سردار هاشم خان ولاړ، هاشم خان اوس په افغانستان کې عملاً تر ټولو لوړ عملي سیاسي ځواک دی، په لیدنه کې زیات بااخلاقه دی، خو خپلو ماتحتانو څخه د کاراخستلو، او خپلو پرېکړو کې پوره ځواکمن دی، له همدې کبله په رعیت او دولتي کار کوونکو د هغه رعب ناست دی، او داسې ویل کیدای شي چې د انګلستان یا فرانس په توګه د صدر اعظمانو په څېر د سلطنت اصل انتظامي ځواک کلیګانې د همده په مضبوطو موټو کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځینې خاص حالات او کاغذونه

د بهرنیو چارو وزیر سردار فیض محمد خان، او د ټولګټو چارو وزیر الله نواز خان به ډېر زموږ خواته راتلل، د افغانستان په حالاتو به مو بحث کاوه، د بچه سقاو د ماتې، او مرحوم نادرخان د بریا تاریخ د الله نواز په سینه کې ساتلی دی، او دا هغه پېښې دي، چې د دې هنګامې په تاریخونو کې نه دي ثبت شوي، د دې پېښو په اړه سید راس معسود زیاته لیوالتیا درلوده، له هغوی دواړو به یې پوښتنه کوله، او پروفیسر هادي به دا پېښې وخت په وخت لېکلې، شاید چې ځینې وخت دا پېښې نشر کړي.

دې دواړو وزیرانو موږ ته د امان الله خان او جنرال غلام نبي خان مرحوم اړوند د ځینو مهمو پاڼو کاپیانې وښودلې، ما یوازې یو لیک ولید، چې د شاه امان الله خان له خوا غلام نبي خان ته لیکل شوی و، دا لیک یې په دې تورو چې (عزیزم غلام نبي خان) پیل کړی و، مضمون یې څه په دې ډول و "زه ځینې اعلانات در استوم، هغه خپاره کړه، د ځومره نورو اړتیا چې وي زه یې در استوم، ما د روسیې له سفیر سره د لیدنې غوښتنه کړې، د لیدنې له پایلې به مو وروسته خبر کړم".

نور انځورونه هم و، چې ما ونه شول کتلای، درې بجې مې د اعلیحضرت شاه نادرخان سره د لیدنې وخت ټاکل شوی و، زه پاڅېدم، زما نورو ملګرو له نادرخان سره مخکې کتلي و، زه یوازې وم.

## له شهید شاه نادرخان سره کتنه

سرورخان ګویا زه دلکشاه ماڼۍ ته بوتلم، دا ماڼۍ له یوې مودې راهیسې د افغانستان د شاهانو استوګنځای دی، دا سیمه د کابل تر ټولو ښه سیمه ده، لوړې ودانۍ لري، په موجوده طرز جوړې شوي، ښه دوکانونه، پراخه سرکونه، او پاک ځای دی، همدلته وزارتونه، او نور حکومتي دفترونه دي، په دلکشاه کې لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو پراخه باغ دی، بیا یې په څنډو کې د اړتیا لپاره نورې ودانۍ دي، له دې څخه تېر شوو، او د دلکشاه اصل ماڼۍ ته ورسېدو، په دروازه یې پهرې لګېدلې دي، له موټر څخه په ښکته کېدو سره باید هر څوک له یو دالان څخه تېر شي، دا دالان ډېر پراخه او لوړ دی، په دروازه یې پورته لا اله الله محمد رسول الله په ښکلي خط، روښانه او په تور رنګ لیکل شوي دي، هلته ننوتونکی خو دا نه شي لیدلای، ځکه چې د ننوتلو پر مهال یې هغې ته شا وي، خو د ستنیدو پر مهال باید لومړی همدا کلمه ووینې، دې ځای کې د دې کلمې لوستل روح تازه ګوي، ما هم دا کلمه د ستنیدو پر مهال ولوسته.

له دالان څخه له تېرېدو وروسته پراخه زینه ده، له زینې نه ورسته بیا درې خواوو ته دالان دی، او بیلا بیلې کوټې لیدل کیږي، چې ډېرې یې بندې وي، ټوله ودانۍ پراخه، لوړه، شانداره او روښانه ده، تکلف او ظاهري ښکلا څخه خالي ده، له دې ټولې سادګۍ سره ما په دې ودانۍ کې جلال ولید، له احمد شاه دراني څخه نیولې د امیر عبدالرحمن خان تر وخت تاریخ مې مخې ته ودرید، سره له دې چې دا ودانۍ پخوانۍ نه ده، وروسته جوړه شوې، خو اوس د هغوی د تخت نظاره دلته لیدل کیږي.

په هر حال، په زینه پورته شوو، تشریفات موجود و، هغوی ښه راغلاست ووایه، بیا له دالان څخه پورته ولاړو، او یوې خونې ته ورسېدو، خونه کې د یو ګرد میز شا او خوا څو چوکۍ ایښې وې، زه کېناستم، له خونې سره ننښتې بله خونه لېدل کېده، دروازه یې بنده وه، خو څو دقیقې وروسته دا دروازه پرانیستل شوه، اوماته یې د ننه تګ وویل، کوټې ته په ننوتلو مې ولیدل چې کړکۍ یې یو پراخه منظر ته پرانیستې دي، او پاچا همدلته له کړکیو بهر ګوري، زما له ننوتلو سره سم یې زما لور ته مخ کړ، په ډنګر بدن یې دریشي، په سریې افغانۍ خولۍ، په شونډو یې نرۍ مسکا خپره وه، له لیدو سره سم یې السلام علیکم وفرمایل، او په ښه خلق یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راسره په لاس سترې مشې وکړه، دلته يو مستطيل ميز ايښودل شوی و، خپله کښناست، او ماته يې په يوه چوکۍ د کښناستو وويل.
لومړی يې په سفر کې زما د څنډ علت وپوښت، ما ورته وويل لومړی دا چې زما د ژوند تاريخ دومره پاک نه دی، چې زه د هند له حدودو څخه دومره ژر ووځم، دويم دا چې زه په يو کوچني ځای (اعظم ګړه) کې ژوند کوم، د ولايتونو له ښاري سيمو لرې والی هم په پاسپورټ کې د تاخير لامل وګرځېد، په خبرو خبرو کې دا بالکل محسوس نه شوه، چې زه اوس د داسې چا سره خبرې کوم، چې په يو لس ميليونه نفوس حکومت کوي، بلکې په بشپړ ډول د مساوات او ښه خلق تصور مې په مخ کې و، خونه کې له موږ دواړو پرته بل څوک نه و، له همدې کبله دواړو خواوو خپلې خبرې په څرګند ډول کولې، نيم ساعت ليدنه وشوه، او يوازې په درې موضوعاتو خبرې وشوې.
ما تر ټولو مخکې وويل کله چې له پېښور څخه راتلم نو ځينې خلک خبر شول چې د شاه معظم په بلنه کابل ته ځم، په ما خلک راټول شول، په هغوی کې يو افريدی پښتون هم و، هغه په پښتو کې ماته يو څه وويل چې زه پرې پوه نه شوم، زما ملګرو راته ترجمه کړل، نو معلومه شوه چې هغه يو لنډ او مخلصانه پيغام دی، چې زما په واسطه يې تاسې ته رسول غوښتل، دا پيغام د سرحدونو د افغاني سياست له طريقې اړوند و، او د اسلامي فرض سره سم ما هغه پيغام په ښه وجه ورسولو، اعلحضرت په پوره توجه واوريد، په همدې اړوند يې خپل نظر په لنډ او څرګند ډول روښانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما په خپلو خبرو کې د سرحد[۲۵] ازادې سیمې د افغانستان د چاردیوالۍ په توګه بللې وې، هغه وویل "څوک چې د دې چاردیوالۍ په داخل کې اوسیږي، هغه باید د دې چاردیوالۍ یوه خښته هم له خپله ځایه بې ځایه نه کړي.

د خبرو دویمه او اوږده موضوع د تعلیم وه، ما خپلې مفصلې خبرې وکړې، ومې ویل چې د افغانستان لپاره کوم ډول تعلیم برابر دی، همدا راز د افغانستان د عربي او مذهبي تعلیم د اصولو او طریقې لارو چارو په اړه مو هم بحث وکړ، او ورته مې روښانه کړه، چې په اوسني عربي تعلیم کې کومې کمۍ دي، او څه ډول اصلاح کېدای شي، همدا راز ومې ویل تر هغه وخته چې د دې عربي او مذهبي تعلیم نصاب جاري نه شي، د اوسني نصاب سره به په علماوو کې سیاسي او اجتماعي اصلاحاتو لور ته میلان، او په ځوانانو افغانانو کې به د مذهب مینې او پابندۍ احساس نه شي پیدا.

اعلیحضرت تر ډېره وخته زما خبرې په توجه سره اورېدې، او د هغې ستاینه یې کوله، دا یې یوه اړتیا وبلله، او پوښتنه یې وکړه، چې ایا په هندوستان کې په دې ډول کوم تعلیمي مرکز جوړ شوی؟

ما د دار العلوم ندوة العلماء لکهنو نوم واخیست، د دې دارالعلوم ځینې حالات مې ورته بیان کړل، پوهېدم چې هغه په دې بحث خوشاله شو.

هغه د هندوستان د مسلمانانو عام حالت او په ځانګړي ډول د سیاسي حالاتو په اړه پوښتنه وکړه، ما په پوره افسوس سره په مسلمانانو کې شته اختلافاتو تفصیل وړاندې کړ، هغه د هندوانو او مسلمانانو د اړیکو پوښتنه وکړه، ما ورسره خپل معلومات شریک کړل، مرحوم اعلیحضرت خپله هم د هندوستان له حالاتو ښه خبر

---

۲۵- سرحد د هغه مهال د ډیورنډ کرښې بلې غاړې د هندوستان ایالت و چې اوس د خیبرپښتونخوا په نوم یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، له هغه ځایه اخبارونه او خاصې خاصې رسالې شاهي دار التحرير ته راځي، هغه يې لولي، ما په يوه برخه کې د معارف حواله ورکړه، او هغه راته وويل چې زه هغه ټول لولم.

په اخره کې يې وويل، چې هندوستان ته په تللو سره زما ورونو ته دا پيغام ورسوه، چې اوس موږ او هغوی تر ټولو زيات اتفاق او اتحاد ته اړ تيا لو، او د دې پر ځای چې يو پر بل اعتراض وکړو، غوره دا ده چې د يو بل د حالت په سمولو کې يو له بل سره مرسته وکړو.

بيا يې وويل زما هڅه ده چې افغانستان کې دين او دنيا راټول کړم، او د يو داسې اسلامي هيواد بېلګه وړاندې کړم، چې پکې د پخواني اسلامي، او نوي تمدن ښېګڼې راټولې وي، بيا يې وويل زه د دين او ملت خادم يم، افغانستان يوازې د افغانانو نه، بلکې د مسلمانانو هيواد بولم، او غواړم چې زموږ مسلمان ورونه دا خپل هيواد وګڼي، زياته يې کړه، زما ورونو ته ووايه چې دنيا کې د يو نوي انقلاب مواد چمتو کيږي، او د دې اړتيا ده چې مسلمانان خپل تعدادي، اقتصادي، او تعليمي چموالی ورته له مخکې څخه ولري.

له دې کبله چې مرحوم اعليحضرت په "ديره دون"[۲۲] کې زده کړې کړې وې، له همدې کبله يې ډېره ښه اردو ويله، که څه هم موږ د خبرو پيل په فارسي وکړ، خو ډېر ژر اردو ته واوښتو، چې تر اخره په اردو خبرې روانې وې.

د تګ پر مهال بيا ودريد، په لاس يې خدای پاماني وکړه، مرحوم ډېر د ښو اخلاقو، منکسر مزاج، مينه ناک، او نرم زړی انسان دی، د مولانا محمد علي مرحوم په څېر د هغه سترګې تل د اوښکو لپاره چمتو وي.

---

[۲۲]-ديره دون د هندوستان د اترکنډ ايالت مرکزي ښار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د جنګ د وزیر شاه محمود خان ځای کې د چای بلنه

نن د مازدیګر په څلور بجې د جنګ د وزیر سردار شاه محمود خان ځای ته د چای لپاره بلل شوي وو، له دلکشاه مانۍ څخه نیغ د هغه ځای ته روان شوو، سرور خان ګویا راسره ملګری و، د شاه محمود ځای ځای همدلته نژدې و، له دلکشاه څخه د وزارتونو له سرک تېر شوو، او د شاه محمود خان ځای ته ورسېدو، د افغانستان د ودانیو جوړښت عجیبه دی، چې له بهر څخه کوچنۍ او ساده دروازه وي، خو په ننوتلو سره یې عظمت معلومیږي، له موټر ښکته شوو، له ننوتلو سره سم د لوبو یو میدان و، د یوې دروازې له لارې په یوه زینه پورته شوو، یوه کوچنۍ خونه وه، لته مو خپل کوټ او چپنونه وویستل، بیا یو لوی تالار و، چې د میزونو په شا او خوا یې چوکۍ ایښې وې، تالار منظم و، داسې معلومېده چې موږ د اروپا په کومه برخه کې ناست یو، په یو میز د المان د تازه ایجاد شوې لوبې "نرد" تخته ایښودل شوې وه، دویمې خوا ته د بې سیم اوازونو صندوق و، درېیم لور ته په کوټه کې جاینمازونه هم ایښودل شوي وو، پورته له ختلو سره هغه وزیر په خپل خاورین رڼګه پوځي لباس کې زموږ ښه راغلاست ووایه، ما تر اوسه د مازدیګر لمونځ نه و کړی، وزیر په خپلې مهربانۍ سره په خپله زه خپلې غسلخانې ته بوتلم، هلته هر څه چمتو و، د اوبو پایپ او د لاس مخ مینځلو لوښې، نور توکي او وسایل لاس پاک او اړتیا وړ سامان موجود و، له هغه ځایه د هغه لباس خونې ته ولاړو، له هغه ځایه بلې خاصې کوټې ته او هلته مې لمونځ اداء کړ، لنډه دا چې په دې لړۍ کې مې د وزیر د خاصو خونو لیدنه وکړه، هغه هم ډېرې منظمې وې، د لوڅو انځورونو هغه لعنت چې زموږ د امیرانو په دولت سرایونو کې وي، دا ځای ورڅخه پاک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ټول میلمانه را رسېدلي وو، وزیر ټول یوې بلې خونې ته بوتلو، هلته په یو اوږد میز میوې او ګلان ایښودل شوي وو، بیلا بیل ډول انګور و، د اروپا د ذوق میټایي (خواږه/شیریني)، کیک او کلچې وې، زه فکر کوم دا کابل کې پاخه شوي وو، بیا یو د ښه لباس ښواخلاقو خادم د چای لوښي راوړل، چای مو وڅښتل په میلمنو کې صدر اعظم هاشم خان، او نور وزیران او مشران هم موجود وو.
له چای وروسته د خبرو لړۍ پیل شوه، له ما سره په میز سردار هاشم خان، میر عطاء محمد رئیس اعیان، مولانا فضل احمد د عدلیې وزارت مرستیال (چې اوس د عدلیې وزیر شوی دی) ناست و، په همدې وخت کې ما په کابل کې د عربي تعلیم د اصلاحاتو نقشه په پوره تفصیل سره د هغوی په مخ کې کېښوده، او ومې ویل چې افغانستان په اوسنۍ درسګاه کې له اصلاحاتو پرته تر قیامته نه شي بریالی کېدای.
صدر اعظم په ډېرې توجه سره دا هر څه واورېدل اوبیا یې وویل چې ایا تاسې له موږ سره په دې برخه کې مرسته کولای شئ، ما وویل چې په دې لاره کې خپله ټوله وړتیا او ځواک مصرفولای شم، نورو دوه کسانو هم ټینګار وکړ، اوس د ماښام وخت نژدې و، ځیني خلک ولاړل، ځیني بلې خونې ته د لمانځه د اداء کولو لپاره ولاړل، او دا هم باید ووایم چې ځیني خلک په خپلو ځایونو ناست وو.
له لمانځه وروسته شاه محمود خان د لاسلکي صندوق پرانیست، نو د ماسکو د کومې روسۍ سندرې اواز ورڅخه راغی، بیا د ایران کومه سنده واورېدل شوه، اواز یې صاف نه و، له همدې کبله یې تماشه بنده کړه، د تګ پر مهال سردار احمد شاه چې د دربار وزیر و، او د مرحوم شاه د تره زوی و، او خېښ یې هم و، یعنی د اوسني پاچا ظاهر شاه خسر و، بلنه راکړه چې سبا ماښام پغمان ته ورشو، چې موږ ټولو قبوله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادبي ټولنې مابنامنۍ ویاړمنه بلنه

له سردار شاه محمود خان سره د خبرو لړۍ دومره وغزېده، چې د مابنام اوه بجې شوې، او اوه نیمې بجې د کابل ادبي ټولنې چې دلته ورته شاهي اکاډمي ویلی شو، نویو راغلو هندي میلمنو په اعزاز کې د شپې میلمستیا بلنه کړې وه، په همدې اساس له دې ځایه نېغ په نېغه کابل هوټل ته روان کړای شوو، چرته چې دا میلمستیا چمتو شوې وه، د کابل هوټل ودانۍ لوړه او پخه ده، ډېرې پراخه کوټې او تالارونه لري، لومړی په یوه اړخیزه خونه کې کېنول شوو، دې خونه کې هره خوا د میلمنو لپاره چوکۍ اچول شوې وې، ډېری میلمانه چې اکثره یې د دې ادبي ټولنې غړي و، له پخوا راغلي، او ځینې نور بیا وروسته راغلل.

دا ټولنه د حکومت له ادارو څخه ده، د هیواد ډېری علماء، لیکوالان او باسواده ځوانان یې غړي دي، شهزاده احمد علي خان درانی د دې ټولنې سکرتر دی، چې د لاهور اسلامي کالج څخه یې زده کړې کړي، د شاهي سکرتریت په دار التحریر کې کار کوي، د دې ټولنې غړیتوب یو شاهي اعزاز دی، غړي ته د سلطنت له خوا معاش ورکول کیږي، تر څو په پوره خپلواکۍ، او لیوالتیا سره د علم او فن شعر او وینا خدمت وکړای شي، تر دې چې کله کوم دولتي کارمند ته د دې ټولنې غړیتوب ورکول کیږي، له خپل اصلي معاش څخه زیات د دې ټولنې د غړیتوب معاش هم ورکول کیږي. ځوانان، زاړه، پخواني علماء او اوسني تعلیم یافته ځوانان، بې ږیرې او د اوږدې ږیرې لرونکي کسان، شاعران او لیکوالان، د عربي ژبې پوهان، د انګریزي، فرانسوي، او الماني ژبو ژباړن د دې ټولنې غړیتوب لري، هر کال د دې ټولنې له خوا د کابل په نوم یوه رساله په خورا شور او زور سره خپریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میلمنو له پوره کېدو وروسته د ټولنې مشر د ښه راغلاست وینا په فارسي ژبه کې و کړه.

د کابل ادبي ټولنې د ښاغلي رئیس د ښه راغلاست وینا [27]

ښاغلو فاضلینو! اجازه راکړئ چې د افغانستان د ادیبانو او قلموالو دا ادبي ناسته د خپل خلوص او مینې په څرګندونو سره ستاسې ښاغلو مخ ته وړاندې کړم، او ستاسې راتګ ته د مننې څرګندونه او په ورین تندي تاسې ته ښه راغلاست ووایم.

هندوستان چې د تل لپاره د نومیالیو فاضلانو او لویو ادیبانو زانګو ده، چا چې په خپله غېږه کې سترو سترو خلکو او پېژندل شویو ویناوالو لکه بیدل صالح، اصفهاني، کلیم، سلیم، طالب، املي، فیضي فیاضي، او په وروستیو کې شبلي نعماني، او نن ورځ لوړ فکر څښتنان لکه مشهور ټولنیز فلسفي شاعر اقبال، او جلیل القدر د بېلګې په ډول سر راس مسعود، علامه سید سلیمان ندوي، او مشهور پروفیسر هادي حسن یې زېږولي، یقیناً چې دا پاکه خاوره د اسیا د علم او فضل زانګو ده، او موږ ورته د درناوي په سترګه ګورو.

د هندوستان د افق روښانه ستورو د تل لپاره د نړۍ پر فضا روښنايي شیندلې، د اسیا او ختیځ خلکو د عزت او سرلوړۍ لپاره یې ډېر ستر او ارزښتمن خدمتونه او کوښښونه کړي دي.

په همدې اساس که موږ داسې لوی او بې بېلګې فضلاء په خپل هیواد کې وینو، نو دا روښانه خبره ده چې موږ خوښ او خوشاله یو، او د اسیا په لوړ صلاحیت او وړتیا ویاړو.

---

[27]- همدا وینا بیا د دیسمبر کال ۱۹۳۳ د کابل په رساله کې په فارسي ژبه خپور شوی دی، دلته مو د یادې رسالې څخه ترجمه کړی دی. (لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاريخي او لرغونې اسيا چې يو وخت د علم او تربيت زانګو، د فضل او ادب سرچينه وه، د کومې لرغونو زېرمو چې د اوسنۍ نړۍ ډېرې پرمختللې هيوادونه شتمن کړي دي، ممکنه وه چې دا هر څه د اسيا د اوسني وروسته پاتې والي له کبله له زړونو هېر شي، خو موږ وينو هغه قوم چې د دې خاورې د نوم، تاريخ او وياړونو په ژوندي او روښانه ساتلو کې بې پايه هڅې کوي، د هندوستان رېښتيني او نومياليې زامن دي.

د علي ګړه د لوړ شان او شوکت دار العلوم (پوهنتون) چې د اسيا د خلکو ډېر غوره علمي مرکز شمېرل کېږي، د هندوستان د يو سپېڅلي زوی سر سيد اعظم د همت، ځوانمردۍ، او خپلې دوستۍ يادګار دی، د اقبال ارزښتمن اثار او تاليفات چې هر يو يې د اسيا د خلکو په جسمونو کې د اخلاقو، کوښښ، کار، ټولنې، خپلې دوستۍ جذباتو، او اسلام پرستۍ احساساتو روح پو کړی دی، دا ټول د هند د خلکو د همت او خواريو بېلګې دي.

هغه وخت چې د افغانستان علم دوسته او ادب پاله پاچايانو يعنی غزنوي او غوري له دې غره ايزو سيمو څخه د سفر بار وتاړه، علوم او ادبيات يې زموږ په هيواد کې يتيم پرېښودل، نو هغه وخت يوازې د هندوستان چمتو قوم و، چې زموږ د هيواد د شاعرانو او فاضلانو ارزښتمن اثار او قيمتي ملغلرې يې تر اوسه خوندي ساتلي دي، نن موږ وينو چې د بلخ او غزني د شاعرانو او فاضلانو، د افغانستان د نومياليو ارزښت پېژندونکي او د اسيا او اسلام د نوم او اثارو تازه کوونکي همدا د هندوستان لوی او حق پېژندونکي خلک دي.

اوس چې د الله په فضل او مرحمت سره زموږ افغانستان له سختو خونړيو او وېروونکو توپانونو څخه ژغورل شوی، او د افغانستان چارې د دې خاورې يو ادب پال زوی يعنی اعليحضرت محمد نادرشاه غازي د افغانستان لرغوني تاريخ راژوندي کوونکي پوه بادشاه لاسونو ته ورغلې دي، دا ستر سلطان د خپلو هڅو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیوري کې د علم او ادب او تاریخ تجدید غواړي، موږ وینو چې ډېره همدردي او پالنه د هند د فاضلانو له خوا کیږي، دا معنی چې د هندوستان شریف قوم او شریف احساس، او د اسلام درک، او د اسیا اړوند ټولو ګټورو موخو تر ټولو د زیات اهمیت دوی ته معلوم دی.

هندوستان، ایران او افغانستان چې د فارسي ادبیاتو هیوادونه او لویو شاعرانو، او لوړ خیال درلودونکي هیوادونه دي، یو د بل مشرانو او شاعرانو ته د مینې په نظر ګوري، او په همدې د نړۍ په وړاندې په مسلسل ډول ویاړي.

په پای کې وایم چې: ای ښاغلو فاضلانو! یوازې هندوستان نه، بلکې ټوله اسیا ستاسې معنوي هیواد دی، او ستاسې لوړې هیلې او ارادې (چې تاسې یې لرئ) او ستاسې اصلي موخه د ختیځ خاوره ده، د ټولې اسیا خلک په ځانګړي ډول زموږ افغانستان ستاسې د لوړو هیلو یعنی د ختیځ د عظمت په لاره کې د الله تعالی څخه د توفیق غوښتنه کوي، په ضمن کې وایم اګر چې د افغانستان غرونه د اروپا د تکلفاتو څخه خالي دي، او دې خاورې تر اوسه له تکلف ډکې مادي خوښۍ موقع نه ده تر لاسه کړې، شونې ده چې د نورې نړۍ د هیوادونو لېدونکي د دې هېواد سفر او سیاحت خوښ نه کړي، لکن زموږ باور دی چې د علم څښتنان ښه پوهیږي، چې دا د سلطان محمود غزنوي خاوره ده، د غوریانو او ابدالیانو لرغونې سیمه، د بلخي ابن سینا، غزنوي سنایي، عنصري، مسجدي، دقیقي، فاریابي، او په پای کې د سید جمال الدین افغاني د زېږېدو ځای دی، یقیناً ټول پوهیږي چې افغانستان هیواد د دوی ټولو د پناه ځای دی، چې عموماً ټول خلک یې د اسلامیت او اسیاییت مخلص دوستان دي، او د یو شریف پاچا اعلحضرت محمد نادرشاه غازي پایتخت دی، چې د اسلام او اسیا د عزت او لوړوالي یوازینی غوښتونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې عرض دا دی چې دا ناسته چې ستاسې په اعزاز کې جوړه شوې، یوازې یوه بېلګه ده، د افغانستان قوم او حکومت ادیبان او فاضلانو د احساساتو ښکارندوی ده، او موږ هیله لرو چې تاسې ښاغلي په خپل ګران هیواد کې د دې ډالۍ استازي شئ، چې ورڅخه زموږ موخه خالصه مینه، او اخلاص دی، زموږ ګرانو هندوستاني ورونو ته په عام ډول زموږ سلام او دوستانه احترامات ورسوئ، له هغوی سره زموږ د دې معنوي او قلبي اړیکې یادونه وکړئ، چې له کلونو راهیسې زموږ په زړه کې د هندوستان د محترم قوم لپاره شته.
په پای کې دا چې تاسې د دې ادبي ټولنې بلنه ومنله او موږ ته مو عزت راوبښلو، مننداوی او مشکور یو، تاسې او د هندوستان لوی قوم نېکمرغي او بریا له خدای څخه غواړو، په اخر کې وایم چې مشرقي باد عالم شرق، مسعود باد عالم اسلام
له دې وروسته د افغانستان مشهور شاعر جناب قاري عبدالله خان صاحب د ښه راغلاست شعر د (خیر مقدم) په عنوان ولوست.[۲۸]
له دې نظم وروسته د میلمنو له خوا پروفیسر هادي حسن په ایراني فارسۍ ژبه یو ګټور تقریر وکړ، چې افغان ځوانان یې د شعر او خبرو پر ځای مغربي علومو او فنونو تر لاسه کولو ته وهڅول، او له هغه وروسته سید راس مسعود لاندې تقریر وکړ.
د نواب مسعود جنګ ډاکټر سید راس مسعود ځوابي وینا:
ښاغلو مشرانو او مهربانه کوربنو! زه په ډېر خلوص او خوښۍ سره مننه کوم، زه د دې پاملرنې فرض نه شم اداء کولای چې تاسو د دې خاکسار په حق کې وکړه، زه غواړم چې د هند د مسلمانانو د زړه جذبات او احساسات تاسې ته ورسوم، زموږ

---

۲۸- دا نظم چې په دري ژبه کې دی، ځینې برخې یې شاید سمې نه وي لیکل شوي، له همدې امله په ژباړه کې ځای ور نه کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په منځ کې د هند د علماو استازی عالم سيد سليمان ندوي دی، او زما ډېر قدرمن دوست علامه اقبال د هغې ډلې استازي دی، چا چې قديم او جديد عناصر سره يو ځای کړي، او روح پالونکی معجون يې ځينې چمتو کړی دی.
زه نه د علماوو له ډلې يم، او نه د شاعرانو له ټولي، بلکې ما د خپلې زده کړې زياته برخه په اروپايي هيوادونو کې بشپړه کړې، خو زما زړه د دې دواړو ډلو د عظمت او احترام څخه سرشاره او ډک دی، زه تاسې ته باور درکوم چې ستاسې سره د هند مسلمانان غير معمولي مينه او اړيکه لري، او موږ د زړه له کومې هيله لرو چې ګران افغانستان په بشپړ ډول د امنيت، پرمختګ او سوکالۍ په حالت کې ووينو. او دا چې افغانستان د جغرافيوي نقطه نظره د اسيا او اروپا په منځ کې موقعيت لري، له همدې کبله زموږ هيله ده چې افغانستان د اسلامي تهذيب او اخلاقو د غوره ببلګې تر څنګ د اروپا د ټولو ګټورو عناصرو او ښکلاوو څخه ډک شي.
سره له دې چې زه ستاسې ښاغلو حضراتو د مهربانۍ ډېر زيات ممنون يم، خو په دې وخت کې چې زما په زړه د کوم چا غير معمولي نيکبختي ده، هغه ستاسې پاچا دی، پر ما د هغه داسې اغيز غورځېدلی، چې زه يې بيانولی نه شم، زه به هغه وخت کله هم هېر نه کړم چې له نېکه مرغه زه د اعلحضرت خدمت ته ورسېدم، زه باور لرم کوم سلطنت چې ستاسې په څېر ولس پال پاچا لري، يقيناً چې هغه سلطنت به د پرمختګ لوړو پوړيو ته رسېږي، اوس دا ستاسې فرض دی چې په له هرې ممکنې لارې د هغه خدمت او اطاعت لپاره چمتو واست، او په دې برخه کې باور ورکړئ که چېرې زما په څېر د کم تعليم درلودنکی په دې برخه کې ستاسې کوم خدمت کولای شي، نو د دې خدمتونو د تر سره کولو لپاره به زه هر وخت حاضر يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د یوې خبرې له کولو پرته زه مخکې نه شم تللای، د افغانستان د سلطنت ځوانانو ته پکار دي، چې هر وخت د سپین ږیرو عزت او درناوی وکړي، داسې نه شي چې د نظر د اختلاف له کبله د هغوی په وحدت کې درز پیدا شي، تاریخ شاهد دی چې د مسلمانانو د ټولو زیانونو علت د خپلمنځي نفاق او اختلاف له کبله رامنځ ته شوی، نو ځکه له ماضي څخه په عبرت اخستلو سره د اتحاد او اتفاق له لارې خپلو قومي موخو مرکز جوړ کړئ.

په پای کې بیا ستاسې له خلوص ډکو پیرزوینو شکر ادا کوم، او زه به کله هم ستاسې مخلصانه مهربانۍ هېرې نه کړم.

د سید راس مسعود له تقریر وروسته د یادولو وړ کوم تقریر ونه شو، خو د حاضرینو د ټینګار له کبله له ما هم د ادبي ناستې په مناسبت د څه ویلو غوښتنه وشوه.

## د سید سلیمان ندوي ځوابي وینا:

د دین او هیواد وروڼو، د علم او فن ګرانو! ډېر خوښ یم چې ځان له تاسې سره په دې ټولنه کې وینم، د اعلحضرت غازي له خوا د علم او ادب د څو خادمانو بلنه، او بیا د دې هیواد له علماوو او فضلاوو سره په ادبي ناسته کې یو ځای کېدل، زما په نزد د یوې ویاړلې تاریخي پړاو پیل دی.

ګرانو وروڼو! افغانستان او هندوستان دوه بیل بیل حکومتونه نه، بلکې یو و، ممکن دوه دوه نیم سوه کاله شوي وي چې د دې دواړو هیوادونو تر منځ تفرقه پیدا شوه، د پخوانیو بودایي حکمتونو په دورو کې دا دواړه هیوادونه یو ځای و، لکه چې ستاسې په هیواد کې په هر قدم کې د دې اتحاد ډېرین یادګارونه په ځمکو کې اوس هم شته، چې ستاسې په میوزیوم کې هم لیدل کېږي.

د اسلامي پیر له پیل راهیسې یوازې تاسې وئ، چې نه یوازې ستاسې له لارې مذهب، بلکې علم او فن هم د هندوستان تر زړه رسېدلی دی، د غزني او غوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلاطين او شاهان دلته اوسېدل، خو د هغوی د حکومت دايره تر هندوستان پورې غزېدلې وه، همدا شان د بابر کورنۍ په هندوستان کې ميشت وه، خو د حکومت دايره يې تر افغانستان پورې وه، او دا دواړه حکومتونه د يو شاهنشاهۍ لپاره داسې وو، لکه د يو بدن دوه لاسونه.

اوس له دوه نيم سوه کلونو وروسته، دا لومړی فرصت دی، چې دا دواړه لاسونه د سياسي اتحاد لپاره نه، خو د علمي او ادبي، او يو بل سره د مينې او ارامۍ لپاره په مخلصانه ډول يو بل ته اوږدېږي.

افغان ورونو! ستاسې مشرانو په هندوستان کې يوازې جسماني او مادي حکمراني نه ده کړې، بلکې معنوي او ذهني حکومت يې هم جوړ کړی دی. فارسي ژبه د ډېر وخت لپاره د هندوستان ادبي او علمي ژبه وه، او اوس هم دا ژبه تر موږ يوازې ستاسې په واسطه را رسېدلې ده، ستاسې له علماوو څخه مير زاهد هيروي چې ستاسې د هرات اوسيدونکی و، له درې سوه کلونو راهيسې د هغه رسالې او تصنيفات د هندوستان په عربي مدرسو کې د فلسفې په برخه کې لوړ معيار دی.

د فارسي ژبې مشهور او ستر شاعران چې دې هيواد کې زيږېدلي دي، په همدې ډول د زيږېدو د ځای په نسبت د افغانستان کوم ښار ته منسوب دي، خو د اوسېدو يا دفن له لحاظه د هندوستان کوم ښار ته منسوبيږي.

څومره شاعران شته چې د غزني، بلخ، بدخشان يا ستاسې له کومو نورو ښارونو او سيمې څخه و، او په لاهوري، او دهلوي مشهور شوي دي، چا چې د عوفي د باب الالباب مطالعه کړې وي، هغوی پوهيږي، چې دا شاعران د يووالي په يوه ليکه کې سره داسې منسلک و، چې تاريخ هم دا پريکړه په سختۍ سره کولای شي، چې هغوی لاهوريان که غزنويان وو.

دا دوه حکومتونه يو له بل سره داسې تړلي وو، که چېرې يو فاضل دلته پيدا شوی و، نو د ژوند څه برخه به يې هلته تېروله، او که هلته زيږېدو، نو دلته به يې يو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند کاوه، د بېلګې په ډول مسعود سعد سليمان، چې د شاعرانو له دويمې طبقې څخه دی، هغه ته هندي يا افغانستاني ويل او سره جلا کول يې ډېرستونزمن دي.
ما د جلال اباد او کابل باغونه وليدل، د غره ايزو چينو، نهرونو، ابشارونو نظاره مې وکړه، چې د دې خاورې په هره برخه کې شته، نو په دې باوري شوم، چې د بابر کورنۍ چې په کشمير او هندوستان کې په ډېره کچه کوم باغونه جوړ کړي دي، يا يې ځای پر ځای مصنوعي چينې ايستلي دي، هغه ټول د افغانستان د قدرتي منظرو نقل و.
په جلال اباد کې د امير شهيد باغونه، کابل کې د بابر باغ، پغمان کې باغونه همدا راز د افغانستان نور باغونه د لاهور د شالامار سره ځومره قدرتي ورته والی لري.
د تيمور په کورنۍ کې د فطري منظرو دا وطني ذوق داسې و، چې هغه په هندوستان کې عملاً څرګند کړ، آن تر دې چې په عامو او خاصو دفترونو کې هم د ګنګا او جمنا د ګلکارۍ په واسطه راڅرګند شول.
د علم او فن ورونړو! هر څه چې اول شوي دي، اوس نه کيږي؟ د سياسي اختلاف او جلا والي يادونه پرېږدئ، دا د نړۍ د بدلون برخليک دی، کله يو شان او کله بل شان، سياسي حالت هر وخت د بدليدو په حال کې وي، سياسي اړيکې جوړيږي، او ماتيږي، خو علمي او ادبي اړيکې تلپاتې وي.
موده وشوه چې د سلطان محمود غزنوي توره ماته شوې، پېړۍ وشوې چې د هغو سياسي فتوحاتو پاڼې خورې ورې شوي دي؛ خو د حکيم سنايي غزنوي قلم اوس هم شته، د هغه د ادبي فتوحاتو د پاڼو شيرازه تر اوسه نه ده شنډلې.
راځئ، د سلطان محمود غزنوي، شهاب الدين غوري، او د بابر دکورنۍ نه، بلکې د سنايي غزنوي، مسعود سعد سلمان لاهوري، خسرو دهلوي، حسن

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهلوي، فيضي اکبرابادي، او بيدل عظيم ابادي په نوم يو بل ته د مينې لاسونه وغزوو.

افغانستان د تل لپاره د خپل جسماني زور او مادي توان په اړه له نړۍ څخه ستاينه تر لاسه کړې ده، اوس د دې وخت دی چې له نړۍ څخه د خپل دماغي توان او ذهني پهلوانۍ ستاينه تر لاسه کړي.

ستاسې ادبي ټولنه د ستاينې وړ ده، چې په دې لاره کې يې ګام پورته کړی، او هره مياشت په ډېر ښه ډول د خپل توان او زور څرګندونه کوي.

زه بې له وېرې او تردد څخه ويلای شم چې د کابل رساله، د هندوستان او اسيا له غوره علمي رسالو سره اوږه په اوږه سفر کوي، او له خوښۍ دې ډک پړاو کې د دې رسالې لاس زيات دی.

ګاونډيو ورونو! ايا دا د حيرانتيا ځای نه دی چې موږ د انګلستان، فرانسې، او المان د يو يو شاعر او اديب څخه خبر يو، د هغوی شهکارونه پېژنو، خو د دې دوه ګاونډيو هيوادونو اديبان او د قلم خاوندان په خپل منځ کې يو له بل څخه بې خبره او نا اشنا دي، حال دا چې د دې دواړو د پخوانيو مشرانو تر منځ نه يوازې هيوادنۍ اړيکې وې، بلکې شايد مذهبي، او نسلي اتحاد هم و.

مګر سربېره پر دې د دوی تر منځ يو نه ماتيدونکی علمي او ادبي يووالی و، څومره د افسوس خبره ده چې له دوه پېړيو راهيسې زموږ تر منځ دومره لريوالي راغلی، چې نه موږ ستاسې له اديبانو او شاعرانو خبر يو او نه تاسې زموږ.

موږ بايد د کابل ادبي رسالې مننداوی و اوسو، چې د دې ځای د پوهو قلم خاوندانو، شاعرانو او اديبانو سره يې زموږ پېژندګلو وکړه، او موږ يو بل وپېژندل.

علمي او فني ورونو! سياسيون په خپلو چالاکيو کې مصروف پرېږدئ، او راځئ چې موږ د علم او فن په نوم د مينې او دوستۍ تړون تازه کړو، د مفکرتيا او پېژندګلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژمنه لا پیاوړې کړو، موږ په خپل خپل هیواد کې د اوسیدو سره د نوي ختیځ د جوړولو لپاره اوږه په اوږه کار وکړو، که د زړونو اتحاد هر شان وي، بدګمانۍ او غلط فهمۍ لرې کوي.

هندوستان د خپلو ځوانانو په مټ په خپل تعمیر بوخت دی، او افغانستان هم، اوس نو اړینه ده چې په دې تعمیر کې د دواړو هیوادونو ځوانان د بل هېواد ځوانانو ته په ښه نیت او ښه باور لاس ورکړي، که څه هم د دې یووالي په لاره کې به ډېرې ستونزې مخې ته راشي، خو د دې سترې موخې د تر لاسه کېدو لپاره موږ ته پکار ده له ګڼو ستونزو سره مقابله وکړو.

بهر یک گل زحمت صد خار می باید کشید

و اخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

تر ما وروسته ډاکټر اقبال په خپل فلسفي انداز کې لاندې تقریر وکړ، چې په دې ځای کې ډېر اغېزمن و.

## د ډاکټر سر شیخ محمد اقبال وینا

د سید سلیمان ندوي، او ډاکټر سر راس مسعود له ویناوو وروسته، چې زموږ د جذباتو ډېره ښه ترجماني یې وکړه، اوس داسې څه نه دي پاتې چې زه یې ووایم، خو زه فکر کوم چې د کابل ادبي ټولنې غړي به له ما هم دا هیله لري، چې په کوم ښه انداز دوی زموږ ښه راغلاست وکړ، د هغې په ځواب کې زه هم څه ووایم، زه د کابل ادبي ټولنې مننه کوم چې په خپلې مهربانۍ سره یې زما په اړه په نظم او نثر کې ښه څرګندونې، او د جذباتو ښکارندویي وکړه.

زه هیله لرم چې یوازې او یوازې د کابل ادبي ټولنې د ځوانو غړیو د عملي اړخ (فعالیت) او کارونو په اړه بحث وکړم، شک نه شته چې ټولنه د خپل کار او اهمیت او مسئولیتونو څخه ښه خبره ده، زما باور دی چې هنر، ادبیات، انځورګري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسيقي، يا معماري هر څه چې وي، هر يو د ژوند مرستندوی او خدمتګار دی، په همدې اساس پکار ده چې زه هنر ته ايجاد ووايم، نه تفريح، شاعر د يو قوم د ژوند اساسات ابادولای يا بربادولای شي، اوس چې حکومت هڅه کوي، په اوسني وخت کې افغانستان د تاريخ د نوي ژوند په ډګر کې داخل کړي، نو د دې هيواد شاعرانو ته پکار ده چې راتلونکو ځوانانو ته ريښتيني رهنما وګرځي، د ژوند د عظمت او لويې پر ځای مرګ ډېر ستر ونه ښيي، ځکه کله چې هنر د مرګ نقشه جوړوي، او هغه ستر ښيي، دا وخت هغه سخت ويروونکی او ويجاړونکی ګرځي، او که چېرې دا حالت د قوت له ښکلا څخه خالي وي نو يوازې د مرګ يو پيغام دی.

دلبری بی قاهری جادگری است
دلبری با قاهری پیغمبری است

زه غواړم ستاسې توجو يوې مرکزي نقطې ته راواړوم، د نبوي ژوند له پېښنو يوه پېښه ده، روايت دی، چې يو ځل د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور کې د مشهور عرب شاعر امرأ القيس ځينې اشعار ولوستل شول، هغه حضرت وفرمايل اشعر الشعراء و قائدهم الی النار.

ژباړه: تر ټولو غوره شاعر به اور ته د هغوی مشري کوي.

له دې ارشاد څخه ښکاري، چې ځينې وخت د شعر کمال پر خلکو ناوړه اغېز کوي، د يو قوم د ژوند پورې اړوند شيان يوازې شکل او صورت نه دی، بلکې هغه څه چې په حقيقت کې د قوم له ژوند سره اړيکه لري، هغه (فکر) دی، کوم چې شاعر يې قوم ته وړاندې کوي، او هغه لوړ نظريات دي، چې شاعر يې په قوم کې د پيدا کولو هڅه کوي، قومونه د شاعرانو په لاسنيوي سره پيدا کيږي، او د سياسيونو په ثبات سره وده کوي، او بيا مړه کيږي، نو هيله لرم چې د ځوان افغانستان شاعران او ليکوالان په خپلو همعصرو کې داسې روح پو کړي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرار کرا خپل ځان وپېژني، هغه قوم چې د پرمختګ پر لار ځي، د هغې ځان غوښتنه د ځانګړي تربیت سره تړلې ده، خو هغه تربیت چې خیر یې له احتیاط سره مل وي، نو په دې اساس د ټولنې دنده دا ده چې د ځوانو نسلونو فکرونه د ادبیاتو له لارې جوړ کړي، او داسې روحاني روغتیا ورته وبښي، چې په پای کې خپله ځانغوښتنه پیدا کړي، ورتیا تر لاسه او غړ پورته کړي.
زه یوې بلې نکتې ته اشاره کول غواړم، "موسیلیني"[۲۹] ښه نظریه جوړه کړې ده، د هغه د نظریې مقصد دا دی چې ایټالیې ته پکار دي، د خپلې ژغورنې لپاره یو شتمن کس پیدا کړي، تر څو د ایټالیې ګریوان د اینګلو سیکسن[۳۰] قومونو د پورونو له منګولو خلاص کړای شي، یا یو بل "دانتي"[۳۱] پیدا کړي چې یو نوی جنت وړاندې کړي، یا یو نوی "کولمبس"[۳۲] تر لاسه کړي، تر څو نوې لویه وچه پیدا کړي، نو که تاسې له ما څخه د افغانستان د نجات په اړه پوښتنه وکړئ، نو زه به ووایم چې افغانستان ته د یو داسې سړي اړتیا ده، چې دا هیواد د قبایلي ژوند څخه راوباسي، او د ملي یووالي له ژوند سره یې بلد کړي.

---

۲۹- موسیلیني (Benito Mussolini) ایټالوي دیکتاتور و، په ۱۸۸۳ کې زېږېدلی، په ۱۹۴۵ کې مړ شوی.

۳۰-Anglo-Saxon هغو خلکو ته اشاره کوي چې پېړۍ مخکې یې اروپا کې ځینې سیمې نیولې، او د اوسنۍ برتانیې او ویلز په ځینو برخو یې واکمني کړې ده.

۳۱-دانتي (Dante Alighieri) یو ایټالوي لیکوال، شاعر او فیلسوف و، په ۱۲۶۵ کې زېږېدلی په ۱۳۲۱کې مړ شوی.

۳۲- کرستوفر کولمبس (Christopher Columbus) یو ایټالوي کشاف و، په کې ۱۴۵۱ کې زېږېدلی او په ۱۵۰۶ کې مړ شوی، په لومړي ځل له امریکا لویې وچې سره د اروپا اړیکه پیدا کول هغه ته منسوب دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زه خوښ یم چې افغانستان ته یو داسې سړی په لاس ورغلی، چې له مودو یې انتظار کېدو، زه باور لرم چې د اعلیحضرت نادرشاه ایجادوونکی شخصیت د دې لپاره پیدا کړای شوی، چې افغانستان په اسیا کې یو نوی قوم وګرځوي، او له نړۍ سره یې پېژندګلو پیدا کړي، د دې هیواد ځوانانو ته پکار ده چې دا ستر لارښود د خپلې زده کړې او تربیې د معلم په توګه وپېژني، ځکه چې د هغه ټول ژوند د قربانۍ او اخلاص او د خپل هیواد سره د صداقت او د اسلام سره د مینې ځخه ډک دی.

له دې ویناوو وروسته خلک خوراک ته پورته شول، له خوراک وړاندې د لاس مینځلو سامان یعنی لوټه چیلیمچي موجود وو، خوراک د هوټل په منځنۍ خونه کې چمتو شوی و، څلورو خواوو ته د دایرې په شکل میزونه او چوکۍ ایښودل شوي وو، له میلمنو ډکې وې، زما په تخمین پنځوس شپېته تنه میلمستیا ته رابلل شوي وو، د هندوستاني طرز مطابق خوراک له وړاندې په دسترخوانونو ایښودل شوی و، بیلا بیل ډول غوښه، کباب، چرګ، پلاو، او ځینې اروپايي ډوله خوراکونه هم په خوراک کې وو، خوراک کې د افغانستان ځانګړی څه خاص نه و، موږ پکې د هندوستان او افغانستان د دسترخوانونو تر منځ کوم ځانګړی توپیر ونه لید.

زما څنګ ته یو عمر خوړلی افغان ناست و، چې هندوستان کې یې کلونه تیر کړي وو، له مرحوم سر سید احمد خان سره یې لیدنه شوې وه، له حکیم اجمل خان مرحوم سره یې هم مینه او ملګرتیا وه، ښه اوردو غږېدو، خو له دې عمر سره بیا هم د اشتها کومه ګله یې نه وه. له خوراک وروسته بیا پخوانۍ خونې ته راغلو او مجلس پیل شو، خو د پخوا په شان باقاعده نه و، زه په یو اړخ کې کېناستم، چرته چې یو مصري عالم زیدان بدران (د دار التالیف د تعلیم او تربیې غړی)، او یو بخاري فاضل چې د عربي ژبې شاعر او ادیب و ناست وو، له هغوی سره مې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره وخته په عربي خبرې وکړې، بخاري له بالشویک حکومت څخه تبنتیدلی او دلته یې پناه اخستې وه، د خپل هیواد دردونکې کیسې یې کولې، او ویل یې چې ژر به هندوستان کې راسره وګوري، هغه په شام کې زده کړه کړې وه.

لکه چې هندوستان کې پان یا لایچي خوړل کیږي، دلته په کاسو کې بادام او پیسته ایښې وه، چې خلکو به د مشغولتیا لپاره خوړل، دلته پان نه شته، چیلم مو هم ونه لید، خو په نویو خلکو کې د سیګرټ او سیګار رواج زیات دی، د ډاکټر اقبال خوښه مشغله چیلم (حقه) دی، هغه له ځانه سره خپل چیلم هم راوړی و، د چای په برخه کې دلته دا رواج دی، چې لومړی پیاله خوږه وي، خو نورې پیالې بې له بورې څخه تریخ څښل کیږي؟

میلمنو کې یو شینواری مولوي صاحب هم و، چې ډیلي او دیوبند کې یې زده کړه کړې وه، هغه وویل چې امان الله خان د اصلاحاتو په برخه کې له ما فتوا غوښتې وه، نو ما د دین او دولت دواړو د ګټو په نظر کې نیولو سره خپل نظر ولیکلو، او د هغې مسئلې ځواب مې ولیکلو، او هغه ته مې ورکړ، خو شاه د دې په لوستلو سره ډېر خفه شو، او زه یې نظربند کړم.

دا مجلس تر لسو بجو روان و، او بیا ټولو خدای پامانې وکړه، موږ په دار الامان کې خپل میشت ځای ته راغلو، شپه مو ارامه تېره کړه، یخني زموږ د سیمې د دیسمبر د میاشتې څخه زیاته نه وه، موجوده بړستنې کفایت کاوه.

## باغ بابر:

نن د اکتوبر میاشتې نولسمه نېټه وه، له سرورخان سره مو ژمنه وه چې نن به د کابل د ځینو مشهورو ځایونو لیدنه کوو، د سهار د چای څخه تر فراغت وروسته (چای هر چاته خپلې خونې ته وړل کېدو) د وتلو لپاره چمتو شوم، لومړی له سرورخان سره باغ بابر ته ولاړو، دا باغ د ښار له اوسنۍ ابادۍ څخه بهر د یو غر په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمن کې پروت دی، لاندې باغ او فوارې دي، او په لوړه برخه کې ودانۍ ده، له هغې څخه هم پورته د غر څخه بالکل لاندې په یوه احاطه کې د شهنشاه بابر مزار دی، موږ واورېدل چې د دې باغ په اخر کې ودانۍ امیر عبدالرحمن خان جوړه کړې، د دې لوړې و دانۍ، ښکلي باغ او فوارو په لیدو سره مو د لاهور د شالامار باغ یوه کوچنۍ منظره په نظر راغله.
کابل ته زما تر رسېدو مخکې زما ملګرو ته په همدې باغ کې د کابل د ښاروالۍ له خوا یوه میلمستیا ورکړل شوې وه، خو دا چې زه پکې شریک نه وم، ځکه د هغې میلمستیا تفصیلات راته معلوم نه دي.
د دې ودانۍ او مزار تر منځ د هندوستان د مغل ودانیو په طرز یو کوچنی مسجد جوړ شوی، دا مسجد شاه جهان په یو زر شپږ پنځوسم میلادي کال کې جوړ کړی، د مسجد د باندنۍ برخې د بام مخامخ د باچا تاریخي ډبرلیک د کال سره کیندل شوی دی، د مسجد څخه پورته بیا د بابر د مزار احاطه ده، له غر څخه یوه چینه راوتلې او لاندې بهیږي، د احاطې په داخل کې هم بې بامه برخه شته، د دې په منځ کې د شهنشاه بابر ساده ډبرین مزار دی، هغه چا چې د بابر د زامنو، او لمسیو مزارونه په ډیلي، اګره او لاهور کې لیدلي دي، هغوی به د دې ستر مشر ساده او بې ګمبدې او ودانۍ مزار په لیدلو سره بې اختیاره د عبرت اوښکې تویې کړي، خو ایا دا تسکین کم دی، چې د دولس زره کسانو په مرسته د دوه دېرش کروړه نفوس والا هندوستان په فتح کولو سره اوس هم د خپل قوم په ازاد هیواد په ازاده خاوره کې ارام کوي، د یو خپلواک سلطنت په جوړولو کې یې چې دولسو کلونو پورې له وچو غرونو سره سر وهلو، هغه له مرګ وروسته هم په یو غر کې ډبرو ته تکیه تکیه او ویده دی.
د جهانګیر تر وخته دې مزار ډبرلیک نه درلود، جهانګیر ورباندې یو ډبرلیک لګولی، چې څلور بیته فارسي شعر پرې لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بابر له مزار څخه لږ لرې د هندال مرزا او همایون د ورور حکیم مرزا مزارونه دي، د هغوی په قبرونو هم جهانګیر ډبرلیکونه نصب کړي، او په بله برخه کې یې د ډیلي د دویم عالمګیر د لور ګوهر النساء بیګم قبر دی.

په مزار لاندې کتیبه لګول شوې ده:

مرقد ګوهر النساء بیګم بنت عالمګیر ثاني بتاریخ ۲۷ شعبان ۱۲۰۲ هجري

معلومه نه ده چې دا ارزښتمنه ملغلره له ډیلي کابل ته ولې انتقال شوې وه.

د شهنشاه بابر د کورنۍ د دې بې وزله قبرونو لیدو مې په زړه ډېر اغېز وکړ، هغوی ته مو د مغفرت دعاء وکړه، د اوښکو دوه ګلان مې په شاهي مزار کیښودل، اعلحضرت نادرخان مرحوم په خپل وخت کې دا مزار جوړ کړی دی، او د ډېرو قیمتي ډبرو ګل یې پرې لګولی دی.

له مزاره راووتو، د چینې سره تېر شوو، او لاندې ښکته شوو، موټر د چوپتیا له ښاره د ابادیو پر لور مخه کړه.

# مکتب صنایع نفیسه:

افغانستان کې مدرسې یا ښوونځي ته مکتب ویل کېږي، د بابر له مزاره تر وتلو وروسته لومړی موږ مکتب صنایع نفیسه ته ولاړو، صنایع نفیسه معنی فنون لطیفه، دا مدرسه شاه امان الله جوړه کړې وه، د ډبرو ډېره ښه دوه پوړیزه ودانۍ ده، مخ ته یې د هلکانو د لوبو میدان دی، میدان احاطه هم لري، احاطه په یو پاټک بنده شوې ده، کله چې موټر ځنځیر ته ورسېد ودرید، ځینې ښونکي چې میدان کې ولاړ وو، اود ښوونځي مدیر ښاغلی غلام محمد خان صاحب موږ ته تود هرکلی ووایه، یو یو ټولګي ته یې بوتلو، د ټول ښوونځي لیدنه یې راباندې وکړه، دا وخت دې ښوونځي کې ټول پنځه سوه هلکان تر زده کړې لاندې وو، له فنون لطیفه څخه یې نقاشي، نجاري، قالین بافي، رنګ ریزي، او انځورګري او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کول، د نقاشۍ چې دلته ورته رسامي وايي، ښوونکی یو هندوستانی و، د قالین بافۍ استاد ایرانی و، او د نجارۍ په ټولګي کې مشر استاد الماني زده کړې ورکولې، زه هر یو ښوونځي ته ولاړم، د هلکانو کارونه مې وکتل، ما د لکهنو د هنرونو دولتي ښوونځی لیدلی دی، د دې ځای د صنایع نفیسه کار له هغه ځایه راته ښه وبرېښېد، موږ به چې هرې برخې ته رسېدو هلته به یو زده کوونکي د ښه راغلاست یو خاص غږ کولو، او د هغې په اورېدو سره به ټولو زده کوونکو په ادب سره سلام کولو، ما د دې نعرې د مفهوم او مطلب پوښتنه وکړه، نو راته وویل شول چې د دې معنی دا ده چې خبردار او هوښار اوسئ.

د انځورګرۍ په یو ټولګي کې یو زوړ پښتون د هلکانو په مخ کې په لوړ ځای چوپ پروت و، او طالبانو په پنسل د هغه د هر حرکت انځور کښلو.

د قالین اوبدلو ټولګی مې ټول وکوت، وړۍ دلته رنګېږي، او همدلته ترې تار چمتو کېږي، او تر اخره یې ټول پړاوونه پوره کیږي، دا رنګ د اروپا جوړ نه دی، دا رنګ همدلته په پخواني ډول له بوټو جوړیږي، او بیا یې په ګرمو اوبو کې جوشوي، او بیا ډېر زلیدونکی پوخ رنګه تار تیاریږي، بیا ترې قالینې جوړیږي، ما تر ټولو لومړی همدا وکوت، د کوچنیو او سترو غالیو لرګین چوکاټونه په دیوالونو لګېدلي وي، او په هغې کې کوچني تارونه له پورته څخه لاندې ترل شوي وي، بیا د هر چوکاټ مخې ته څو هلکان ناست وي، او د هغې په ټکونو ډکولو بوخت وي، د قالینې له پیل مخکې یې نقشه او ډیزاین جوړیږي، نقشې له اول څخه چمتو شوې وي، د هغې هر رنګ او ځای او اندازه د ګلانو په ډول داسې جوړ شوي وي، لکه د مصورۍ نقشه، دا د نقطو په شکل جوړه شوې وي، د استاد یا بل پوه شاګرد په لاس کې دا نقشه وي، او هغه په خاصه ژبه یا اصطلاح لارښوونې کوي، د هلکانو لاسونه د هغې سره سم د ماشین په ډول په تارونو حرکت کوي، او د لاسونو لاندې یې بیلا بیل ډول نقش او ښکلا جوړیږي، پوښتنه مې وکړه، راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل شول چې دا د ترکي ژبې اصطلاحات دي، د دې ځای جوړې غالۍ له خپلې ښکلا، ښایست او د زیات وخت پاییدو کې له ایرانیو او ترکي قالینو سره سیالي کوي، خو افسوس چې دومره په زیاته اندازه نه جوړیږي، چې بازارونو او د نورو هیوادونو مارکیټونو ته ورسیږي.

د نجارۍ کارخانې په لیدو مې زړه خوشاله شو، دومره ښکلی لرګی چې ما په هندوستان کې هم نه دی لیدلی، هغه لرګی چې په ممبي او برما کې تر ټولو غوره لرګی بلل کیږي، د دې ځای لرګي له هغې هم ښه و، یعنی دومره پاخه او د وزن والا او دومره ځلانده چې له رندې او خرادۍ پرته هم د رندې او خرادۍ په څېر معلومیږي، په لرګیو داسې ښکلې کرښې چې خپله د یو نقش په توګه معلومیږي، دلته د لرګي غوڅول، جوړول، او بیا جلا جلا کول او بېرته جوړول معمولي کار و، اخیري کار یې له دې څخه شیان جوړول او د هغې نقشې او ډیزان جوړول دي، چې بیا ترې وسایل جوړ شي، د وروستي ټولګي استاد یو الماني و، د حکومت اثر دومره دی کله چې ما په ټولګي کې قدم کېښود، نو هغه اسلام علیکم په ویلو سره ښه راغلاست ووایه.

د صنایع نفیسه د ډیریو ټولګیو له لیدلو څخه وروسته مو بهر په میدان کې هغه ځای ولید چې اوسنی حکومت یې په دې مدرسه کې جوړوي، دا ودانۍ تر جوړېدو لاندې وې، چې په بشپړېدو سره به یې د دې مدرسې حیثیت نور هم لوړ شي، او مدرسه به هم پراخه شي.

# دولتي موټرخانه

په ستنیدو سره مو موټر خرابه شو، چلونکي دولتي موټرخانې ته بوت، دا کوچنۍ ودانۍ ده چې ډېرې مستري خانې پکې دي، دلته خراب موټر ترمیم کیږي، د موټرخانې افسر په ډېرې توجه او پاملرنه له موږ سره مخ شو، د افسر خان په وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دا موټر د ترمیم لپاره واخیست او بل جوړ موټر یې راکړ، دا کارخانه هم اوسني حکومت جوړه کړې ده.

## د نویو دوکانونو ودانۍ

له موټرخانې څخه د تګ پر مهال مو د نویو دوکانونو نوې ودانۍ ولېدې، دا د اروپایي دوکانونو په څېر جوړ شوي دي، په دروازو کې یې د دې لپاره پوره هنداري لګېدلي چې د دوکان په بندیدو سره بیا هم خلکو ته شیان ښکاره شي، دا ودانۍ هم اوسني حکومت د دوکانونو لپاره جوړې کړي دي، او تر کار لاندې دي، که دا دوکانونه جوړ شي، نو په کابل به د بمبي یا کوم اروپایي ښار شک پیدا شي.

## هوایي ډګر

د دې دوکانونو مقابل لوري ته کوم بل سرک نه دی جوړ شوی، مخامخ ورته یو لوی میدان دی، چې ښه هوار کړای شوی، دا میدان د الوتکو د کېناستو لپاره خاص کړای شوی دی.

## د بالاحصار حربي ښوونځی

په ښوونځي مخکې د بالاحصار غر او یو اوار میدان پراته دي، دا د کابل تر ټولو لوړه سیمه ده، ورسره نږدې د جهیل یا ډنډ په بڼه اوبه خپرې دي، دا په لومړي سر کې د کابل د امیرانو او والیانو د حاکم کېناستو کلا وه، د تاتاریانو د برید پر مهال هم دا کلا موجوده وه، خو په اصل کې بابر نوره هم پیاوړې کړه، کله چې همایون په خپل ورور برید وکړ، هغه دا مهال په همدې کلا کې و، دا هماغه کلا ده چې کوچنی اکبر پکې خپل ظالم کاکا د خپل پلار د توپونو مخ ته ځکه کېنولی و، چې د همایون د توپونو ډزې په کلا ونه لګېږي، کله چې اکبر په تخت کېناست؛ نو هغه دا کلا له سره جوړه کړه، کله چې جهانګیر پر تخت کېناست، هغه په کاشي کاریو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره دا نوره هم ښکلې کړه، د شاه جهان په وخت کې علي مردان خان د کابل حاکم
چې د شاه جهان میر عمارت هم و، دلته نورې ډېرې نوې ودانۍ جوړې کړې، او
دکابل مشهوره چهار چته هم د همده له خوا جوړه شوې ده، ورسره نږدې
اورنګزیب مسجد ګدري[۳۳] جوړ کړ.
په هر حال تر پنځوس شپېتو کلونو مخکې پورې دا کلا د کابل د ټولو سدوزیو
امیرانو، حاکمانو او سلاطینو دار الحکومت، او قیامګاه وه، په نولس سوه او
شپږ نوي هجري، اتلس سوه نهه اویا میلادي کې کله چې انګریزانو د خپل وژل
شوي سفیر (کیوناري)[۳۴] په غچ کې پر کابل برید وکړ، نو دا کلا یې په باروتو
والوزوله، کلا په لوټو او ایرو بدله شوه، او تر اوسه همداسې ویرانه پرته ده.
تېر کال مرحوم اعلحضرت نادرخان شهید د دې ځای د تاریخي حیثیت د
راژوندي کولو لپاره د حربي ښوونځي لپاره غوره وباله، تېر کال د ثور په اولسمه
نېټه خپله شاه شهید په دې تاریخي ځای کې د حربي ښوونځي د بنسټ ډبره
کېښوده، د کابل ټولو دولتي مسئولینو، مشرانو او خلکو په خپلو لاسونو بیلچو
ته لاس کړ، او دا ځای یې اوار کړ، ګویا دا ورځ د کابل د قومي جوش او جذبې تر
ټولو لویه تاریخي څرګندونه وه، کله چې زه دې ځای ته ورسېدم، زما ملګري
سرور خان په ډېر ویاړ سره دې میدان ته اشاره وکړه، او په یو مخ یې د افغانانو د
تېرو شپږ سوه کلونو روایات راته تکرار کړل، تر اوسه دا ودانۍ طرحه شوې نه ده،
که د شاه د شهادت دا غمژنه پېښه نه وه رامنځ ته شوې، نو شاید چې د ودانۍ د
جوړېدو چارې ژر پیل شوې وې.

---

[۳۳]-مسجد ګدري یا مسجد ګذري د کابل په زاړه ښار کې موقعیت لري، د افغانستان په کورنیو جګړو کې ورته یو څه زیان رسېدلی دی.

[۳۴]-Pierre Louis Napoleon Cavagnari افغانستان لپاره د برتانیې د دیپلوماتیک ماموریت غړی و، او د ۱۸۷۹ز کال د سپتمبر په دریمه نېټه د کابل په بالاحصار کې افغان مجاهدینو وواژه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دوه اصحابو مزار

موټر د بالاحصار له ودانۍ لاندې ولاړ، د بالاحصار بل ارخ ته ورسېد، چې شاید هلته پخوا ابادي وه؛ خو اوس ویران پروت و، مخکې د غره په لمنه کې یوې پخوانۍ هدیرې ته ورسېدو، د دې هدیرې په اړه مشهوره ده چې دلته د دوه صحابه وو مزارونه دي، د افغانانو منځ کې د هغوی نومونه هر یو حضرت تمیم، او حضرت جبیر مشهور دي، په تاریخي لحاظ د دې دوه شخصیتونو په ثبوت رسېدل ستونزمن دي، خو د عام شهرت قطعي درواغ ګڼل هم مشکل دي، په هر حال که هغوی صحابه دي، که تابعیان دي، خو د شهید پاچا حکومت د هغوی په وړاندې د عوامو د عقیدت له کبله د دې دواړو قبرونه ترمیم کړی دی، او کله چې زه هلته ورسېدم نو شا او خوا یې د ودانۍ کار روان و، په مخ کې یې د یوې فوارې په جوړېدو کار روان و، هلته مو مسنونه دعاوې وکړې، او روان شوو.

# د سفیرانو ځایونه

د ستنېدو پر مهال له هغه سرک څخه تېر شوو چرته چې د بهرنیو هیوادونو د سفیرانو ځایونه دي، زما ملګري راته وویل، نور هیوادونه چې له افغاني سفیرانو سره کوم چلند کوي، دلته د هغوی له سفیرانو سره هماغه شان چلند کیږي، یعنی که هغوی د ځایونو کرایه اخلي، نو افغان حکومت هم له دوی کرایه اخلي، او که وړیا ځای ورکوي، نو دلته ورته حکومت بې کرایه ځای برابروي، کله چې موږ د ایراني سفیر له استوګنځای څخه تېرېدو، نو راته وویل شول دا چې ایران د افغان سفیر څخه کرایه نه اخلي، نو ده ته هم دلته په دوستانه ډول بې کرایې ځای ورکړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امان الله خان له زماني څخه د انګریزانو سفارت په یو داسې ځای کې دی، چې د کوه دامن او د حربي ښوونځي تر منځ واقع دی، ویل کېدای شي چې دا ځای د دواړو هیوادونو د سیاسي ګټې پر اساس مناسب دی.

## دار العلوم عربي

ما د عربي مدرسې د لیدنې غوښتنه وکړه، چې دار العلوم یې نوم دی، دا د پخواني ښار په یوه کوڅه کې موقعیت لري، د کوڅې په سر کې موټر ودرېد، له لړ پلي مزل وروسته د یوې سترې ودانۍ پر دروازه د دار العلوم لوحه لګېدلې وه، لویه دوه پوړیزه ودانۍ ده، دواړو کې د مدرسې ټولګي دي، د مدرسې د رئیس نوم قاري عبدالرسول خان دی، استادان یې اکثره هغه افغاني علماء دي، چې هندوستان کې یې زده کړې کړې دي، ټولو په فارسي ژبه ویناوې کولې، د طالبانو پر سرونو ګردې افغانۍ پګړۍ وې، وړینې چپنې یې اغوستې وې، په ادب سره یې د استادانو تقریرونه اورېدل.

لومړی ټولګی مو چې ولید د مشکات درس پکې ویل کېدو، هغه ځای لوستل کېدو چې اوقات ثلاثه (زوال، طلوع او غروب) کې د لمانځه د کولو ممناعت دی، ورسره هغه حدیث و، چې دا بیان کوي که د لمر خاته نه مخکې د سهار یو رکعت اداء کړای شي، یا د لمر پریوتو څخه مخکې د مازدیګر یو رکعت پوره شوی وي، نو دواړه لمونځونه کیږي، له دې کبله چې د امام ابو حنیفة مذهب په دې برخه کې دا دی چې د مازدیګر لمونځ خو کیږي، خو د سهار نه کیږي، او استاد د احنافو علماوو په هغه مشهوره طریقه استدلال وکړ چې په دواړو حدیثونو کې چې د لمانځه منع ده، او که یو رکعت یې ونیو، نو دواړه لمونځونه صحیح دي، نو په دې دواړو حدیثونو کې تعارض دی، موږ قیاس ته رجوع وکړه او دا پریکړه وشوه، چې له دې کبله چې د مازدیګر لمونځ په ناقص وخت کې پیل شوی دی، او په ناقص

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې پوره شوی دی، له همدې کبله صحیح دی، او د سهار لمونځ په صحیح وخت کې پیل شوی دی، او په ناقص وخت کې بشپړ شوی دی، له دې کبله دا صحیح نه دی، زما زړه و چې عرض وکړم چې دواړو حدیثونو کې تعارض نه شته، د منع د حدیث منشأً دا ده چې عین د زوال او طلوع او غروب په وخت کې لمونځ پیل نه شي، او د دویم حدیث مفاد دا دی چې که چا د طلوع یا غروب نه مخکې لمونځ پیل کړی وي، چې له لومړي رکعت وروسته په دویم رکعت کې لمر راوخوت یا پریوت، نو لمونځ دې نه ماتیږي، بلکې پوره دې شي، او دا لمونځونه به صحیح وي، خو د افغان علماوو تشدد ته په کتنې سره مې دا جرأت ونه کړ، سرورخان وویل چې دا څه پوښتل غواړي، خو ما وویل چې نه اړتیا نه شته.

له دې ځایه دویم پوړ ته ولاړو، هلته د هدایې درس روان و، ورسره مخامخ خونه کې د هیئت قدیم شرح چغمني تدریسېده، د سبق تر ختمېدو وروسته مولانا په ښه خوی سره مصافحه وکړه، او خبرې یې وکړې، د دومره نرمۍ په لیدلو سره ورته ما وویل چې صاحبه لا تر اوسه خو اسمان هم ثابت نه دی، او تاسو د اسمانونو په ترتیب باندې استدلال کوئ، هغه وویل څه وکړو، دلته چې دا علوم ونه لوستل شي، هغه ته ملا نه ویل کیږي.

د مدرسې د نصاب نقشه مو وکتله، هغه کتابونه و چې د هندوستان په پخوانیو عربي مدرسو کې لوستل کېدل، طالبانو کې دوه خبرې عجیبه وې، لومړی دا چې هیڅ طالب د عمر په لحاظ له پنځه ویشتو، دېرشو او څلویښتو کلونو څخه کم نه و، د ټولو ښې لویې ږېرې وې، او دویم دا چې په دې طالبانو کې مو د تېزۍ او ذهانت کوم ثبوت ونه لید، زموږ په مدرسو کې که چېرې له بهر څخه څوک راشي، نو ښه طالب د خپل ذهانت او تېزۍ د ښودلو لپاره له استاد څخه پوښتنې او اعتراضات او جوابات په پوره ځواک سره نمایش ته ږدي، د افغان عربي طالبانو د طبیعیت دا سوړوالی اصلاً د هغوی د دماغي قوت کمزورۍ له کبله نه و، بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلیم د طریقې او کمزورۍ او تربیت د ډول خرابي ده، ځکه همدا افغان طالبان چې کله نوي علوم لولي، نو د هغوی فطري ذهانت او تیزي په پوره ډول څرګندیږي. د دې اړتیا ده چې د دې مدرسې په نظام تعلیم کې اصلاحات راوستل شي، او په نصاب کې یې نوي علوم داخل کړای شي، او د اړتیا سره سم د دې طالبانو د اوسېدو او ژوند او ژواک په طور او طریقو او پاکوالي او د خیال لوړوالي ته پاملرنه وشي، دلته عالمانو ته داسې کتل کیږي، چې یا خو دا یوه هنداره ده چې لږ لاس وروړل شي، نو ماتیږي، یا باروت دي، که په بې غورۍ تودوخه وروسپړي؛ نو چاودنه کوي، او زلزله به پیدا کړي، دا خطر تر یو بریده صحیح هم دی، مګر که افغانستان ژوندی پاتې کېدل غواړي، نو د دې خطر سره یو ځل مخ کېدل لازمي دي، او د دې صحیح صورت دا دی چې د زده کړې طریقه د تعلیم نظام او نصاب کې ورور ورو اصلاحات راوستل شي، او داسې علماء پیدا شي چې په نوې زده کړه کې د افغان ځوانانو رهبري وکړای شي، او په ګټورو اصلاحاتو په پرمختګ کې مرسته وکړي، د افغانستان علماوو په پخوانیو حکومتونو کې ستر کارونه کړي دي، داسې څه نه شته چې دوی دې بیا هغه کارونه ونه کړای شي، د نظم،دین او دانش د اصلاح ځومره کارونه دي، چې د دوی د پاملرنې منتظر دي.

## نوې مدرسې

د عربي مدرسې پرته دلته د نوي تعلیم مدرسې هم شته، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

مکتب حبیبیه، مکتب نجات، مکتب استقلال، مکتب دار المعلمین، مکتب غازي، مکتب صنایع نفیسه، مکتب زراعت، مکتب طبي، دالحفاظ، یتیم خانه نادري، مکتب دواسازي، مکتب حربیه، مکتب قبایل، دا سترې مدرسې دي، له دې پرته په ښار کې درې نورې ابتدایي مدرسې هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د مکتب لفظ لیسې یا کالج ته کارول کیږي، چې له هندوستاني مکتبونو څخه په نوم کې توپیر لري.
په دې ښوونځیو کې تر ټولو پخوانی یې حبیبیه ده، چې امیر حبیب الله یادګار دی، د هغه په وخت کې جوړ شوی و، دلته پخوا او اوس هم ډیری یې هندوستاني مسلمان استادان دي، تعلیم یې انګریزي وي، حربي ښوونځی هم له پخوا څخه دی، امیر امان الله خان په خپله زمانه کې یو د فرانسوي او بل د الماني ژبې دوه ښوونځي جوړ کړي وو، چې د یو نوم امانیه او د بل نوم اماني ایښودل شوي و، خو اوس د الماني لیسې نوم مکتب نجات او د فرانسي لیسې نوم مکتب استقلال دی، په دار المعلمین کې استادان روزل کیږي، د صنایع نفیسه ښوونځي یادونه مخکې شوې ده، د زراعت مکتب د کروندګۍ او باغبانۍ د زده کړې لپاره دی، د کابل او پغمان تر منځ یې ودانۍ ده، طبي مکتب د نادرخان د وخت یادګار دی، دا په دار امان کې واقع دی، او د هغه دار الفنون یعنی دکابل پوهنتون فکر د مرحوم شاه سره و، د هغې د لومړي بنسټ په توګه همدا د کابل طبي لیسې څانګه جوړه شوې ده، اوس یې چارې روانې دي، تر څنګ یې د درمل جوړولو یوه مدرسه هم پرانیستل شوې، تر څو خپله افغانستان کې درمل جوړ شي.
دار الحفاظ ته زده کوونکي یوازې د قرآن حفظ لپاره ورځي، او حافظان ځینې جوړیږي، یتیم خانه مرحوم نادرخان جوړه کړې، دلته د ښار یتیمان اوسیږي او درس وایي، په مکتب صنایع کې صنعت او حرفه زده کیږي، په حربي ښوونځي کې پوځي زده کړه کیږي، او ډېره برخه یې جوړه شوې ده، استادان یې ترک، ایټالیایان، جاپانیان، او جرمنیان دي، نادرخان په خپله زمانه کې د مکتب قبایل په نوم یوه بله جنګي لیسه جوړه کړې وه، په دې کې د سرحد لویو لویو ملکانو اولادونو ته وړیا پوځي تعلیم ورکول کیږي، سرورخان ګویا راته وویل چې اوس هلته درې سوه ماشومان زده کړې پر مخ وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکتب نجات او مکتب استقلال چې د هغې اولني نومونه امانیه او اماني دي، الماني او فرانسوي زده کړو لپاره ځانګړي دي، د استقلال څخه موخه د افغان انګریز وروستۍ جګړې څخه وروسته د امان الله خان له خوا د افغانستان استقلال دی، او د نجات څخه مطلب د بچه سقاو د فتنې له منځه تلل دي، د دې دوه مدرسو نوي نومونه د افغانستان د دوه تېرو شویو مهمو واقعو یادګار دی.

افغانستان کې تر اوسه د زده کړې کوم واحد نظام نه دی جاري شوی، حبیبیه، نجات او استقلال د درې ډوله درې بیلا بیلې درګاوې دي، چې په اول کې انګریزي، دویم کې الماني، او دریم کې فرانسوي تعلیم ورکول کیږي، او دا ویل کیږي چې انګلستان، فرانس او المان درې هیوادونو کې چې کوم علوم او فنونو زده کړې غوره وي، د هغې لپاره دلته افغان بچیانو ته د انګریزي، الماني یا فرانسوي تعلیم ورکول کیږي، او بیا د لوړو زده کړو لپاره انګلستان، فرانسې یا المان ته استول کیږي، مطلب دا چې دلته د یادو درې هیوادونو د ابتدایي تعلیم مدرسې شته، او د دې زده کړو اصلي تکمیل یا په انګلستان، یا فرانسه او یا المان کې کیږي.

د تعلیم دې نظام په هیواد کې زیاته ستونزه پیدا کړې، د یو افغان زده کوونکي اروپا ته تګ راتګ او هلته تعلیم بیا په پاتې کېدلو چې څومره لګښت کیږي، په هغې لګښت افغانستان کې یوه کوچنۍ مدرسه چلېدای شي، سربېره پر دې په هیواد کې درې بیلا بیلې بهرنۍ ژبې، بهرنی ژوند، بهرني سیاستونه، او بهرني ذهنیتونه ریښې کوي، د کوم زیان که نن افغانستان ته نه رسیږي، خو سبا به داسې معلوم شي، لکه څنګه چې ترکیې ته په تېر نړیوال جنګ کې معلوم شو، همدا هغه افکار دي چې پر اساس یې شاه نادرخان ته خپله په کابل کې د یو افغان پوهنتون (دار الفنون کابل) د جوړولو اړتیا احساس شوه.

له مدرسو وروسته د اوسني تمدن دویمه ستنه مطبعه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولتي عمومي مطبعه:

له دار العلوم څخه تر وتلو وروسته عمومي مطبعې ته ولاړو، که څه هم دلته د مطبعو رواج د امیر شیرعلي خان له زمانې پیل شوی، خو د دې چارې تکمیل د اخبارونو او چاپ په ډول د امیر حبیب الله خان له زمانې شوی، ځکه خو د سراج الاخبار د چاپ لپاره د یوې ښې مطبعې اړتیا محسوسه شوه، او ټایپینګ پیل شو، د امیر امان الله خان په زمانه کې لا زیات پرمختګ وشو، او د عمومي مطبعې په نوم یوه لویه دولتي مطبعه جوړه شوه، عجیبه دا ده چې د افغانستان په دې تبلیغاتي دور او هر انقلاب چې رامنځته شوی، د حکومت نورې کارخانې خرابې شوې، خو د خپراوي د کارخانې له اړتیا هیچا انکار نه دی کړی، د امان الله خان په زمانه کې دلته امان افغان چاپېده، د بچه سقاو په فتنه کې دلته حبیب الاخبار چاپیدو، او د نادرشاه په زمانه کې بیا اصلاح چاپیدو، چې اوس هم په همدې نوم چاپیږي.

عمومي مطبعه د شاهي ارګ سره نښتې موقعیت لري، د سرک لور ته دوه ودانۍ دي، او د دواړو منځ کې یوه کوچنۍ کوڅه ده، له موټر ښکته شوو، لومړی یوې ودانۍ ته ننوتو، دا یو پراخه تالار و، چې دلته په پښو د چلېدو د ټایپینګ یو ماشین، او نور لوی لوی ماشینونه ایښي و، کار پرې کېدو، دا هر څه په بریښنا چلېدل، زما په فکر اته یا لس ماشینونه دلته و، دا ښخي پاک، او د نوي قسم ماشینونه و، دولتي پاڼو د راجستر کاغذ، د پوسته خانې ټیکټې، او له نورو دولتي کارونو سربېره دولتي کتابونه، د ادبي ټولنې تصنیفات، او رسالې، او هره ورځ چاپېدونکی اخبار اصلاح او نور دلته چاپېدل.

دا وخت په چاپخانه کې په یو ماشین د راجستر پاڼې، په بل د کابل رساله، او په درېیم قرآن کریم چاپیدو، دا قرآن کریم د افغانستان د حکومت له خوا د علماوو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلس تر ځار لاندې په ډېر اهتمام سره چاپیږي، تر اوسه یې دوه سیپارې چاپ شوی دي.

وریسې د مطبعې دویمې ودانۍ ته ولاړو، دا د مطبعې د صناعت نفیسه ځانګه وه، دلته زنکو ګرافي[۳۵]، فوټوګرافي (انځور اخیستل)، او ښکلو هنرونو (هنرهای زیبا) ډېر اعلی او ښکلي چاپ روان و، دلته یوه خونه په تورو پردو پوښلې او د انځور اخیستلو لپاره چمتو شوې وه، او همدلته یې د بلاک جوړولو، او بیا د چاپ وسایل موجود وو.

د دې ځای ډیری عمله خپله افغان کار کوونکي دي، مشر افسر یې صوفي عبدالحمید خان دی، سره له دې چې ډنګر دی، خو بیا هم په خپل فن کې ډېر ماهر دی، دلته مو دوه الماني کار کوونکي هم ولیدل، او د زینکو ګرافي استاد یو ترکی و.

په دې چاپ ځای کې ما درې ځانګړتیاوې ولیدې:

اول، وسایل یې تر ټولو اعلی، عمده او نوي وو.

دویم، د کار ډول یې ډېر صاف ستره و.

دریم دا چې چاپ ځای او ټول کار کوونکي له بره تر ښکته ډېر صاف او پاک و، هیچرته داغ نه لیدل کېدو، نه په ځمکه خځلې پرتې وې، حتی چې چټل کاغذ هم په ځمکه ونه لیدل شو.

صوفي صاحب وویل چې نادرشاه د مطبعې لپاره له المان څخه نوي ماشینونه راغوښتي دي، چې ډېر ژر به راورسیږي، او په رارسېدو سره به دې دا مطبعه دوه چنده ښه شي.

---

[۳۵]-زینکوګرافي (Zincography) د جستو دپاسه د تورو د کیندلو او بیا چاپ یوه طریقه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخبارونه او رسالې

د دې مطبعې په مناسبت دلته د چاپيدونکو اخبارونو او رسالو يادونه هم اړينه ده، افغانستان کې تر ټولو لومړی اخبار د امير شيرعلي خان په زمانه ۱۲۹۰ هجري کې د شمس النهار په نوم اونيزه چاپېده، بيا د سراج الدين و المللة امير حبيب الله خان په زمانه کې سراج الاخبار چاپيدو، خو په حقيقت کې د امیر امان الله خان په زمانه کې د خلکو توجه اخبارونو ته زياته شوه، له کابل څخه د امان افغان دولتي اخبار چاپېدل پيل شول، او په همدې زمانه کې جنرال نادر خان په ۱۳۳۸ هجري کال کې له جلال اباد څخه د اتحاد مشرقي په نوم دويم اخبار چاپول پيل کړل.

په هر حال، اوس چې دلته کوم اخبارونه او رسالې چاپيږي، په لاندې ډول دي:

اول: اصلاح کابل، کله چې نادرشاه د بچه سقاو د فتنې پر ضد په جهاد بوخت و، نو له خپل پوځي مرکز څخه يې په همدې نوم يو موقت اخبار چاپول پيل کړل، او له بريا وروسته يې دا د يو مستقل دولتي اخبار په توګه چاپول پيل کړل، دا اخبار په څلورو لويو صفحو کې په نسخ ټايپ باندې چاپيږي، ژبه يې فارسي ده، ډېرې پکې اخلاقي، ادبي، سوداګريز، مذهبي، قومي او سياسي مقالې خپريږي، او د نورې نړۍ خبرونه هم پکې چاپيږي، وروسته سيمه ايز خبرونه دي، او د حکومت اعلانونه دي، بيا پکې مجله ده، د مدير نوم يې برهان الدين کشککي دی، په هيواد کې يې نرخ دېرش افغانۍ او له هيواده بهر يې قيمت نيم پاونډ دی.

دويم: انيس کابل، له نن شپږ کاله مخکې په ۱۳۰۶ هجري کې په دولتي کچه د دې اخبار چاپ پيل شو، او تر اوسه چاپيږي، اوس يې حيثيت د دولتي پر ځای قومي دی، د اوسني مدير نوم يې محمد امين خان خوږيانی دی، په اونۍ کې يو ځل چاپيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيم: اتفاق اسلام، هرات: د دې اخبار چاپ په ۱۲۹۹ شمسي کال کې پيل شوی و، او تر اوسه چې ۱۳۱۳ شمسي کال دی چاپيږي، په هندوستان کې د افغانستان اوسنی کونسل جنرال صلاح الدين خان سلجوقي هم د دې مسئول مدير پاتې شوی، اوسنی مدير يې مير محمد عثمان الحسيني دی.

ځلورم: بيدار، مزارشريف: دا په ۱۳۰۰شمسي کې چاپيدو، د پخواني خراسان اوسنی نوم مزارشريف دی، چې دلته د حضرت علي کرم الله وجهه راتلل مشهور دی، او له همدې کبله يې نوم مزارشريف مشهور شوی دی، دا د روسي ترکستان سره پر پوله پروت ښار دی، د اوسني مدير نوم يې مجاهد دی.

پنځم: طلوع افغان، کندهار: د دې اخبار هم په ۱۳۰۰شمسي کې چاپ پيل شوی و، لومړی د دې ژبه هم فارسي وه، خو اوس يې ژبه پښتو ده، او اوسنی مدير يې عبدالحی خان دی، کندهار نن سبا د پښتو تحريک مرکز دی.

شپږم: اتحاد، خان اباد قطغن: د دې خپريدل په ۱۳۰۰ شمسي کې پيل شوي، او تر اوسه چاپيږي، اوسنی افتخاري مدير يې غلام جيلاني خان جلالي دی.

پر دې اخبارونو سربېره له کابل څخه خاص ځينې رسالې هم خپريږي، چې په لاندې ډول دي:

اول: مجله کابل: دا د کابل د ادبي ټولنې رساله ده، ادبي، علمي او تاريخي مضامين پکې خپريږي، په مياشت کې يو ځل چاپيږي، په دې کې د افغانستان د ټولو سترو اديبانو او شاعرانو مضامين او شعرونه چاپ ته سپارل کيږي، د نورو ژبو تحقيقي مضامين هم ژباړه او بيا دې کې ځای ورکول کيږي، ښه انځورونه او نقشې هم پکې شته، له درې کلونو څخه خپريږي، قيمت يې نيم پاونډ دی.

دويم: اينه عرفان، دا رساله د امير امان الله خان په زمانه په کال ۱۳۰۳ شمسي کې پيل شوې؛ خو بيا بنده شوه، د نادرخان په زمانه کې يې بيا چاپ پيل شو، او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسه چاپیږي، دا د افغانستان د پوهنې د وزارت رساله ده، په دې کې د مدرسو او ښوونځیو استادان خپل مضامین او ژباړې نشروي، د مدرسو حالات هم پکې نشریږي، د مدیر نوم یې هاشم خان شایق دی، کابل کې یې قیمت نهه افغانۍ، ولایتونو کې لس افغانۍ، او هندوستان کې څلور نیمې روپۍ قیمت لري.

دریم: مجله اقتصاد، په دې رساله کې سوداګریزې، کرهنیزې، مالیاتې، صنعتي او په لنډ ډول معاشي مضامین نشریږي، دا هم د نادرخان د حکومت د وخت یادګار دی، له درې کلونو راهیسې چاپیږي، په میاشت کې دوه ځل چاپ نه راوځي، مدیر یې محمد نعمان ترکی دی، افغانستان کې یې په کابل کې قیمت شپږ افغانۍ، ولایتونو کې اوه افغانۍ، او له هیواده بهر لس شلنګه قیمت دی، دا رساله دلته د سوداګرۍ وزارت استازې بلل کیږي.

څلورم: مجموعه اردوی افغان، دا د افغانستان پوځي رساله ده، د امیر امان الله خان په زمانه کې چاپیده، خو بیا بنده شوه، د نادرخان په زمانه کې یې بیا چاپ پیل شو، د افغانستان د نظامي برخې، یعنی د پوځ ځینې پوځي افسران پکې مضامین لیکي، د مدیر نوم یې سید اکبرخان دی.

پنځم: مجموعه صحیه: دا د افغانستان د روغتیا اداري (حفظان صحت) له خوا چاپیږي، دا لومړی د امیر امان الله خان په زمانه ۱۳۰۶ لمریز کې چاپیده، چې بیا بنده شوه، بیا د نادرخان په زمانه کال ۱۹۱۰ میلادي کې پیل شوه، اوس هم چاپیږي، د مدیر نوم یې رشید لطیفي دی، کابل کې یې قیمت شپږ افغانۍ، ولایتونو کې اته افغانۍ، او له هیواده بهر څلور شلنګه دی.

شپږم: حي علی الفلاح: دا د افغانستان د دنیاتو د اداري یا د علماوو د مجلس استازولي کوي، میاشت کې یو ځل چاپیږي، مذهبي، او اخلاقي مضامین پکې چاپیږي، د مدیر نوم یې میر غلام خان دی.

د ټولو رسالو ژبه فارسي ده، او په عمومي مطبعه کې ټایپ او چاپیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کابل څخه بهر دوه نورې رسالې هم چاپيږي، چې يوه پښتو، او بله فارسي ده، فارسي له هرات ښاره چاپيږي، او پښتو له کندهار څخه، چې دا د کندهار د ادبي ټولنې استازولي کوي.

## د سپه سالار شاه محمود خان د مخه ښې ليدنه

له مطبعې بېرته دار الامان ته راغلو، شيبه وروسته وزير حربيه سردار شاه محمود خان د ليدلو لپاره راغلو، د سر راس مسعود په خونه کې ټول ناست او د ادبياتو په اړه مو بحث کاوه، له سردار شاه محمود خان سره مو د خيام د کتاب يادونه کوله، او دا هم يادونه شوې وه، چې د هغې يوه نسخه ما له ځانه سره راوړې وه، سردار له هغې سره لېوالتياوښوده، تصادفاً دا نسخه اوس د سر راس مسعود په مطالعه کې وه، هغه يې ډېره ستاينه وکړه، او د يادې نسخې په مخ بې دا وليکل چې (ما دا کتاب د مولوي سيد سليمان صاحب ندوي نه پټ کړی، او سردار شاه محمود خان ته يې تقديموم) او کتاب يې هغه ته ورکړ، ما له همدې ليکنې لاندې داسې وليکل چې (زه د خپلې مينې او عقيدت د يادګار په توګه دا کتاب هغوی ته تقديموم) سردار دا کتاب په ډېر شوق سره واخيست، ورپسې يې بيا له هر يو سره په غېږه خداي پاماني وکړه، او ولاړ، حقيقت دا دی چې هغه کې د مينې ډېر څه شته، ډېره ښه اردو وايي، هغه د هندوستان د يو لايق استاد مولوي نجف علي خان د ورور ډاکټر عبدالغني صاحب (پنجاب) شاګرد دی.

## پغمان:

مخکې مو يادونه وکړه چې د دربار وزير سردار احمد خان په بلنه د مازديګر په درې بجې بايد پغمان ته تللی وای، ډاکټر اقبال له اعلحضرت سره د مخه ښې ليدنه کوله، له همدې کبله هغه له موږ سره ونه شول کولای ولاړ شي، هغه مابښام د بهرنيو چارو وزير سردار فيض محمد خان سره دلکشا ته ولاړ، زه، سيد راس

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسعود ، پروفیسر هادي، بیرسټر غلام رسول، او سرورخان ګویا، په دوه موټرو کې پیغمان ته راوان شوو، دلته پیغمان داسې حیثیت لري، لکه هندوستان کې شمله او نانیتال، یا بمبي یا پونه، دا د افغانستان شاهي او عمومي تفریح ځای دی، له کابل څخه اتلس میله لرې موقعیت لري، زر فوټه لوړ ځای دی، خو دا لوړوالی داسې په تدریج او کرار کرار مخې ته راځي داسې حال کې چې سفر کوونکي ته د لوړوالي اندازه نه کېږي، خو ښه خبره یې دا ده چې دا لوړوالی په غرونو نه دی، بلکې زمکه په لوړه ځي، د اب و هوا له پلوه دا د کابل تر ټولو غوره ځای دی، او شاید همدا لامل وي، چې د کابل او پغمان تر منځ نادرخان مرحوم خپله ځمکه وقف کړې، او هلته یې سنیټوریوم، د ځارویو د روزلو ځای، او د کرهنې مدرسه جوړه کړې ده.

له کابل څخه تر پغمان پورې نیمایي لارې سرکونه دومره ښه دي، لکه د هندوستان د لویو ښارونو، دوهمه برخه یې هم ښه ده، خو جوړېدو ته اړتیا لري، د کابل له حدودو سره د وتلو سره سم مو عجیبه پر کیفه مناظر ولیدل، د سرک په دواړو خواوو د چینار ونې دي، او چرته بیا د الو بالو د سرو ګلانو ونې لیدل کیږي، همدا راز د اغوز ونې، او ځای ځای چینې او ویالې، تر کومه چې نظر کار کاوه، ځای ځای د زیړو او سرو ګلانو او پاڼو څادرونه خپاره شوي دي، دلته اوس د منې موسم و، د کوم ځای چې منی او خزان دومره ښکلی وي، نو پسرلی به یې څنګه وي، زما له ګلستان څخه زما د پسرلي قیاس واخله.

له سنیټوریم، د ځارویو روزنځای، او کرنې له مدرسې تېر شوو، د ستنیدو پر مهال مو د دې ځایونو د لیدلو فکر و، ځکه مو اوس ونه کتې، څومره چې پغمان رانژدې کېدو ورسره ورسره د فضا رنګیني، د هوا یخوالی، او د ونو پسرلی زیاتېدو، تر ټولو لومړی د پغمان دروازې ته ورسېدو، چې خپله یوه کوچنۍ ودانۍ ده، بیا د شاهي قیامګاه ودانۍ وه، بیا عمومي باغ و، چې د عوامو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

چکر او تفریح ځای دی، او پایله کې د پغمان تر ټولو لوړ ځای ته ورسېدو، چې د دې جنت مقام لوړ فردوس بلل کېدای شي، دلته یوه کوچنۍ خو لوړه دوه پوړیزه ودانۍ ده، د دربار وزیر سردار احمد خان همدلته مقیم و، لاندې راغلو، او میلمانه یې له ځانه سره پاس پوړ ته بوتلل، داسې یوه خونه کې یې کېنولو چې هنداري پکې لګېدلې وې، له همدې کبله ورته شیش محل ویل پکار دي، موسم یخ او واوره هم پرته وه، له همدې کبله د شیشو دا ټولې دروازې بندې وې، خو دلته د ناستو کسانو لیواله سترګې له شیشو څخه بهر وتلې، او چرته چې یې نظر رسېدو لیدل یې کول، چرته چې د فضا په لوړوالي کې د لوړو او نېغ قامت ونو، ژیړو او سرو ګلانو ونو کتارونو، او په ځمکه د رنګا رنګ میوو ښکلې مرتب جوړې شوې شکلونو سترګو ته لا رڼا او زړونو ته خوښي ورکوله، پروفیسر ایران لیدلی دی، هغه وویل چې دا بالکل د ایران په څېر منظر دی، چا چې کشمیر لیدلی و، هغوی ویل دا خو خاص کشمیر ته ورته زړه راښکون لري.

په همدې شیش محل خونه کې باسلیقه میزبان د چای ترتیب نیولی و، په میز باندې پر کلچو او میټایي سربېره د کابل تر ټولو ښې میوې پرتې وې، بیلا بیل رنګ انګور او میوې په ښکلو لوښو کې په مناسب رنګونو پاڼو او ګلانو داسې ښکلې ایښودل شوې وې، چې میز د خولې پر خوند سربېره ښکلی هم ښکارېدو.

هر چا د خپل ذوق سره سم چای او کافي وڅښل، سید راس مسعود د کشمیري چای غوښتنه وکړه، هغه هم تیار او راوړل شو، رنګ خو یې د کشمیري چای و، خو مزه یې زموږ د هندوستان د کشمیري ورونو له چایه کمه وه، افغانستان کې د چایو څو پیالې څښل کېږي، مګر یوازې لومړۍ پایله خوږه وي، او پاتې یې ترخې خو نیمه ترخې وي، ما صوفي ته یې خوند رانه کړ.

په میز باندې تر ډېره حده د اروپا د ښارونو د منظرو په اړه خبرې کېدې، سردار احمد خان زیات وخت اروپا کې تېر کړی، ډېرو ښارونو کې یې څو میاشتې تېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي دي، هغه او راس مسعود د اروپايي ښارونو او د هغه په ډېرو هوټلونو خبرې وکړې.

له چايو وروسته ټول لاندې ولاړو، هلته يو عکاس راغوښتل شوی و، سردار د ټولو يو ګډ انځور د باغ په پاس او يو په لاندې زينه واخيست، همدې ځای ته مخامخ په لاس جوړ شوي څه لاندې او څه بره له ډېرو ښخه قدرتي کمرونو ته ورته منظرې جوړې شوې، حاضرين هر يو جلا جلا په دې ډېرو په بې ترتيبه ډول کېناستل، او د دې بې تکلفه فطري ناستې بيا يو مصنوعي نقل (انځور) وايستل شو، له دې شاهي باغ څخه تر وتلو وروسته موږ عمومي باغ ته ولاړو، د پلي تګ پر مهال محسوسېده چې اوس له لوړې څخه لاندې ښکته کېږو، او باغ ته ورسېدو، د دې باغ په ليدلو سره مو زړه باغ باغ شو، الله اکبر څه يو باغ و، د تېرې زمانې خو معلومات نه شته، مګر اوس بې تکلفه ويل کېدای شي چې د دې باغ د سليقې په څېر تيموريانو شايد هندوستان کې هم نه دی جوړ کړی، له ونو پرته دا له لطفه ډکې منظرې له کشمير پرته په هندوستان کې له کومه ځايه راوړل کېدای شوای، اوس د منې موسم و، د ونو پاڼو کې د سور والي په ځای زېړوالی و، د سروی او چنار ونې، او د قسماقسم ونو پسرلی او د هغې جوړښت او ترتيب، څه څه به يې يادوم.

له غرونو هرې خوا ته قدرتي چينې بهېدې، د باغ په منځ کې په يو کتار پنځه فوارې خوټکېدې، چې بې مبالغې اوبه يې پنځوس شپېته فوټه لوړې ويشتل کېدې، او بيا ميده ميده څاڅکي په ځمکه غورځېدې.

دلته مو هم په داسې حال کې چې پنځه واړه فوارې مو شاته پاتې شوې، يو انځور واخيست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کابل سیند

له دې ځایه په وتلو سره د کابل سیند په لور ولاړو، له باغه بهر سرک او بیا د سرک څخه یو څه په څنډه د کابل نازنین سیند بهیدو، د کابل د سیند یادونه اول هم شوې ده، موږ هندوستانیان چې د ګنګا او جمنا د لیدلو عادي یو، دا منل چې دا اوبه سیند دی، موږ ته فکر پکار دی، هر ځای مو چې دا سیند ولید نو سور یې هیڅ ځای کې له دوه درې کزو زیات نه دی، له دې سره بیا هم د دې د طول دا اندازه ده، چې دا له کابل څخه بهیږي او د هندوستان د سند له سیند سره یو ځای کیږي، دژمي په موسم کې واوره ایساریږي، او بیا ټول کال روان وي، موږ اوریدلي چې د واورو موسم کې افغانان دا واورې ماتوي او لاندې د یخو اوبو څخه نه یوازې دا چې اودس بلکې غسل هم کوي، د هندوستان خلک یې که یوازې تصور وکړي، هم یخني به یې وشي، د سیند اوبه له غټو غټو ډبرو سره جنګیږي او بهیږي، سیند ته د راتګ هدف هم د انځور اخستل و، خو دا چې سیند ژور او اوبه پکې روانې وې، هلته مو انځور اخستل ممکن نه شول، بالاخره سیند مو شاته پرېښود، د سرک په څنډه ودریدو، او ډله ایز انځور مو واخیست.

له دې وروسته په موټرو کې د کابل په لور روان شوو، په پام کې وه چې په لاره به سنیټوریم او نور ځایونه وګورو، خو په ستنیدو کې دومره ناوخته شو، چې هلته د ننکته کېدو فرصت پیدا نه شوه، بیرسټر غلام رسول خان هغه ځایونه لیدلي وو، له هغه مې چې څه اوریدلي، یا نورو د کابل خلکو راته څه ویلي هغه دلته لیکم.

## دار الصحت، یا سیني ټوریم:

د انګریزانو او افغانانو تر منځ د وروستي بریالي جنګ په پایله کې امیر امان الله خان جنرال نادرخان سپه سالار ته د هغه د ښه خدمتونو په بدل کې د کابل او پغمان په منځ کې ځمکه ورکړه، چې د هغې نوم علي اباد دی، نادرخان په خپله زمانه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډاکترانو په اتفاق دا ځای د دار الصحت (سني ټوريم) لپاره مناسب وباله، او دلته يې د سل (ساه بندي) او جتکې د ناروغانو لپاره ځای جوړ کړ، د دې دار الصحت، د ودانۍ او نورو لګښتونو لپاره هم نادرخان له خپله جيبه پيسې ورکړې.

ودانۍ درې پوړيزه ده، د شپېته ناروغانو لپاره پکې بسترونه او نور وسايل چمتو کړای شوي دي، مخامخ يې ښه باغ، ښکلی ځای، چمن او سرکونه دي.

## د څارويو روزنځای:

دې سره نژدې د څارويو د روزنې او د عمده نسل د پالنې اداره ده، چې نوم يې "دايره تربيت حيوانات و نسل ګيري" دی، د مسئول نوم يې محمد يوسف خان دی، زموږ ملګري غلام رسول خان چې دا ځای يې ليدلی، ماته د دې ځای ډېر صفت وکړ، هلته د څارويو علمي او ساينسي طريقې سره په ښه ډول د پالنې وسايل او درلمنې سامان موجود دی، د ښه نسل نر څاروي په واسطه هلته د نسل د زياتوالي او ساتلو پوره اهتمام شوی دی.

## د ځينو دوستانو ليدنه:

له پغمانه مخامخ دار الامان ته راغلو، ځينې دوستان مو ليدلو ته راغلل چې په هغوی کې د چمرقند د جمعيت مجاهدين مشر مولوي بشير صاحب، مولانا محمد ميا صاحب (المعروف منصور) دا د مولانا عبدالله صاحب انصاري مرحوم چې د مسلم يونيورسټۍ پخوانی د دينياتو ناظم دی، د هغه خلف او د مولانا محمد قاسم صاحب د ديوبند د باني لمسی دی، يو افغان عالم دی، چې د حضرت شيخ الهند شاګرد دی، هغه دا خدمت ماته وسپاره چې مولانا حسين احمد او مولانا کفايت الله ته يې سلام ورسوم، چې ما يې سلام ورسولو، له دوی سره د انيس اخبار مدير محمد امين خان خوږيانی هم و، لږ وروسته د منشي مير شمس الدين مرحوم د حمايت الاسلام لاهور پخوانی ناظم، (چې افسوس دې مياشت کې وفات

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو) زوی میر رحمت الله همایون او مقبول الحق چې دلته د دولتي ګنډل ځای
(خیاطۍ) مهتمم دی هم راورسېدل.
سبا سهار به له کابله غزني ته ځو، له همدې کبله ملګري د خدای پامانۍ لپاره
راغلل.
د دوی له تګ وروسته ما او زما ملازم د سبا د سفر لپاره تیاری ونیو، له لمانځه
وروسته په کابل کې وروستۍ شپې تېرولو لپاره په بستره څملاستم.

# د غزني سفر

د ۱۹۳۳ز د اکتوبر په دېرشمه سهار چې له خوبه راپاڅېدم په دې فکر مې زړه
خوشاله و، چې نن به د هغه غزني لیدنه کوم، د کوم نوم مې چې لسګونه ځله په
قلم لیکلی، او زرګونه ځله مې په خوله اخستی دی، لکونه ځله مې لوستلی دی،
غزني د سلطان محمود غزني دی، د چا نوم چې یو وخت په نړۍ رعب او هیبت
کینولو، د چا په دربار چې د باکماله خلکو هجوم و، چا چې د پېړیو لپاره د
اسلامي نړۍ لاربنوونه او په هندوستان حکومت وکړ، د عنصري، فرخي،
فردوسي، او سنایي غزني، چا چې زموږ د ادبیاتو په دنیا کې لا فاني شهرت
حاصل کړی دی، او د چا سیاسي تاریخ چې د اوږدې مودې لپاره د نړۍ د
مورخینو د تحقیقاتو د بحث موضوع وه، د سهار له پاڅېدو وروسته موږ له خپلو
دوستانو سره د رخصت پر مهال بیا بیا مصافحه وکړه، او د دې څو ورځو قیام د
یاد لپاره مو ژمنې وکړې.

**خادمانو ته انعام:**

عموماً دا رواج دی، او اروپا کې خو دا رواج د قانون تر حده لوړ شوی، چې کله هم
څوک له هوټل څخه وځي، یا کوم هستوګنځای ته ورسیږي، نو لومړی خادمانو ته
انعام ورکوي، تر دې چې په چای خانو او رستورانتونو کې هم د دې اخلاقي قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه مخالفت نه شي کېدای، همدې ځیز ته په ترکیه کې بخشیش ویل کیږي، اروپایانو به چې کله پخوانۍ ترکیې ته سفر کولو، نو د بخشیش دا غوښتنه به یې په ډېر بد او ذلیل رنګ کې وړاندې کوله، خو د خپل هیواد (ټیپ) به ورته بد نه ښکارېدو، د دې لامل یوازې یو دی، او هغه دا چې بخشیش په مشرقي انداز او نرمې لهجې سره غوښتل کیږي، او د اوږد عمر د مسلسل دعاوو سره د دې مننه کیږي، او (ټیپ) په اروپایي سپیره لهجه اخستل کیږي، سر ته لړ خوځښت ورکړي، او د (تینک یو) په ویلو سره یې سمدستي قیمت اداء کیږي.

هندي میلمنو دا پرېکړه کړې وه چې د دولتي میلمستون خادمانو ته به چې د دوی د میلمستیا فرایض یې ډېر ښه تر سره کړي دي، سل روپۍ په انعام کې ورکړل شي، خو د تګ پر مهال مو چې کله هغوی ته دا پیسې په خپله خوښه ورکولې، نو هغوی په ډېرې خوشالۍ سره ځکه د دې انعام له اخستلو انکار وکړ، چې هغوی د خپلو میلمنو فرض تر سره کړی دی، چې په بدل کې یې دوی د هیڅ انعام مستحق نه دي، د دوی دې پرېکړې څخه مو تعجب و کړ، او د هغوی د اخلاقي لوړتیا مهر د میلمنو په زړونو ولګېد.

دا خادمان ډېر هوښیار، ډېر با ادبه، باسلیقه، او خاموشه وو، په دې ټوله موده کې هیڅکله هم د هغوی د شور او غوغا اواز زموږ تر غوږونو ونه رسېد، ډوډۍ، د بسترو جوړول، او د خونو صفایي او نور کارونه یې په ډېر ښه انداز او چوپتیا سره تر سره کول، هغوی به په تور پتلون، تور کوټ، سپین قمیص، په پښو بوټان او په سرونو افغانۍ خولۍ وې.

## له کابله روانېدل:

حکومت د خپلو میلمنو د سفر چاره په ډېره ښه ډول چمتو کړې وه، شاید مخکې مو یادونه کړې وه، چې افغانستان کې د سفر پر مهال په لس دولس میلونو کې د پړاو لپاره منزلونه دي، په هر پړاو کې د حکومت له خوا پوسته خانه، ودانۍ، یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومتي هستوګنځايونه جوړ شوي، چرته چې د اوسېدو هر ډول اسباب او وسايل چمتو شوي وي، خو اوس د موټر تېز رفتار دا پړاوونه سره لرې کړي دي، اوس دا ودانۍ له سلو او اتيا ميلونو څخه وروسته راځي.

حکومت د ميلمنو د پاتې کېدو د انتظام لپاره له مخکې دې ځايونو ته خبر استولی او احکام جاري کړي وو، د دې چارې د سمبالښت او کوربه په توګه يې سرورخان ګويا ټاکلی و، چې هغه د افغانستان تر وروستۍ پولې له ميلمنو سره ولاړ شي، او هلته له رسولو وروسته بېرته راستون شي.

حکومت د سفر لپاره د دوه ښو موټرو او دوه لاريو انتظام کړی و، په يو موټر کې زه، ډاکټر اقبال، بيريسټر غلام رسول او په دويم کې سر راس مسعود، پروفيسر هادي، سرورخان ګويا، او عبدالمجيد صاحب چې په ډيلي کې د افغانستان د سفارتخانې استازي سپارل شول، يوه لارۍ د خوراک د سامان، پخلي او خوراک چمتو کولو ملازمينو لپاره وه، او دويمه لارۍ د ميلمنو د سامان الات لپاره وه، تر څنګ يې حکومت د ميلمنو د امنيت لپاره د لس دولس سرتېرو يو ټولی واستاوه، هغوی هم دې لاريو کې سپاره وو، د دې ټولي مشر چې غنډ مشر يې ورته ويل او د جلال اباد سره نږدې د ګرديز له ساداتو څخه و (نوم مې اوس هېر دی) دا افسر هم له موږ سره موټر کې په مخکې سيټ کې کېناست.

زموږ په روانېدو کې د مخه ښې او ليدنو کتنو له کبله يو څه ځنډ راتلو له همدې کبله يې لارۍ مخکې روانې کړې، اته بجې موږ هم روان شوو.

## له کابل څخه تر غزني پورې:

غزني له کابله دوه اتيا ميله لرې دی، موټر له لوړو ژورو، دښتو او غرونو څخه تېرېدو، په دوړو کې مخکې روان وو، لاره تر ډېره حده صافه وه، سرکونه عموماً ښه حالت کې وو، ځمکه تر ډېره حده هواره وه، لرې لرې غرونه هم ښکارېدل، د غرونو لمنو کې پراخه ميدانونه او درې پرتې وې، په دې درو کې چينې بهېدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له کبله يې په پسرلي کې دا درې شنې کيږي، او کر کښت پکې کيږي، دا ټولې ځمکې کرنيزې وې، او د خوښۍ خبره دا ده چې افغان بزګر پکې پوره محنت کوي، له کابله تر غزني د کروندو سلسله خپره وه، خو اوس مهال پکې هيڅ نه و کرل شوي، دلته د کښت وخت په ګرمۍ کې راځي، کله چې واوره ويلې، او ځمکه کر ته جوړه کړي.

دلته د کليو د اباديو اصول دا دي چې چرته چينې بهيږي، د چينو په څنډو لږ لږ لرې کلي اباد دي، خو کله چې په قدرتي ډول دا چينې هم وچې شي، دا کلي هم له منځه ځي، او بل ځای ته انتقاليږي، داسې مو هم وليدل چې چرته چينې د کلي د يو اړخ نه بل اړخ ته مخ ګرځولی وي، نو د کلي خلکو هم خپلې ابادۍ له دې ځايه لرې، او د چينې هغې غاړې ته وړي دي، ديوالونه د خټو او چتونه هم عموماً د خټو دي، د باران د کمښت له کبله دا چتونه هم کلک وي.

د کوچنيو کوچنيو غرونو دا نه پرې کېدونکې لړۍ مو په مخ کې وه، د دې غرونو له کبله کله کله داسې معلومېده چې مخکې به لاره بنده وي، او په غر له ختلو پرته به د تګ بله لاره نه وي، خو چې څومره به مخې ته تلو، لاره به هم په درو کې تاو راتاوه ډېره صافه مخ ته تله.

د پېښور او کابل تر منځ چې د غرونو کومه ډاروونکې لاره پرته ده، د هغې په پرتله دې لارې ته صافه او ميداني لاره ويلای شو، په ځينو ځايونو کې پيچومي هم و چې دواړو خواوو ته به يې لوړې ځمکې وې، ځينو ځايونو کې پلونه وو، خو داسې ځايونه مو هم مخې ته راغلل چې پول به هم نه و، يا به مات شوی و، ظاهراً به ستونزمنه ښکارېده چې دا لاره او پيچومي به څنګه موټر ووهي، خو د دې افغاني موټر چلونکو ستاينه بايد وشي، چې په ډېرې اسانۍ سره يې موټر ښکته او پورته بوتلل، داسې چې موږ هيڅ تکليف محسوس نه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره کې یو دوه داسې غرونه هم راغلل چې زموږ ملګري پوځي افسر وویل د دې غرونو پر سر افغاني کلاوې دي، او هلته افغان پوځ میشت دی.
په لاره کې لارۍ مخې ته راتلې چې سوداګریز سامانونه پرې وړل کېدل، د پخوانیو قافلو په څېر اوښان او خره هم مخې ته راتلل چې سامانونه پرې بار و، د کوچیانو قبیلې چې مېرمنې، نارینه او ماشومان به پکې پلي روان وو، یا به په خرو سپاره وو، او ورسره به ملګري سپي هم روان وو، چرته به په خرو اېښودل شوي چرګان هم لېدل کېدل، چې ډېر په زړه پورې ښکارېدل.
اوس ماسپښین و، خو لمر تود نه و، او ډېره یخني وه، د یخنۍ ټول لباس مو پر تن و، خو د هوا او ګرد څخه د ساتنې لپاره مو د موټرو هنداري پورته کړې وې.
عجیبه دا وه چې په ټوله لاره مو کوم الوتونکی ونه لید، شونې ده علت یې دا و چې اوس په دې هیواد کې د کښت موسم نه و، سیمې له غلې خالي وې.

غزني:

شا او خوا یوه بجه د غزني څمکه په نظر راغله، زموږ لیواله سترګو پورته کتل، خو هر ځل به بېرته راښکته کېدې، زموږ په فکر د پخواني ډیلي د زړو ودانیو مناظر و، موږ فکر کاوه چې له کلاوو، مسجدونو، لوړو ودانیو منارونه او ګمبدې به له لرې سیمېووینو، خو زموږ د لیوالو سترګو په وړاندې له لرې څخه داسې هیڅ نه ښکارېدل.
موټر ورو ورو کرارېدل، تر څو ابادي راورسېده، له ښاره بهر په یوه لوړه دولتي میلمستون و، موټر یې انګړ ته ننوتل، او د لویې دروازې مخې ته ودرېدل، موږ په ګرد کې له پټو موټرو راووتو، د ښه راغلاست لپاره د دولت له خوا یو قوماندان (دلته د پوځ او پولیسو لوړ پوړی افسر) او د ښار له اړخه د ښاروالۍ مشر موجود وو، هغوی مو هرکلی وکړ، او هیله یې څرګنده کړه، چې موږ لومړی په ښار کې وګرځو، د همدې ودانۍ لاندې یو سرک و، له هغې لاندې راغلو، او په سرک روان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوو، یوه لاره د بازارشاته اوږده پرته وه، چې تر پایه غزېدلې وه، او دویمه لاره په لوړه ختلې وه، چې د بازار له منځه تېرېده، همدلته بازار ته له رسېدو مخکې د لارې پر سر یو خام مسجد و، او له مسجد لاندې د سرک په اوږدو کې نهر بهېدو.

بازار:

موږ له ښکته سرک څخه د مسجد تر څنګ تېر شوی سرک په مخه ونیو، او بازار ته داخل شوو، لومړی قوماندان صیب، ورپسې د ښاروالۍ رئیس، او بیا میلمانه روان وو، له موږ سره سرتیري هم مله وو، له بازاره تېر شوو، ټول دوکانونه پرانیستي وو، کوچني دوکانونه، په ځینو دوکانونو کوچنۍ پردې ځړېدلې، ډېر دوکانونه د پوستینونو و، کوچني پوستینونه چې شلوکه ورته وايي په پنځلس روپۍ، او ستر یې بیا په شل پنځه ویشت روپۍ خرڅېدل، د دې پوستینونو بره برخه به زېړ رنګ وه، او په لستوڼو او غاړه یې بیا د وریښمو تار شوی و.

موږ به چې د کوم دوکان مخې ته تېرېدو دوکاندار به ودرېدو، او اسلام علیکم څخه وروسته به یې وویل (مانده نباشي) ستړي مشئ وویل، دا الفاظ دلته د میلمنو لپاره د ښه راغلاست دي، عجیبه دا وه چې ځینې دوکانداران یې سیکهـ او هندو هم وو، چې په سرونو یې زېړې پګړۍ تړلې وې، معلومه نه ده چې دوی له کومه وخته دلته اباد دي.

اردو ګراموفون[۳۲]:

بازار شا او خوا دوه فرلانګه غزېدلی دی، د پخوانیو بازارونو په څېر په دې هم چت لګیدلی و، ټول بازار مو وکوت او بېرته په شاتني سرک راستانه شوو، دلته هم د بازار شاته یوازې په یو اړخ کې دوکانونه و، له یو دوکان څخه د ګراموفون اواز

---

[۳۲] - ګرموفون (Gramophone) پخوا د ثبت شوي اواز د غږولو یوه اله وه، چې عموماً به پکې هر ډول اواز غږېدو خو ډېر د موسیقۍ لپاره کارېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلو، چې غوږ مو ونیو ثبت سندره غږېده، او په اردو ژبه وه، کابل کې خو اردو ژبه د دویمې ژبې حیثیت لري، هلته د ډېرو هندوستانیانو په اسېدو سره په دې سندرو تعجب نه و، خو په غزني کې چې شاید دلته کوم هندوستاني وي، د اردو په دې خپرېدو حیران شو.

مسجد:

هغه مسجد ته ورسېدو چې مخکې مو یادونه وکړه، د ماسپښین وخت و، غوښتل مو د ماسپښین لمونځ همدې مسجد کې اداء کړو، مسجد لږ لوړ و، په زینه وروختو، د ماسپښین لمونځ کېدو، خو عجیبه دا وه چې د اوداسه لپاره هیڅ انتظام نه و، پوښتنه مو وکړه، راته وویل چې د سرک په څنډه نهر بهیږي، هلته د مسجد حوض هم دی، له همدې کبله د نور سامان اړتیا نه شته، او موږ بېرته له مسجد راووتو.

دا مسجد له ختو او خام جوړ شوی، دیوالونه یې خام دي، چت او غولی یې هم خام دي.

## دولتي میلمستون:

د غزني دولتي میلمستون له ښاره بهر په یو لوړ ځای جوړ شوی، پراخه ودانۍ، پراخې خونې، او په هره خونه کې کافي اندازه میز چوکۍ، د لیدنو کتنو یو تالار او د خوراک خونه ده، څو خونې د میلمنو لپاره ځانګړې کړای شوي، په خونو کې فرش، بسترې، پردې او هر څه منظم دي.

میلمستون ته په راتګ مو ډوډۍ وخوړه، چای مو چښو، د میلمستیا دنده د ښاروالۍ د رئیس په غاړه وه چې په ښه طریقې یې تر سره کوله، له ډوډۍ وروسته مو یو څه ارام وکړ، بیا مو د غزني د مزارونو او نورو ودانیو دلیدنو چمتوالی ونیو، او څلور بجې بیا د ښار لیدلو لپار ووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پخوانی غزني:

موږ فکر کاوه چې غزني به د پخواني او زاړه ډيلي په شان وي، ګومان مو و چې له مرګ وروسته به هم د غزني ښار ژوندی وي، خو ډومره افسوس دی چې د پيړيو پخواني غزني اوس نوم او نښه هم نه ده پاتې، په تاريخونو کې مو لوستي وو، چې علاو الدين غوري د غزنويانو په وروستيو کلونو کې دا ښار سوځولی او په ايرو بدل کړی و، او له همدې کبله يې هغه ته جهان سوز ويل، خو دا فکر مو نه و چې دومره به له منځه وړل شوی وي، چې يوه خښته به يې هم په خپل ځای نه وي پاتې.

## علاء الدين جهانسوز:

د شپږمې هجري پېړۍ په لومړيو کې د غزنويانو زوال او د غوريانو اقتدار پيل شوی و.

د دې کورنۍ په شپږم پښت کې د عباس په نوم يو خونړی خو زړور ځوان پيدا شوی و، چې د دې کورنۍ بنسټ يې کېښود، او په نهم پښت کې يې عزالدين حسين پيدا شو، چې د غور په غرونو کې يې يو کوچنی دولت جوړ کړ، له هغه سره يې نوميالي زامن و، چې يو يې قطب الدين محمد، بل يې سيف الدين سوري، او درېيم يې علاء الدين حسين و، د قطب الدين محمد لقب ملک الجبال و، دا قطب الدين له خپلو ورونو خفه شو، او غزني ته ولاړ، چې غزني کې د خپلې سخا، ښه خوی او صورت له کبله په ټولو ګران شو، دا د بهرام شاه غزنوي (۵۲۲ هجري ۴۷ ميلادي) کال او د هغه دور و، سلطان د حاسدانو په وينا په قطب الدين بدګومانه شو، او هغه يې وواژه، علاء الدين حسين د خپل ورور په غچ کې په غزني بريد وکړ، او ويې نيو، بهرام شاه هندوستان ته وتښتيد، علاء الدين خپل کشر ورور سيف الدين سوري د غزني په تخت کېناوه، او بېرته غور ته ولاړ، خو بهرام شاه يو ځل بيا فرصت تر لاسه او غزني يې ونيو، سيف الدين يې ونيو، په ډېر ذلت سره يې وواژه، کله چې علاء الدين ته دا خبر ورسېد، زيات غوصه شو، له يو ستر لښکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره غزني ته ورسېد، دا مهال کال پنځه سوه اوه څلويښت هجري بهرام شاه مړ شوی و، او زوی يې خسروشاه په تخت ناست و، هغه د غوريانو د لښکر په وړاندې ماتې وخوړه، او خپله لاهور ته وتښتېد، علاء الدين غزني نيو، او هلته يې د قتل عام امر وکړ، ښار يې وسوځاوه، تر اوو ورځو په ښار لمبې بلې وې، د سلطان محمود، سلطان مسعود، او سلطان ابراهيم پرته يې د نورو ټولو سلاطينو قبرونه هم وکيندل، او هډونو ته يې اور ورته کړ، تاريخپوهان وايي چې:

علاء الدين په ډېر قهر سره د غزني ښار ونيو، تر اوه ورځو شپو يې په ښار اور بل کړ، او په بريدونو يې پيل وکړ، راويان وايي چې دې اوه ورځو شپو کې د زيات دود له کبله هوا دومره توره وه، چې ورځ شپه بلل کېده، او د شپې به د ښار د لمبو له کبله دومره روښانه وه، چې ورځ به برېښېده، په دې اوه شپو ورځو کې يې لوټ او وژنې او جګړې پيل کړې، او هر نارينه يې چې موند، هغه يې واژه، مېرمنې او ماشومان يې بنديان کړل، او امر يې صادر کړ، چې د ټولو محمودي سلطانانو جسدونه دې له خاورو را وايستل شي، او و سوځول شي، خو يوازې سلطان محمود، سلطان مسعود، او سلطان ابراهيم يې پرېښودل....، اوه ورځې وروسته کله چې اتمه شپه شوه، ښار ټول خراب او سوی و، خلک وژل شوي، او جلا شوي وو.

علاء الدين د تورزنۍ تر څنګ يو ښه ژبور هم و، هغه پر غزني د بريا په جشن کې يوه وياړنه وويله، او په داسې حال کې چې له يوې خوا په ښار کې قتل عام روان و، ودانۍ سوځول کېدې، د غور دا مشر د خوښۍ په مجلس کې ناست و، او د سندرغاړو له خولې يې خپله دا وياړنه اورېده چې ويلي يې دي:

جهان داند که من شاه جهانم چراغ دوده عباسيانم

علاء الدين حسين بن حسينم که دايم باد فلک خاندانم

چو بر ګلګون دولت برنشينم يکی باشد زمی‌ن و اسمانم

(c) ketabton.com: The Digital Library

همه عالم بگردم چون سکندر بهر شهری شه دیگر نشانم
بر ان بودم که ازادباش غزنین چو رودنیل جوی خون برانم
ولیکن گنده پیرانند و طفلان شفاعت میکند بخت جوانم
به بخشیدم بدیشان جان ایشان که با واجان شان پیوند جانم

نړۍ علاء الدین ته د دې سخت زړې له کبله دا بدله ورکړه، چې تر اوسه په ژبو د جهان سوز په نوم یادیږي.

د پخواني غزني د تباهۍ او بربادۍ دا لنډ داستان دی چې د پنځه سوه اوه څلویښت او پنځه سوه اته څلویښت هجري کې رامنځته شوی دی.

نوی غزني:

پخوانی غزني د غوریانو، ورپسې د تاتاریانو او بیا د تیموریانو د حکومت په کلونو کې همداسې بې نوم او نښانه پاتې شو، ویل کیږي، کومه کمه تومه ابادي چې پاتې وه، هغه هم د یو کال زیاتې واورې وریدو له کبله له منځه ولاړه، عبدالکریم علوي د احمد شاه دراني په تاریخ کې چې (چې ډېره برخه یې د امام الدین حسیني له تاریخ څخه چې په دولس سوه دولس میلادي کې لیکل شوی اخستل شوې ده) د غزني په اړه لیکي:

له قلعه شش ګاو څخه د غزني تر ښاره رسیږي، چې دا پخوا د سلطان محمود غزنوي پلازمېنه وه، او په ماضي کې یې زیاته ابادي درلوده، یو ځل په دې ځای دومره واوره وورېده، چې ټول ښار یې تر لاندې خرابه شو، له یو څو کسو پرته څوک پاتې نه شول، له هغې زمانې بیا دا ښار اباد نه شو، اوس تاجیک او افغانان په کلاوو کې شا او خواو دوه درې زره کورونه اباد دي صفحه پنځه څلویښت).

د غزني اوسنی ښار د احمد شاه ابدالي ځای ناستي تیمور شاه المتوفی دولس سوه اوه اباد کړی دی، د خاورو یوه لوړه کلا ده چې په داخل کې یې ښار اباد شوی دی، د افغانستان حکومت کې د دې ښار حیثیت په اول درجه ښارونو کې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځي، نه دلته والي ژوند کوي، هغه دره چې دا ښار پکې اباد دی ډېره پراخه ده، چې یقیناً پکې یو لوی ښار اباد‌ېدای شي، او له دې کبله چې د ډېرو ولایتونو په منځ کې پروت دی، د سوداګرۍ له کبله دې ښار ته لوړه درجه ورکولای شي.

ملا قربان:

د غزني له څنډو، کونجونو، شا ا و خوا او قبرونو څخه تر ټولو زیات معلومات ملا قربان نومی سپین ږیری لري، د سیمو د لیدلو څخه وړاندې سرورخان ګویا د ملا قربان یادونه وکړه، او کله چې هغه راورسېد ، نو معنی دا چې د غزني د کیسو او روایتونو یو ژوندی کتاب مو په لاس راوړ، عمر یې د اتیا ، نوي کلونو په شا اوخوا کې دی، په ملا کړوپ، غاښونه یې پوره نه دي په خوله کنډاس، په لاس کې امسا راغلو، او سم یې د غزني د بربادۍ، داستان پیل کړ، دلته یې د بزرګانو د نوم او ښنام ښودل ویل پیل کړ، په هر حال د دې خضر په لارښوونه مو د زاړه غزني لیدل پیل کړل.

د غزني باقي اثار:

له اوسني ښاره څو میله لرې هغه سیمه ده چې ویل کیږي، د محمودي سلاطینو پلازمېنه وه، او ورته مخامخ د غزني اوسني ښار بل اړخ ته د غزني پخوانۍ هدیره ده، په پخوانیو اثارو کې دلته اوس یوازې څو اثار پاتې دي، حکیم سنایي، سلطان محمود ، سلطان مسعود ، سلطان ابراهیم مزارونه، له دې پرته د حکیم بهلول دانا ته منسوب یو مزار دی، او د ځینو نورو بزرګانو مزارونه دي، د شاهي ودانیو په سلسله کې یوازې څو منارې ولاړې لیدل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د حکیم سنایي مزار:

اقبال چې شاعر دی، تر ټولو زیات د حکیم او شاعر سنایي د مزار د لیدلو هیله درلوده، له میلمستونه پلي ووتو، او د حکیم سنایي مزار په لور ولاړو، دا مزار له ابادۍ څخه یو څه څنډې ته د عامو مسلمانانو په هدیره کې دی، له عمومي لارې څنډې ته د یو فرلانګ په اندازه یوه لاره تللې، له مزاره دباندې څو ډېرین قبرونه دي، په ځینو یې د وروستیو وختونو کتیبې لګېدلي دي، د حکیم سنایي قبر په یوه کوچنۍ احاطه کې دی، اول کوچنی غولی دی، دلته هم څو قبرونه شته، په یو قبر لیکلي دي، چې (دا د حکیم سنایي د خاص خادم قبر دی) له هغې وروسته بیا خپله د حکیم سنایي مزار ودانۍ ده، ګنبده پرې جوړه او لاندې قبر پوخ دی، مزار ته د اخلیدو یوازې یوه کوچنۍ دروازه ده، پوخ قبر، پرې دپاسه ډبره، چې په عربي لیک پرې د نوموړي د وفات تاریخ لیکل شوی دی، ما خو ټول عبارت ونه لیکه یوازې د یادګار په توګه مې لاندې کرښې ولیکلې:

کان وفات الشیخ العالم الفاضل العارف قطب المحققین طوطی شکرستان، فصاحت بلبل بوستان، بلاغت مظهر اسراسر معانی مطلع انوار... الشیخ... یعنی مجدد الدین اسنایي سنة خمسمائة و خمس عشرین).

د تېر کال په معارف کې ما د حکیم سنایي د وفات تاریخ په مناسبت یو مضمون لیکلی و، چې پکې د هغه د وفات تاریخ پنځه سوه پنځه څلویښت ثابت کړای شوی و، ځیني محققین اوس د هغه د وفات کال پنځه سوه څلور څلویښت ښیي، د دې کتیبې پر بنسټ د حضرت جامي او نورو د عام روایت پر اساس پنځه سوه او پنځه ویشت د هغه د وفات کال لیکل شوی دی، که دا ثابته شي، چې دا کتیبه د حکیم له وفات وروسته پخوانیو زمانو کې لیکل شوې ده، نو د دې وفات کال منل پکار دي، خو څومره چې ګومان کیږي، دا کتیبه ډېره وروسته لیکل شوې ده، او هماغه د حضرت جامي مشهور تاریخ پرې لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزار په داخل کې مو مسنونه دعا وکړه.
د حکیم سنایي د لوړ مقام څخه څوک خبر نه دي، موږ ټول له دې منظر څخه متاثره و، خو زیات اغیز یې پر اقبال کړی و، هغه د حکیم د قبر سر ته ودرید، بې اختیاره شو، او تر ډېره یې په زوره زوره وژړل، اللهم اغفر له و ارحمه.
دا خو د فقیرانو کوډی وه، له دې ځایه د بادشاهانو د محلونو په لور روان شوو، په سرک موټرې ولاړې وې، تر موټرو پلې ولاړو، او په موټرو کې سپاره شوو.

## د افغان سپرو ټولی:

سرک ته په رسېدو و، چې تصادفاً د افغان اسپ سپرو یو کوچنی ټولی په سرک روان و، د اسونو شکل او صورت، او شرارت، د سرتېرو ښه او پاکې دریشی، او د هغوی هیبتناکې خولی، د وسلو ځل ته په کتنې سره زموږ په جسم کې پوځي وینې جوش وکړ، دا مو نیک شګون وباله چې د سلطان محمود مزار ته مو د تګ نیت دی، او دا د سلطان د خیالي جلوس سپرلی ده، دا کاروان هم راته دومره غنیمت وبرېښېده، چې په داسې حال کې چې د اسلامي نړۍ فاتحین سلاطین د بهرنیانو په تسلط کې په خپلو قبرونو کې د ذلت له کبله نا ارمه دي، یمین الدولة کف الاسلام سلطان محمود غزنوي د خپل ملي حکومت په سیوري کې په ارام خوب ویده دی.

## په زاړه غزني کې:

ملا قربان له موږ سره په موټر کې سپور و، هغه په هر ځای کې خپل معلومات له موږ سره شریکول، اصلي او پخوانی غزني د اوسنۍ ابادې څخه یو څه لرې دی، زما په فکر له دې ځایه به دوه درې میله لرې وي، هر ځای کوچنۍ غونډۍ لیدل کېدې، په ځینو ځایونو کې خام کورونه اباد وو، لومړی مو سترګې په دوه یو بل ته مخامخ منارو ولګېدې، د دواړو تر منځ شاید یو یا یو نیم فرلانګ فاصله وه، ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

قربان وویل، دا د سلطان محمود د وخت دوه مناري دي، کله به چې د سلطان کاروان وت، نو دلته به نغارې غږېدې، دا منارې د نریو خښتوې جوړې وې.
لږ مخکې د سرک څنډې ته په یوه غونډې د یو مزار ګومبده ښکاره شوه، ملا وویل چې دا د بهلول دانا مزار دی، بل طرف بله ګمبده وه، دا هم له سرک څخه څنډې ته وه، ملا وویل دا د سلطان ابراهیم غزنوي مزار دی، یوه بله ګمبده ولیدل شوه، او خبر راکړل شو، چې دا د سلطان محمود د پلار سلطان سبکتګین مزار دی، دا هر څه په خپل پخواني حالت وو، او له خښتو جوړ وو.

## د سلطان محمود مزار:

له اوسني غزني ښار څخه د سلطان محمود تر مقبرې پورې نېغ یو سرک تللی، لومړی یوه کوچنۍ ابادي ده، له هغې تېر شوو، او د مزار دروازې ته نږدې موټر ودرېدل، دروازې ته له رسېدو مخکې له یو غر چینه بهیږي، همدا چینه دې کوچنۍ ابادۍ ته د فطري اوبه خور کار ورکوي، لاندې د ډبرې جوړه شوې د زمري خولې ته ورته ځای دی، اوبه له همدې خولې لاندې غورځي، ملا وویل دا چینه ډېره پخوانۍ ده، د سلطان له زمانې بهیږي، سرورخان وویل دا هغه کاریز دی چې د فلاني شاعر په شعر کې یې یادونه شوې ده (ماته شعر یاد نه دی).
له دې نهر څو قدمه وړاندې د مزار ستره او لوړه دروازه ده، بیا یوه کوچنۍ چوتره ده، چې له هغې وروسته کوچنی باغ دی، د باغ یو لور ته د سلطان د مزار ګمبده ده، دننه داخل شوو، د سلطان په مزار مو سترګې ولګېد، آه! دا د هغه سلطان قبر دی، چې د چین له دیواله د ګجرات تر سومنات پورې یې حکومت و، د چا له هیبت او جلاله چې د غټو غټو سر پرې کوونکو د اطاعت سرونه ښکته کېدل، چا چې د نړۍ خزانې د غزني په کونج کونج کې خپرې کړې وې، د چا د لښکر د اسونو سومان چې د خیبر او کوهاټ درو په غرونو، د سندھ او راجپوتانه په بې اوبو بیدیاوو، او د عرب د بحیرې تر ساحلونو، د ترکستان او خوارزم په درو، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختن په میدانونو، او د ایران په کوڅو کې په یو وخت لګېدل، د چا عسکر چې د ګرمۍ په موسم کې د ایران او ترکستان په فتوحاتو، او د یخنۍ ورځې هندوستان زېروزبر کولو کې تېرولې، د چا په دربار کې به چې د شاعرانو هغه مجلس لګېدلی و، چې د خوږې ژبې له کبله یې اوس فارسي ژبه د نړۍ تلپاتې ژبه ګرځېدلې ده، هغه سلطان اوس څنګه د بې کسۍ، او بې چاره ګۍ په حالت کې په یو باغ کې یوازې په خارو کې پروت دی.

د خیال په غوړېونو کې مې اوس هم د دې مزار د حال په ژبه د فرخي مرثیه اورېدل کېږي چې ویلي یې دي:

شهر غزنین نه همان است که من دیدم پار
چه فتاده است که امسال دگرگون شد کار[۳۷]

د مزار پر سر ګمبده امیر حبیب الله خان په کال دیارلس سوه درویشت هجري کال کې مرحوم امیر حبیب الله خان جوړه کړې ده، چې کتیبه یې په فارسي نستعلیق خط د مرمر په یوه ډبره کې په دیوال لګول شوې ده، د سلطان قبر غالباً د پخوانۍ زمانې جوړ شوی دی، څکه چې د سلطان د وفات تاریخ او د دعاء کلمې پرې په عربي ژبه کښل شوي دي، دا لیک کوفي لیک ته ورته دی، ژبه یې هم خالصه عربي ده، دا عبارت د قبر پر سر او څلورو خواوو ته په همدې خط لیکل شوی دی، چې اوس یې لوستل اسانه نه دي، ما یوازې په یو اړخ کې یو عبارت ولوستی شو، چې د سلطان د وفات تاریخ پرې کښل شوی وی.

توفی برحمة الله علیه و نور حضرته و ابیض وجهه عشیة یوم الخمیس، لسبع بقین من شهر ربیع الاخر، لسنة احدی و عشرین و اربع مائة.[۳۸]

---

۳۷-دا د سلطان محمود د وفات په اړه د فرخي سیستاني یوه اوږده ویرنه (مرثیه) ده، چې لیکوال یې یو څو ګډوډ بیتونه را اخیستي دي، د لنډیز لپاره یې دلته یوازې مطلع راواخیستل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: سلطان رحمة الله علیه الله دې د هغه قبر منور کړي، او د هغه څېره دې روښانه کړي، د پنجشنبې په ماښام، په هغه ورځ چې د ربیع الاخر اوه ورځې پاتې وي، وفات شوی دی، (یعنی د ربیع الاخر درویشتمه نېټه وه).
نېټه څلور سوه یو ویشت.
د غزنوي په تر ټولو پخواني تاریخ زین الاخبار کې هم همدا تاریخ لیکلی دی:
وفات امیر محمود رحمة الله روز پنجشنبه بود بست و سوم ربیع الاخر سنة احدی و عشرین و اربع ماة (صفحة ۹۲)
د حضرت داتا ګنج بخش لاهوري د والد مزار
له دې شاهي مزارونو له کتنې وروسته ډاکټر صاحب د لاهور د حضرت داتا ګنج بخش د والد د مزار په لټه کې شو، ملا قربان وویل چې دا مزار یې لیدلی دی، د هغه په لارښوونه مو د پخواني غزني په ویران او خاموشه ډاګونو کې سفر پیل کړ، یو ځای مخکې د موټر لاره نه وه، ملا صاحب، ډکټر صاحب او نور پلي شول، د زیارت تر لیدلو وروسته بېرته راستانه شول، زه د سینې د درد له کبله پاتې شوم.
د لای خوار مزار:
د حکیم سنایي د توبې د کیسې په سلسله کې د لای خوار په نوم د یو فقیر یاد راځي، چې هغه ویلي و (بکوری سنایي می خورم)[39] چې د سنایي نه به لوړ

---

[38]-خواجه حسن نظامي صاحب افغانستان ته په خپله سفرنامه کې دا کتیبه داسې لوستې ده "یوم الخمیس سبع عشر من ربیع الاخر سنة احدی عشر و اربعمة (روز پنجشنبه ۱۷ ربیع الاخر سنة ۴۲۱) د دې په لوستلو سره دې پایلې ته ورسېدم، او خوشاله شوم چې د سلطان وفات په هغه تاریخ شوی دی، کوم چې خواجه نظام الدین اولیاء محبوب الهی د وفات تاریخ دی، (یعنی اولس) خو د هغه دا خوشالي پر ځای نه ده، ځکه چې له هغه څخه د کتیبې په لوستلو کې تېر وتنه شوې ده. (لیکوال)
[39]-لیکوال دا فارسي جمله ناسمه لیکلې ده، د لای خوار په کیسه کې د نوموړي الفاظ په څو ځایونو کې په دې ډول راغلي چې (پر کن قدحی به کوری)، او دا یې د شرابو غوښتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیوقوف څوک وي، څوک چې د خپل ځان په څېر انسانانو په صفتونو کې خرافات نظم وايي، او بيا يې هغوی ته اوروي، په حکيم سنايي د دې خبرې اثر وشو، او توبه يې وکړه، ملا قربان د غزني د ښار له يوې کوڅې څخه تېر کړو، او يو مسجد ته يې داخل کړو، او راته يې وويل چې دا د هماغه لای خوار مزار دی.

## د غزني شپه:

ماښام نژدې و چې له دې ليدنو کتنو وزګار شو، هوا په سړېدو وه، غزني له کابل څخه زر فوټه لوړ دی، له همدې امله دلته له کابله هم زياته يخني وه، په ماښام کېدو سره انګېټهی بلېدل پيل شول.

دولتي مامورينو ډوډۍ چمتو کړه، د شپې نږدې اته بجې په مېز خوراک کېښودل شو، هماغه د کابل خوارکونه وو، غزنې کې هوا هم يخه وه، له لمانځه، خوراک څخه تر فراغت وورسته، د سلطان محمود په غزني کې د شپې تېرولو لپاره په بسترو وغزېدو.

## مقر، قلات غلځايي او کندهار.

## پړاونه:

د يو دېرشم اکتوبر په سهار له غزني روان شوو، زموږ کوچنی کاروان نن هم په دوه موټرو او دوه لاريو مشتمل دی، له غزنې وروسته لومړی پړاو په مقر کې دی دويم پړاو په قلات غلځايي کې دی، خو دا چې زموږ ملګري اوتر دي، نو نن بايدد قلات او مقر دواړه پړاونه په يوه ورځ کې ووهو.

له غزني تر مقره نږدې اويا ميله لاره ده، تر دې مخکې دا لاره په اتو منزلونو کې وهل کېده، لومړی منزل قلعه نانی، دويم قره باغ، درېيم قلعه غوجان، څلورمه قلعه مکوړ، پنځم سره چشمه، شپږم ترين کلا [۴۰]، بيا قلات ته رسېدل دي، خو

[۴۰]-ترين د پښتنو يوه قبيله ده.(ليکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر دا اوه منزلونه په څو ساعتونو کې و هي، موږ سهار اته بجې له غزني روان شوو، ماسپښين يوه بجه مقر ته ورسېدو، لاره اواره وه، ځای ځای کلي اباد وو، پراخه کروندې او ځای ځای چينې بهېدې.[۴۱]

## مقر يعنی لرغونی بيهق:

بيهق د يو لرغوني تاريخي ښار نوم دی، دلته ستر ستر محدثين، تاريخ پوهان او د ادب خاوندان پيدا شوي، ياقوت په معجم البلدان کې بيهق يوه پراخه ولسوالۍ بللې ده چې د نيشاپور قوس او جوين په منځ کې پرته سيمه ده، هغه وايي چې له بيهق څخه تر نيشاپور پورې اتيا فرسنګه لاره ده (يعنې اوس يو سل او دېرش ميله ده)، پخوانی مرکز يې خسروګرد و، بيا يې مرکز سبزوار شو، له درې سوه او يو ويشت کليو جوړ و، فارسي نوم يې (بيهه) دی، خو عربانو ترې بيهق جوړ کړ او همدې شهرت موندلی، ابو بکر احمد بن حسين چې په امام بيهقي شافعي شهرت لري، د هغه کتاب سنن بيهقي او دلايل النبوة مشهور کتابونه دي.

ځوان افغان ادعا کوي چې لرغونی بيهق همدا سيمه ده، خو زموږ د سفر افغان ملګري سرور خان ګويا په ډېر باور سره ماته دا باور راکړ، له مقر سره نژدې يې د دوه قبرونو مزارونه راوښودل هغه وويل چې په دې دوه قبرونو کې يو د ابو الفضل بيهقي دی، او دويم د ابو نصر مشکاني د ابو الفضل بيهقي غزنوي د کورنۍ مشهور تاريخ ليکونکی دی چې په ۴۷۰ ميلادي کې وفات شوی ابو نصر مشکاني هم د همدې زمانې مشهور اديب او تاريخ پوه دی، د کوم کتاب مقامات چې د پخوانيو ليکوالانو ماخذ دی.[۴۲]

---

[۴۱]-داسې برېښي چې ليکوال د ځينو کلاوو نومونه ناسم نقل کړي وي.

[۴۲]-يو شمېر تاريخونه د ابو نصر مشکان د زېږېدو ځای غزني يا غور ښيي، خو په غزني کې وفات او دفن شوی دی، د البيهقي د زېږدو ځای بيا سبزوار ښيي، چې په نيشاپور کې وفات شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقر ته داخلېدل او بیا د سفر پیل :

مقر په یو پراخه او ښکلي میدان کې پرته سیمه ده، ابادي یې کمه ده، د یو افغان ډګروال تر قوماندې لاندې یو پوځي ټولی دلته مېشت دی.

سیمه ایزو دولتي مامورینو زموږ د راتلو خبر له وړاندې تر لاسه کړی و، ځنګه چې موټر ودرېد، هلته له مخکې څخه ولاړ د سلامۍ کنډک میلمنو ته د ښه راغلاست سلامي وکړه، زړه راته وویل چې په اسلامي هېواد کې که څه هم موږ مسلمانان بهرني مسلمانان یو بیا هم پردي نه پاتې کېږو، او د دې درناوي وړ ګرځو، هومره چې خپل وطن کې هم هومره عزت نه ورکول کېږي، د ازادۍ او غلامۍ تر منځ څومره ستر توپیر دی.

دلته دولتي ودانۍ په ډېره ښه بڼه په پاځه ډول په دوه پوړونو کې جوړه شوې ده، پورته پوړ د میلمنو لپاره دی، ډېرې خونې لري، ډېر ارام وسایل پکې پراته دي، بیت الخلاء یې په نوې بڼه (فلش سیستم) سره سمه جوړه شوې، ودانۍ هم له خښتو جوړه شوې برېښي، ورسره نږدې کوچنۍ ویاله بهېږي، مخامخ یې شنې ونې کتار ولاړې د.

حیران شوم چې دومره ښه فضا او ارام ځای اوله ابادۍ خالي، که چېرې داسې ځای په هندوستان کې وای، نو د سترو سترو امیرانو له کورونو به ډک و، د زمانې د انقلاب دا څه ډول له عبرته ډک انځور دی، چې چېرته یوه ویرانه له رونق ډک ښار او چېرته یو له رونق ډک ښار په خرابې اوړي.

پورته پوړ ته له تګ وروسته موږ یو څه ارام وکړ، لومړی میلیمونه د تودو شېدو یو یو ګیلاس وړاند کړای شو، بیا له شېدو پرته شین چای راوړل شو، وروسته د ډوډۍ مېز جوړ شو، له خوراک وروسته مخکې تګ ته چمتو شوو، د تګ پر مهال هم پوځي کنډک د درناوي سلامي وکړه، یوه بجه موټر د کلات پر لور روان شول بیا هم لاره اواره او صافه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کلات غلځايي:

دوه کلاته دي، يو کلات د بلوچو او بل کلات غلځايي، لومړی په بلوچستان کې دی چې نن سبا د هندوستان برخه ده، او دويم د غزني او کندهار تر منځ موقعيت لري، په لومړي سر کې د افغانستان پولې تر بلوچستان پورې غزېدلې وې، او د بلوچ کلات امير د افغانستان د پاچا تر امر لاندې و، په ۱۸۸۹ ميلادي (۱۲۵۵ هجري) کې چې کله انګريزي پوځ د سند او کندهار له لارې د افغانستان د پاچا په توګه د شجاع الملک د ټاکلو لپاره کابل ته تللی و، نو دوی د بلوچ کلات امير محراب خان د ميلمستيا په چل ول وواژه او بلوچ کلات يې ونيو، خو د هغه ځوانمرده زوی نصيرخان په ډېرې اتلولۍ سره انګريز پوځ ته ماتې وکړه، خو د افغانستان د پاچا مرسته يوازې همدا بهانه وه، چې سند او کلات يې د هندوستان تر ولکې لاندې راوست.

دا تفصيل مې له دې امله دلته وليکه چې اوسمهال يو مشهور ليکوال د بلوچ کلات امير محراب خان د غلځايي کلات حاکم بللی و.

زما په باور د کلات ټکي اصلي منشا قلعات دی، چې د قلعه جمع ده اود زيات کارېدو له امله په کلات بدل شوی دی.

له مقر څخه ماښام مهال کلات غلځايي ته ورسېدو، دا د غلځي او توخي افغانانو استوګنځای دی، خو خپله د کلات ابادي ډېره کمه ده، دولتي ميلمستون د خامو دېوالو جوړ دی، پراخه دی خو ډېر پخوا جوړ شوی دی، زموږ د راتګ خبر دوی ته هم ورکړل شوی و، خو په تصادفي ډول خادم نه و، لږ وروسته په منډه او سا نيولی راورسېد، د ميلمستون دروازې يې پرانيستې، ډېرې خونې او پاک سامان يې درلودل، په خونو کې پرده لرونکي تختونه او د هغې دپاسه کمپلې پرتې وې، موږ هر يو يو کټ ونيو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا میلمستون په پراخه مېدان کې موقعیت لري، نږدې وسره ابادي نه شته، مخامخ يې غر دی، په هغې یوه کلا اباده ده، چې افغان پوځ پکې میشت دی، کلا مخامخ ښکاري، ورسره نږدې یو کلی اباد دی، دا له غزني څخه هم زر فوټه لوړ دی، له کابل څخه دوه زره فوټه لوړوالی لري، د مازدیګر څلور بجې وې، خو دومره تېز باد لګېدو او دومره یخني وه چې د اکتوبر په یو دېرشمه مو د مازدیګر د لمانځه لپاره په ګرمو اوبو اودس وکړ.

له میلمستون دباندې په وېړ میدان کې اواره ځمکه په رېږ پوښلې وه، له همدې برېښېده چې دلته اوبه بهېږي، همدا راز ومو لیدل چې دلته بیلابېلو ښایسته او ځلانده ډبرې هاخوا دېخوا پرتې وې، د یادګار په ډول مو څو ډبرې له ځانه سره راواخستې، همدې ته ورته د ۱۹۲۵ کال د عربو د سفر پر مهال هم موږ د سوډان په ساحل کې داسې ډبرې موندلې وې، له هغه ځایه مو هم څو کوچنۍ ډبرې د یادګار په ډول راوړې وې.

له ماښام وروسته دومره یخني شوه، څومره چې زموږ په سیمه کې په دیسمبر او جنورۍ کې وي، په همدې سبب په بخاریو کې اور بل شو.

## ایراني او افغاني فارسي

په غزني کې د پروفیسر هادي او سرورخان ګویا تر منځ د ایراني او افغاني فارسي تر منځ د غوراوي په اړه په زړه پورې بحث وشو، پروفیسر د ایراني فارسۍ ستاینه کوله، او سرورخان ګویا خپله مورنۍ افغاني فارسي غوره بلله، تر ډېره بحث او خبرې وشوې، ګویا ادعا کوله چې فارسي اصل کې زموږ ژبه ده، موږ په بخارا کې (د سامانیانو پر مهال) دا ژبه منځ ته راوړې ده، او په غزني کې د غزني د شاعرانو له خوا ورته وده ورکړل شوې ده، له رودکي نیولې بیا تر غضائري، مسجدي، اسدي، وفیقي، فردوسي، عنصري، سلمان او سنایي او داسې نور ټول د دې ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، او د هغوی د ژبنیو هڅو نوم فارسي ادبیات دی، خو پروفیسر د منځنیو ادیبانو سعدي، حافظ او وروستیو نومونه اخستل.
سرورخان ګویا د ایرانیانو د خبرو د ژبې هغه انځور وړاندې کړ چې موږ په خندا خندا ستړي شوو، هغه وویل که موږ ستاسې څخه مننه کوو نو په ښکاره د شکریه او مننې الفاظ وایو، د ایرانیانو په څېر مصنوعي کلمې نه جوړوو لکه (بجان شما، قربانت شوم، بسرشما) نه وایو، په ایران او افغانستان کې چې د فارسي کوم نوي ادبیات منځ ته راغلي، په دې اړوند یې وویل چې موږ د ادبیاتو جدي ډول موندلی دی، او هغوی یوازې ورته په تفریحي ادبي نظر ګوري، وروسته د لهجې په اړه خبرې وشوې، ایرانیان هغه لفظ چې په اخر کې یې الف او نون وي په واو او نون لولي لکه همان "همون" وایي، او ان ته اون وایي، سرورخان وویل:

اقا درست است دوکان شما.... است و زبان شما زبون

په دې خبرې سره ټولو وخندل.

## د کلات شپه:

شپه پخه شوې وه، ټول په خپلو بسترو وغزېدل، ټوله شپه تېز باد چلېدو، خو دا چې په حاشدارو کې هنداري وې، هغه هم بندې وې، خونو کې اور بلېدو، یخني مو ونه شوه، خو زموږ ملګرو وویل افغان سرتېرو ته شاباسي ورکول پکار دي، ځکه چې هغوی بیا هم په دې تېز باد او یخنۍ کې په دهلیزونو کې ارام په خوب ویده وو.

## له کلاته روانېدل:

نن د نومبر لومړۍ نېټه ده، سهار مو چې سترګې پرانیستې ګرمې اوبه موجودې وې، اودس او د سهار لمونځ مو وکړ، ملګرو مو مخونه ومینځل، وروسته چای او سهارنۍ راورسېده، چای مو وخوړ او د تګ لپاره چمتو شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تګ پر مهال دلته هم پوځي کنډک د درناوي سلامي وکړه، او د اته بجو په شا اوخوا کې روان شوو.

د کندهار لاره:

هماغه شان يخني وه، ډبلې جامې مو اغوستې او او کوټونه مو پر تن وو، د موټر هنداري بندې وې، خو بيا هم موټر ته باد او يخني راننوتله.

د افغانستان په دې برخه کې تر کلات پورې مخ په لوړه روان وو، له کلات وروسته له نيمايي لارې مخ په ځوږ روان شوو، يخني هم مخ په کمېدو شوه، او هوا مخ په ګرمېدو شوه، تر دې چې کندهار ته په نږدې کېدو سره د پنجاب په څېر موسم ته نږدې شوي وو، په هندوستان کې د جنورۍ په وروستيو د ژمي په ورځو کې له ډيلي څخه تر بمبي پورې د تګ پر مهال بايد ډبل لباس واغوستل شي، خو له بوپال وروسته د يخنۍ زور کمېږي، له منانده وروسته بايد دا ګرم لباس و ايستل شي، تر دې چې کله بمبي ته رسېږې؛ نو په بدن به دې د ګرمۍ لباس او په لاس کې پکې وي، په همدې ډول څنګه چې موږ له کلات لرې کېدو او کندهار ته نږدې کېدو، نو د ژمي لباس مو له ځانه لرې کاوه.

له کلاته تر کندهاره پورې لاره ښه نه ده، که څه هم لاره اواره وه، خو بيا هم په سرک کندې وې، په لاره کې مو يوه لويه کلا ولېده، لاره کې ځای ځای چينې هم روانې وې، دا سيمه هم زرخېزه او شنه وه، بيا هم لويې لويې درې په کروندو ابادې وې.

## خېبر ولې فتنې زېږوي؟

که د افغانستان په تېرو پېښو نظر واچول شي، نو تاسې ته به معلومه شي چې د خيبر شا او خوا د هرې فتنې سرچينه ده، د دې شا او خوا سيمو قبيلې که په هندوستان کې دي که په افغانستان کې، هر وخت د بريدونو لپاره چمتو وي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې ځایه پاڅونونه او بغاوتونه راپورته کېږي، تاسې به کله د کندهار او غزني په شا او خوا کې د بغاوت کیسه نه وي اورېدلې، خو چې کله جګړه ونښلي نو بیا د دې ځایونو پښتانه هم پکې کم نه وي.
پر هندوستان د دراني د بریدونو سرتیري همدوی و، موږ چې له پېښوره تر کابله او بیا له کابله تر کندهاره د افغانستان کومې سیمې ولېدې، نو په دې مو باور شو چې د پایلو د دې اختلاف په بېخ کې د دې دوه بېلا بېلو سمتونو د ژوند د څرنګوالي اختلاف دی، خیبرستان ټول ډبرین دی، د کرنې ځمکه پکې ډېره کمه ده، له همدې امله د هغه ځای قبایل د خپل نس د ډکولو لپاره اړ دي چې فتنې پیدا کړي، بغاوتونه راپورته کړي، او لوټ مار وکړي، تر څو خپلې خېټې ډکې کړي، خو له بلې خوا له کابله تر کندهاره ټولې سیمې ډېر شنې، ښېرازې او حاصلخېزې دي، خلک یې کروندګري او سوداګري کوي، ځان ته روزي پیدا کوي، هر وخت مصروف وي، له همدې امله د طبیعیت له لحاظه امن خوښونکي دي.

## د کندهار پړاونه:

له کلاته تر کندهار پورې پړاونه په دې ډول دي:
اول: د کلات له کلا څخه تر تیرانداز سیمې پورې، چې د ترنک په نوم د یوې ویالې په څنډه اباد کلی دی، له همدې ځایه د دراني قوم استوګنځای پیلېږي.
دویم: د تیرانداز له کلا څخه تر شهر صفا پورې، کوم ښار چې د احمدشاه ابدالي زوی تیمور شاه د چارو سمبالونکي فیض الله خان جوړ کړی و.
درېیم: له شهر صفا څخه تر کاریز علهدو پورې چې دا یوه چینه ده.
څلورم: له کاریز علهدو څخه تر کندهار پورې.[43]

[43]-داسې برېښي چې لیکوال په زابل کې د ځینو سیمو نومونه ناسم لیکلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر پړاو له یوولس نیولې تر شپاړس میله پورې لرې ابادۍ ته په کتنې سره جوړ شوی، د پخوا په نسبت اوس ځینې پاتې او ځینې یې له منځه وړل شوي دي، د بېلګې په ډول اوس له کلات څخه لومړی پړاو د جلدک کلا ده، دویم د تیزانداز، درېیم د شهر صفا، څلورم انجا، پنځم مومند دی، خو د چټکو موټرو له امله اوس دا پړاونه له منځه وړل شوي، یوازې هغه څوک چې پلي یا په څارویو سفر کوي، په دې پړاونو کې اړوي، موږ د سهار اته بجو څخه تر دولس بجو په څلورو ساعتونو کې کندهار ته ورسېدو.

## کندهار ته ننوتل:

څنګه چې ښار ته نږدې شوو، نو د ښار ځینې منارې او ګومبدې مو ولېدې، فکر مو کاوه چې په کوم اباد ختیځ ښار ته ننوځو، که اروپا ته ولاړ شئ، تر ټولو دمخه د دود کش دریمځې وینئ، له ښاره دباندې په یو پاخه میدان کې چې یو لور ته یې د بنګلې په څېر ځینې پوځي ودانۍ وې، ولېدل شوې، داسې ښکارېده چې دا میدان هم د کومې پوځي موخې لپاره جوړ شوی، چې شونې ده د الوتکو لپاره یا د پوځ د تمرین ځای وي، له دې وروسته ښار ته داخل شوو، ومو لیدل چې دا ښار د افغانستان د ټولو نورو ښارونو څخه زیات متمدن، پر رونق او سوداګریز دی، پراخه سرکونه، منظم دوکانونه، د ګمبدو بام لورنګې ودانۍ، مسجدونه چې ګمبدې او منارې پرې دنګې وې.

لومړی له یو بازاره تېر شوو، او یوې ګمبده لورنګې څلور لارې ته ورسېدو، د دې څلې شا او خوا ته سرکونه او څلور خواوو ته یې بازار و، دا جوړښت راته د حیدراباد ښار د دکن د څلور میناري په څېر وبرېښېد، خو دا چې د دکن د څلور میناري څخه بیا په داخلېدو سره سرکونه نه تېرېږیو او چې دلته راداخل شوو، نو ټولو خواوو ته لارې وتلې وې، په هغه سرک ولاړو چې شاهي و دانیو ته غزېدلی دی، نوم یې شاه بازار دی، غالباً له دې کبله دا نوم ورکول شوی دی چې د شاهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودانیو پر لور غزېدلی، خو معلومه شوه چې د ترمیم لپاره هغه سرک بند شوی دی، له همدې امله په بل سرک د ښار څخه د باندې د ودانیو شا لور ته ارګ یعنې شاهي کلا ته ورسېدو، دلته مو د یوې عالیشان او پراخه ودانۍ په دویم پوړ کې واړول.

## د کندهار ارګ:

د کندهار دا شاهي ودانۍ د نورو ټولو ښارونو له ودانیو څخه پراخه، لوړه، ښایسته او ښه سمبال او له تکلف څخه ډکه ده، داسې برېښي چې کله دا ښار پلازمېنه وه، نو دا به شاهي دربار و، د ښار هغه کلا چې دا شاهي ارګ پکې جوړ شوی، له خامې ختې جوړ دی، خو د دیوالونو سور یې دومره دی چې دوه درې سپاره پرې تللی شي، ځای ځای یې په څنډو کې برجونه جوړ دي، په یو دوه ځایونو کې د باران د اوبو د بهېدو له امله دیوالونه غورځېدلي، دیوالونه یې دومره رانه او ځلانده دي چې د سیمنټ فکر ورته کېږي.

په همدې ارګ کې ټولې دولتي ودانۍ دي، په پای کې یې دوه پوړیزه ودانۍ ده چې زموږ استوګنځای هم دلته دی، همدلته دا ارګ پای مومي، شمالي لور ته یې په لوړو دیوالونو جوړ دویم پوړ دی، د همدې دویم پوړ شمالي لور ته لوړې لوړې ستنې دي او د پاسه پرې چت جوړ شوی، دپاسه پرې د افغانستان شاهي بیرغ رپیږي، مخه یې د شاه بازار لور ته ده، چې مخکې مو یادونه وکړه، د ارګ د دیوال لاندې همدې لور ته یو پراخه میدان دي، چې باغ عمومي (عام باغ) ورته ویل کیږي او په جوړېدو دی، ښي او چپ لور ته یې دوه باغونه جوړېږي، په منځ کې یې یو سرک تېرېږي چې همدا بیا تر شاه بازار پورې غزېږي، په همدې ډول دوه سرکونه له ارګ لاندې د دواړو باغونو شاته په هلالي شکل کې تېر شوي دي، او تر شاه بازار پورې غزېدلي د، د همدې هلالي سرکونو په څنډو کې په یو کتار په پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې ډول دوکانونه جوړ شوي دي، ځينې يې بشپړ او ځينې ودانۍ يې بشپړه نه ده.

## د ارګ په داخل کې:

زموږ د استوګنځای سويلي لور ته يو دالان دی، چې چمن پکې کرلی دی، په منځ کې يې داوبو فواره ده، او د همدې ميدان بل اړخ سويل لور ته بالمقابل نورې ودانۍ دي، دا معنا چې دا ميدان د دې دواړو ودانيو منځ کې دی، له همدې ميدان څخه د وتلو پر مهال صدر دروازه يعنې د تالاشۍ ځای لوېديځ لور ته واقع دی، کله چې د تالاشۍ له ځايه داخل شې؛ نو په ميدان کې شمالي او سويلي لور ته دواړه ودانۍ دي، زموږ استوګنځای په شمالي ودانۍ کې و.

دلته په زينه پورته ختل دي، پورته هغه ځای ته ورسېدو چېرته چې موږ ميشت و، د شمال لور ته د شاه بازار او باغ عمومي پراخه منظره ښکاري، داسې ښکاري لکه يوه څپره چې په هلالي شکل يا نيمې دايرې په بڼه وي، له څپرې څخه په داخلېدو سره، لومړی يو پراخه سالون دی، دوه درجې لري، لومړۍ درجه يې د شاهي دربار په څېر ښکاري، چې اوس دا ودانۍ د خوراک ځای دی، دلته د خوارک ميزونه خپاره دي، په ټوله خونه کې بهرنۍ قالينې خپرې دي، په دويمه برخه سالون کې چوکۍ او بېلا بيل ډولونه ميزونه پراته دي، له هغوی څخه هم چوکۍ چاپېرې پرتې دې، د همدې سالون دواړو خواوو ته د خوب بېلا بېلې خونې شته، هره خونه کې هر ډول سامان او اروپايي جوړ په کماني شکل کې لوړ تختونه دي، په ځمکه يې قالينې خپرې دي، په کټونو پاکې روجايي غوړول شوي، ختيځ لور ته يې چېرته چې زما خونه وه، دلته يوه بله په مستطيل شکل يوه خونه شته، هر خوا ته يې پردې زړېدلې، هلته يو اوږد ميز و، د ليکلو لوستلو سامان او تيلفون پرې پروت و، داسې برېښېده، چې دا د ځانګړې کار لپاره جوړه شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستر سالون په دیوالونو د افغانستان او کندهار د بېلا بېلو پاچایانو او امیرانو انځورونه او د هغوی د دربارونو انځورونه، د جشنونو تابلوګانې ځوړندې دي، په دې کې د امان الله خان د وخت انځورونه هم وو.

## ګندهار:

کندهار هم د افغانستان له پخوانیو ښارونو یو دی، د هندوانو په لرغونو کتابونو کې یې نوم "ګندهار" لیکل شوی، په همدې نوم یو بل ښار په سویلي هند کې هم شته، کندهار د غلځایي پښتنو ځانګړی مرکز دی، دلته پښتانه په زیات شمېر کې اباد دي.

## پښتون او راجپوت:

زما یوه پخوانۍ نظریه، چې اوس هم لا زیاتو دلایلو ته اړتیا لري، هغه دا چې د افغانستان راجپوت او د افغانستان پښتانه دواړه یو قوم دی یا د پښتنو ځیني چې هندوستان ته راغلل نو دوی د راجپوت نوم خپل کړ، دلته پاتې او له اسلام څخه وروسته مسلمانان شوي بیا پښتانه بلل کېږي، له دې ځایه چې کوم پښتانه د سلطان محمود او سلطان شهاب الدین تر بیرغونو لاندې د بریدونو پر مهال هندوستان ته راغل، دا دتاریخ کومه نوې پېښه نه وه، بلکې دا هندوستان ته له پخوا څخه د پښتنو د راتګ او پوځي مداخلو یوه برخه وه، چې همیشه به هندوستان ته داخلېدل، خو له دې امله چې دا برید کوونکي اوس د بودا په مذهب نه و، بلکې مسلمانان و، د یو قوم او منظم حکومت لاندې وو، له همدې امله پخوا راغلیو راجپوتانو په هر قدم د دوی مخه ونیوله.

تاریخ پوه مسعودي چې د ۳۰۴هجري په شا اوخوا کې یې د سند څخه لېدنه کړې، هغه د کندهار په یادولو سره لیکي: (و القندهار یعرف ببلاد الرهبوط لومړی جلد پاریس) یعنې کندهار د رهبوط د هېواد په نوم پېژندل کېږي، زما په فکر چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رهبوط مطلب (راجپوت) دی، امکان لري چې هغه په سند کې د کندهار د پښتنو نوم په راجپوت سره اوړېدلی وي.

کندهار د سند په پای کې موقعیت لري، که بل لور ته غرونه منځ کې خنډ نه شي نو د بنو (سرحد ایالت) او کندهار تر منځ ډېر کم واټن دی، له دې وروسته د سند دره او د سند سیند مخې ته راځي، کېدای شي همدا لامل وي، چې د کندهار واکمنو بیا بیا سند نیولی دی.

## اوسنی کندهار:

که څه هم د کندهار ښار لرغونی دی، بیا هم د دې ښار د درو په څنډو کې د واکمنو او فاتحانو د واکمنۍ پر مهال یې بیا بیا ځای بدل شوی دی، لکه چې دا هغه کرې ته ورته دی چې هم په خپل ځای پاتې دی او هم بیا بیا په خوځښت کې دی، تر ټولو وروستی ځل د احمد شاه دراني د واکمنۍ پر مهال دا ښار ویران شو، هغه پخوانی ښار ړنګ کړ او نوی ښار یې اباد کړ، په همدې بنسټ اوسنی کندهار همدا احمدشاهي کندهار دی، کندهار د احمد شاه او د هغه ځای ناستو پلازمېنه وه، هغه مهال بلوچستان، سند او سرحد ایالت او د پنجاب یو شمېر سیمې، او کشمیر د افغانستان برخه وه، احمد شاه پر هندوستان بریدونه وکړل، په کوم جنګ کې چې هغه د مرهټیانو په وړاندې بری تر لاسه کړ، مرکز یې همدا کندهار ښار و.

د اوسني کندهار انځور اوس هم هماغه دی کوم چې کلونه وړاندې و، د احمد شاه دراني د تاریخ لیکوال ۱۲۶۴ د دې ښار نقشه په دې ډول انځور کړې ده: (د ممدوح پاچا د ښار په شا او خوا کې پخه کلا او له اوبو ډکې ویالې دي، د هر بازار لاندې دوکانونه دي، د ویالو په څنډو کې سیوری لرونکې د توت ونې دي، او بازار یې ځلور خوا خپور دی، منځ کې یې لوړه ګمبده جوړه شوې مخ ۴۵).

## په شاهي ارګ کې استوګنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ارګ کې له ارام وروسته ما او ځينو ملګرو د سفر لپاره غسل وکړ، ځکه چې اوس د هندوستان پر لور يو ورستی پړاو پاتې و، دا د حيرانتيا وړ وه چې په دومره ستر شاهي محل کې بيا هم د ضرورت دوه خونې (غسلخانه او بيت الخلاء) وې، د دې ماڼۍ له حيثيت څخه ډېرې کمې او معمولي بلکې تکليلف رسونکې وې، له پخوا راهيسې رواج دی چې غسلخانې له استوګنځايونو جلا د حمام په صورت کې جوړېدې، دلته هم لاندې يو جلا حمام و، يخې او ګرمې اوبه پکې او د غسل جلا جلا اړين سامان پکې موجود و، ځينو ملګرو هلته غسل وکړ، خو ما له حمام څخه ګرمې اوبه راوغوښتې او په ارګ کې مې غسل وکړ، د دې ځای موسم د ملتان له موسم سره ورته دی، غسل ډېر خوند وکړ، او اوس مو د هندوستان لباس هم پر تن کړ.

پښتو تحريک:

د ښار ځينې مشهورې څېرې زموږ ليدو ته راغلې، د يادولو وړ يې دوه تنه دي، د بهرنيو چارو وزارت استازی چې کندهار کې ټاکل شوی، او د دې ځای د ادبي ټولنې ناظم او د پښتو رسالې طلوع افغان مدير عبدالحی خان، د بهرنيو چارو وزارت دې استازی پخوا په ترکيه کې د افغانستان په سفارت کې دنده تر سره کړې، او اوس دلته کار کوي، داسې ښکاري چې عبدالحی خان په هندوستان او د کراچۍ په بندر کې د څه وخت لپاره اوسېدلی، نوموړی د دې خوځښت مشر دی چې پښتو ژبه دې وده وکړي، تعليمي او علمي او دولتي ژبه دې شي، د هغه په راتګ سره سم ډاکټر اقبال سره په همدې موضوع خبرې پيل کړې، ډاکټر د ژبو په وده او پرمختګ ځانګړې او اصولي بحث وکړ، او ټينګار يې وکړ چې ژبه د يو قوم د خلکو تر منځ د پيوستون لپاره ډېره اړينه او اغېزناکه لاره ده، خو که چېرې د داسې يو تحريک له امله د قوم د خلکو تر منځ د يووالي پر ځای د اختلاف منځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وېره وي، نو بيا د ترون پر ځای د شخړو او اختلاف او جنګ وسيله ګرځي، چې له امله يې د افغان قوم په اوسني منزل کې ډېر څه لاسه ورکوي.

زما په اند نن سبا چې د محدود قوميت او ناسمې قومپالنې فکر په قومونو کې شته، له امله به يې د ځوانو افغانانو زړه او دماغ دواړه اغېزمن شي، سره له دې چې فارسي ژبه له زرو کلونو راهيسې د دې هېواد علمي، ادبي او دولتي ژبه ده، بيا هم د دې هېواد د عامو خلکو مورنۍ ژبه تر اوسه پښتو ده، دا د تعجب وړ نه ده چې پښتو تحريک به په راتلونکي کې لا پياوړی شي، او يوه ورځ به د افغان قوم د دولتي ژبې درجه خپله کړي.

## د کندهار والي او نور چارواکي:

موږ لا د افغان جنګياليو په ژبني جنګ اخته وو، چې د کندهار والي له خپلو ملکي او پوځي کارکوونکو سره راورسېد، هغه په ملريا ناروغۍ اخته و، د تبې له شکېدو وروسته هم کمزوری برېښېدو، له همدې امله د ښار څخه بهر چېرته ارام ځای کې ميشت و، خو يوازې له موږ سره د ليدنې لپاره د ناروغۍ او ضعف په حالت کې راغلو، هغه له موږ ټولو سره سلام او په لاس ستړې مشې وکړه، بيا يې له يو مامور سره زموږ پېژندګلو وکړه، د دې ښار ښاروال هم ورسره و، په بېلا بېلو موضوعاتو مو خبرې وکړې، ځلور بجې هغوی رخصت واخيست او موږ هم د ښار د ليدلو لپاره بهر ووتو.

دا سردار ډېر ښه خويه، سنجيده او د ملګرتوب ښښتن و، هغه هم د اوسنۍ واکمنې کورنۍ غړی دی، زما په اند د نادرشاه مرحوم خوريی دی، د ارګ تر دروازې يوځای ولاړو، هغه غوښتل نږدې ځايونو ته له موږ سره ولاړ شي، خو دا چې کمزوری و هغه مو رخصت کړ، هغه په خپل ښکلي موټر کې سپور او ولاړو.

خرقه شريفه او د احمد شاه دراني مقبره نږدې وو، پلي روان شوو، او موټر مو د قبرې تر دروازې پورې واستول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خرقه شریفه:**

له ارګه د وتلو سره سم خرقې شریفې ودانۍ ده، داسې مشهوره ده چې دلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپیڅلی لباس ایښی، لرغوني تاریخ یې معلوم نه دی، شوني ده چې دا مبارک لباس احمد شاه ابدالي له بخارا تر لاسه کړی وي، په ډېر ادب او احترام یې خپلې پلازمېنې ته راوړی، او په ۱۱۸۲کال کې یې ورته له شاهي ماڼۍ سره نږدې یوه ودانۍ جوړه کړې، تاریخ یې په عربي ژبه کې په الف و مأته و ثمانین و اثنین لیکل شوی، د ودانۍ اوسنۍ بڼه یوه ستره ګمبده لري، کله چې موږ هلته داخل شوو، فرش پکې اوار و، خو په راوتلو سره مو ولېدل چې سرتېرو بېرته ټول کړی دی، داسې ښکارېده چې دا فرش په ځانګړو مواقعو خپرېږي.

اوسنۍ ګمدي ودانۍ شهید امیر حبیب الله خان جوړه کړې ده، د دروازې په ښي او کیڼ لور په ښکلي لیک لیکل شوي چې د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال سردار محمد عثمان خان نایب سالار نایب الحکومت کندهار په ۱۳۲۹کال کې جوړه کړې ده، داخلي برخه کې ډېره ښکلې او په ښایسته نقش ښکلې شوې ده، د ګمبدې په ټوله شا اوخوا کې په ښکلي لیک لیکنه شوې ده، ګمبده یې خالي ده، په لوېدیځ اړخ کې یې یوه لوړه چوتره ده، په څنډه کې ورته زینه ختلې، د زینې په سر کې ښکلې کټاره لګېدلې، په همدې زینې بره وختو، دلته په یو پوښ کې یاده خرقه شریفه تاو شوې، دلته خیمې ته ورته کوټه ده، ورسره نږدې د خوشبویۍ لپاره بخوردان ایښي دي، هلته مو درود او سلام وکړ، او بېرته راښکته شوو.

زما په فکر د داسې تبرکاتو نسبت چې تاریخ یې روښانه نه وي، د صحت لپاره یې دلایل هم نه شته، خو بیا یې هم ډېر خلک په صحت قایل دي، په همدې بنسټ له دې انکار لپاره هم کوم ډول پیاوړی دلیل نه شته، نو که چېرې موږ د نبوي حرمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتنه وکړو، دا د مینې د قانون سره سم دی، خو باید دا ډول کیفیت له مشرکانه طریقې سره ورته والی ونه لري.

## د احمد شاه ابدالي مزار:

دا هماغه احمد شاه ابدالي دراني دی چې د هندوستان په وروستي تاریخ کې یې بیا بیا یادونه شوې، چا چې په خپلو وروستیو شپږو بریدونو سره د هندوستان د بد امنۍ د لرې کولو هڅه وکړه، په وروستي ځل هندوستان ته راغی، په شمالي هندوستان کې یې د مرهټیانو بریدونو ته د پای ټکی کېښود.

د احمد شاه کورنۍ د سدوزۍ قبیلې اړوند ده، مشهوره ده چې د هغه په نیکونو کې د ترین په نوم یو مشر تېر شوی، هغه د خواجه ابو احمد ابدال چشتي مرید و، او بیا یې د ابدال لقب تر لاسه کړ، په همدې اساس احمد شاه ته هم ابدالي ویل کېږي، د ترین ابدال په اولاد کې د یو نوم یې سدو و، د سدوزۍ قبیله هغه ته منسوبه ده، د سدو د یو زوی نوم خضر و، چشتي ته د عقیدت او سپیڅلتیا پر بنسټ په دې کورنۍ کې بزرګي پیدا شوه، خضر د خپلې دینداری له امله په خواجه خضر مشهور شو، افغانانو هغه ته عقیدت درلود له همدې امله هغه یو مرکزي حیثیت درلود، احمد شاه د همدې پاک نېکه نېکمرغه لمسی دی، له نادرشاه وروسته افغانانو احمد شاه خپل پاچا وټاکه، کندهار یې پلازمېنه شوه، هغه مهال د دې افغان پاچا په حکومت کې پر افغانستان سربېره کشمیر، سرحد، پنجاب، او د سند ایالت سیمې شاملې وې، کومې سیمې چې د هغه ځای ناستو وخت په وخت له لاسه ورکړې.

سلطان احمد شاه ابدالي یو دیندار انصاف خوښونکی او پر جوش مجاهد و، او دا مبالغه نه ده چې د اسلام په وروستي تاریخ کې له هغه پرته بل ستر اتل نه دی تېر شوی، له درویشت کاله حکومت وروسته په ۱۱۸۶کال کې وفات شو، په کندهار کې له شاهي ارګ سره نږدې خاورو ته وسپارل شو، له هغه وروسته یې مشر زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیمور شاه په تخت کېناست، او د خپل پلار په قبر یې دا عظیم الشان مقبره جوړه کړه، افغانان ددې مقبرې دومره ادب او درناوی کوي چې که چېرې یو قاتل هم دې ځای کې پناه اخسته؛ هغه به په امن کې و.

دا مزار له خښتو او چونې جوړ دی، د پاسه پرې ستره ګمبده ده، تر لاندې یې د پاچا قبر دی، دباندې هم پرې تزیني کار شوی، خو اوس له منځه تللی، د ګمبدې داخلي برخه په طلایي رنګ سره ښایسته شوې، په ځمکه یې هېڅ فرش نه شته، کوم ځای کې چې د دیوالونو څوکې پای مومي، په ډېر ښکلي لیک پرې لاندې اشعار لیکل شوي:

شاه والاجاه احمد شاه درانی که بود — در قوانین امور سلطنت کسری منش

از نهیب قهربان سطوتش در عهد او — شیر اهو را بشیر خویش دادی پرورش

می رسید از هر طرف در گوش بدخواهان او — از زبان خنجرش هر دم هزاران سرزنش

چون روان شد جانب دار البقاء تاریخ بود — سال هجری یک هزار و ییکصد و هشتادوشش

مقبرې ته په ننوتلو سره مو د دې ستر پاچا هغه انځور مخې ته راغی، کوم چې په انګریزي تاریخونو کې کښل شوی، د هغه د کارنامو ستروالي د دې ځای لیدونکي باادبه کړي دي، هغه څه چې د خاورې لاندې و، هغه له څو هډوکو پرته هېڅ نه وو، خو د هغه د ژوند یو یو ټکی د اب حیات په سیاهۍ د عالم په پاڼو ثبت پاتې دی.

## د قرأن کریم شاهي نسخه:

د سلطان د مقبرې په لوړه کې قرأن کریم ایښی و، کوم کې چې هغه خپله تلاوت کاوه، د مقبرې خادم هغه له پوښه راوویست، زموږ مخې ته یې کېښود، دا په چوب خط ترجمه شوی او حاشیې یې لرلې په قلم لیکل شوی و، په ځانګړې ډول لیکل شوی دی، داسې برېښي چې د باچا په وروستي عمر کې د لیدلو د کمزورۍ او زړښت پر مهال په غټو تورو لیکل شوی و، تر څو یې پاچا په اسانۍ سره ولولي، د دوه لویشتو په اندازه اوږده دا نسخه، ډېره عمده او روښانه ده، فارسي ترجمه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاشیه یې په نستعلیق خط لیکل شوې، د فارسي تفسیرونه هم لري، په پا ی کې یې په فارسي ژبه یوه فالنامه ده، په پای کې یې د هغو خلکو نومونه دي چې دا نسخه یې پاچا ته چمتو کړې وه، د هغوی نومونه په لاندې ډول دي:

سلطان احمد شاه بادشاه غازي درانی خلدالله ملکه دهم شهر ربیع الثاني (۱۱۷۹) باهتمام بنده درگاه اضعف عبادالله علی اکبرخان ادلوکری حافظ عبدالوهاب متن نوشت و محمد هاشم و محمد تقی و عبدالصبور تفاسیر نوشت و محمد یوسف ترجمه نوشت، و به کار صحافی عبدالحکیم صحاف صورت اتمام پذیرفت.

ما وویل دا د قرأن هغه نسخه ده چې د دې تېز انسان د هېواد پراخونکي او د هندوستان د فاتح حکمران پاچا په زړه یې حکمراني کوله.

د دې نسخې د چمتو کولو کوم تاریخ (۱۱۷۹) لیکل شوی، نو داسې بریښي چې دا د مرحوم پاچا له وفاته اته کاله مخکې چمتو کړای شوې ده.

## ارغنداب:

له مقبرې په راوتلو په سرک موټر ولاړ وو، د بهرنیو چارو وزارت اوس هم له موږ سره ملګری و او په نور چکر کې یې هم له موږ سره ملګرتیا وکړه، د کندهار تر ټولو ښکلی او طبیعي منظرې سیمې نوم ارغنداب دی، له مقبرې د ارغنداب پر لور روان شوو، د ښار له دیوالو بهر هم ښه سرکونه وو، مخامخ غرونه ښکارېدل، تر لاندې یې ډېر پراخه میدان و، مامور صیب (د افغانستان په اوسنۍ سلطنتي اصطلاح کې مامور ښکتني افسر ته وایي) وویل چې اول لرغونی کندهار دلته اباد و، خو اوس په دې میدان کې د پخوانۍ ابادۍ هېڅ نښې نه شته.

له میدانه تېر او غره ته نږدې شوو، دلته یو رېونده سرک جوړ شوی، موټر کرار کرار مخ په لوړه تګ پیل کړ، د غر سر ته وختو، په تنګه لاره په لوړه کې یو لوړ خو تنګ ځای ته ورسېدو، موټر مخکې نه شول تللای، پلي روان شوو، او یو پراخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای ته ورسېدو، ځمکه پنځوس شپېته فوټه لاندې وه، عجیبه منظر و، اوس موږ د کندهار په تر ټولو لوړه سیمه ولاړ وو، لاندې د ارغنداب سیند بهېدو، بیا په کم کم واټن کې ویالې روانې وې، لاندې په فطري ډول درې درې ویالې د نهرونو په بڼه بهېدې، د همدې ویالو په څنډو کې تر دېرش میله واټن پورې د انار ونې ولاړې وې، د باغونو یوه لړۍ برېښېده، داسې په زړه پورې فطري منظر تر اوسه زما سترګو نه و لیدلی، هر لوري ته مو چې کتل؛ نو د جنات تجری من تحتها الانهار حالت مو سترګو ته ودرېدو.

## د بابا مزار:

د خدای د دوستانو څه حال دی؟ دوی به چې کله له ازدحام څخه په تېښته د یوې ورکې سیمې په لټه کې وو، نو بیا به یې هم د ټاکنې نظر د قدرت په داسې یو ساده خو په زړه پورې منظر غورځېدو، د ډېرو بزرګانو د چلې او عبادت ځایونه په همدې ځایونو کې دی، د سوډان ساحل اوس انګریزانو نیولی او هلته یې بندرګاه جوړه کړې ده، خو د حیرانتیا خبره دا ده چې خدای خبر له دې څخه څومره وخت مخکې د خدای یو ولي دا ځای د خپل عبادت او مدفن لپاره غوره کړی دی، ځکه چې د سورسمندر په افریقایي ساحل د سوډان له بندرګاه سره نږدې د هغه مزار دی، د ارغنداب دا په زړه پورې نظاره هم کله د قدرت د نظارې د کتونکي له لید څخه پټه پاتې کېده، یو بزرګ چې بابا ولي یې بولي، همدای ځای خوښ کړی دی، په همدې لوړه د هغه مزار دی، ورسره نږدې د یو کوچني مسجد پرانیستې برنډه ده، هر کال دلته یوه میله وي، پسونه قرباني کېږي، د ښار سیلانیان د تفریح او سیال لپاره دلته راځي دلته ډوډۍ پخوي او خوري یې.

د ستنېدو پر مهال مامور صیب موږ ته یو لوړ غر وښود، په قدرتي ډول داسې جوړ شوی و چې ښکارېده لکه یو غټ فیل چې لسګونه متره اږد او ناست وي.

## برېښنا کوټ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارغنداب له رود څخه د باغونو د خړوبولو لپاره اوسني حکومت په ساينسي ډول ګټه اخستلو هڅه کړې، د دې رودونو له بهېدو څخه چې کومه برېښنا توليدېږي په همدې بنسټ يې دلته يو برېښنا کوټ جوړ کړی، ځينې ماهرين پکې کار کوي، د سرکونو په څنډو د برېښنا ستنې ولاړې دي، مزي يې غزېدلي دي، خو تر اوسه يې کار نه دی پيل کړی، د دې ليکتنې پر مهال هيله لرم چې دې کارخانې به کورونه او سرکونه روښانه کړې وي.

**چهل زينه:**

له غره څخه په راکوزېدو د کندهار څخه دباندې بل لور ته ولاړو، يو غر ته ورسېدو، شهنشاه بابر د همدې غر پر سر په هندوستان کې د خپلو فتوحاتو ډبرليک نصب کړی، د غر په لمن کې له موټرو ښکته شوو، سرک تر دې ځايه جوړ دی، د غر له لمنې څخه ډبرې ماتې کړای شوي او زينه جوړه شوې، له ما او پروفيسر هادي پرته هېچا هم پورته ختلو ته زړه ښه نه کړ، په وينا خو دا څلوېښت زينې دي، خو په اصل کې يې شمېر شپږ څلوېښت دی، حکومت د زينو دواړو لوريو ته د وسپنې کټارې لګولي دي، تر څو ختل او کوزېدل اسانه او خوندي وي، له دې امله چې دا زينې د غر په توږلو سره جوړې شوي ځکه صافې نه دي، موږ پورته تګ پيل کړ، خو ډېر ژر مو په سينه کې درد پيدا او ستړي شوو، خو ما همت له لاسه ورنه کړ، او پورته وختم، هلته د غر په سر کېندنه شوې، د مسجد د محراب په څېر يو محراب جوړ شوی، په منځ کې يې يوه خونه ده، دلته د بابر په امر په څرګند ليک د هندوستان د هغو ښارونو نومونه په ترتيب سره د جغرافيې تر مخې کيندل شوي دي، کوم ښارونه چې ده د خپل مټ په زور فتح کړي وو، د پاسه پرې د پاچا نوم ليکل شوی دی، په دې ښارونو کې پټنا، حاجي پور، ترهت، سهسرام څخه نيولې بيا تر لکهنو او بيا له غه ځايه تر لاهور پورې د ښارونو نومونه شته، ورځ پای ته رسېدلې وه، ځکه مې ونه شول کولای ټول نومونه وليکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د کندهار نوی ښار:

له اوسني ښار څخه دباندې او له چهل زینه سره نږدې موږ نوي جوړ شوي سرکونه، لارې او د یو نوي ښار په څېر د پیل نښې ولېدې، راته وویل شول چې امان الله خان په دې سیمه کې د کندهار د نوي ښار جوړولو طرحه درلوده خو زمانې وفا ونه کړه.

### پوځي میدان:

د ارغنداب او چهل زینه څخه د راتګ پر مهال یو میدان دی، چېرته چې افغان سرتیري په ورزشونو او تمرینونو او پوځي لوبو او قومي اتڼ مصروف وو.

### د ښار حالت:

د ښار سرکونه عموماً ښه دي، له ښاره بهر هم سرکونه پاک او اوار جوړ شوي، تر ټولو ښه یې دا چې شنه او شاداب دي، ډېر میدانونه لري، تر څنګ یې دومره ویالې بهېږي چې هر لور ته وګورې؛ نو د اوبو نری لیکه به روانه وي، په ځانګړي ډول د سرک په څنګ کې نهرونه بهېږي، دباندې څخه ښار ته غزېدلي سرکونه او د شاه بازار سرکونه عموماً همدا کیفیت لري.

### د اسلامي ښار منظر:

له چهل زینه څخه د ستنیدو پر مهال ماښام و، د اسلامیت یو اغېزناک منظر مو ولید، هر مسافر، هر دوکاندار، هر چا ته چې چېر ته وخت موندل شوی، د همدې روانو اوبو ویالو ته ناست دی، اودس کوي او څادر یې غوړولی، لمونځ اداء کوي، که جماعت نه و، نو یوازې د قبلې پر لور شوی او عبادت کوي، ځای ځای داسې چوترې هم وموندل شوې چې په جماعت لمونځ پرې کېدو، اباد مسجدنه و، بازارا کې مو ولیدل چې دوکاندار او خریدار دواړه لمونځ کوي، یا په لمانځه ولاړ دي، دا روح پرور نظاره ما له کندهار پرته په بل هېڅ سیمه کې ونه لیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### د ښار روښنايي:

د شاه بازار سرکونه پرانيستي وو، له همدې لارې ارګ ته راغلو، د ماښام لمانځه له اداء کولو وروسته شپه په پخېدو وه، خو بازارونو کې رڼا يي خپره وه، دلته دوکانونه ژر بنديږي، خو په شا بازار کې دوکانونه اوس هم پرانيستي وو، د شاهي ارګ هغه اړخ ته د درنګ ساعت لپاره ولاړ وم چې د شاه بازار پر لور دی، په سرکونو د روښنايۍ لپاره لوړې ډنډې ځوړندې وې چې ټول بازار يې روښانه کړی و.

### د باغ عمومي د سرود ډله:

لکه چې ومو ويل چې د شاه بازار پر لور د ارګ مخې ته او د بازار په منځ کې يو عمومي باغ دی، دا مهال مو په دې باغ عمومي کې وليدل چې د سرود د ډلې د مشر تر څارنې لاندې افغان پوځي کنډک په منظم ډول دورې وهلې او سرود يې غږاوه، د سرک له منځه راځرګندېدل، د ارګ تر پايه دربېدل او په څنګلوري سرک کې بېرته راتاوېدل، له هغه ځايه بيا د سرک تر نيمايي راتلل او همدا جريان روان و، د لارې په اوږدو کې يو نيم ځای کې دربېدل، دا چاره تر يو ساعت روانه وه، دوی چې کله خپل وخت پای ته ورساوه د ارګ په مخ کې ودربېدل درناوی يې وکړ او په خپله مخه ولاړل.

دا له متمدنو ښارونو څخه نقل شوی حالت و، موږ ته وويل شول چې دا انتظام د دې ځای ښاروالۍ کړی دی، هر ماښام دلته راځي او پوځي سرود غږوي.

## د راس مسعود شپې سفر

زموږ په ملګرو کې سيد راس مسعود ستنيدو ته سخت په تلوار کې و، هغه غوښتل چې شپه شپه له دې ځايه رخصت او سهار چمن ته ورسېږو، له چمن څخه موټر واخلو او غرمه کويټې ته ورسېږو، له هغه ځايه په اورګاډي کې علي ګړه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

روان شو، خو ستونزه دا وه چې د سید د سپرلۍ موټر خرابه شوی و، د بل موټر پیدا کېدو کې وخت و، د بل وخت مطلب دا و چې تر څو په کندهار کې انګریزي کونسلګیرۍ په فورمې د موټر ټولې اړتیاوې، وضعیت او څرنګوالی ونه لیکي، نو دا موټر نه شي تللای.

## په کندهار کې برتانوي کونسلګیري:

په کندهار کې د انګریزانو یوه کونسلګیري هم شته چې له شاهي ارګ سره نښتې ده، کونسل یې زموږ د ملګري غلام بهیک ورور خان بهادر سید صدیق حسین دی، هغه مازدیګر موږ سره د لیدلو لپاره هم راغلی و، نوموړي له ډاکټر اقبال سره مخکې هم کتلي او کلیوال یې و، ډنګر، عمر خوړلی او د رنګۍ ږیرې څښتن دی، پنجابي خولۍ یې په سر وي، با اخلاقه، او متواضح انسان دی، مخکې په عربي هېوادونو، شاید په بحرین کې د انګریزانو کونسل و، اوس په کندهار کې دی، د مسلم پوهنتون د فلسفې د پروفیسر ډاکټر ظفر الحسن سره یې نږدې خپلوي ده، سید راس مسعود ورڅخه د خپل سفر د ستونزو په حل کې د مرستې غوښتنه وکړه، نوموړي خپل موټر چې چلوونکي ته یې لاره هم پوره معلومه وه او ټول قانوني مراحل یې بشپړ کړي وو، هغه ته وسپاره، د هغه د سامان الاتو لپاره افغان لارۍ چمتو شوې وه، سرورخان ګویا او مامور صاحب خپلو مسئولیتونو ته په کتنې د سید د دې سفر سخت مخالف و، خو هغه نه منله او مجبور شول چې رخصت یې کړي، له هغوی سره یې وسله وال ساتونکي ملګري کړل، په لاره کې یې د قلعه نو ساتونکو ته تلفون وکړ، خبر یې کړل چې کوم موټر اوس ځي باید مخه یې ونه نیسي، مخکې د تګ اجازه ورکړي، د هرې پوستې افسر ته یې خبر ورکړ چې د دې موټرو د رسېدو خبر په کندهار کې مرکزي دفتر ته ورکړي، په دې سره سید او پروفیسر هادي حسن له کندهاره رخصت شول، د شپې دولس بجې له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایه روان شوي وو او سهار لمر خاته معلومه شوه چې هغوی په خیریت سره له افغان پولې اوښتي او هندوستان په خاوره کې داخل شوي دي.

د شپې تېرول:

پاتې ملګرو په کندهار کې شپه تېره کړه، شپه یخه وه، سهار زه له خپل معمول سره سم پاڅېدم، له ارګه ووتم او په یواځې ځان د ښار پر لور روان شوم.

له سرکونو لېدنه:

له ارګ څخه باغ عمومي ته راغلم، دواړو خواوو ته یې کوچنۍ ویالې بهېدې، د باغ په سر کې سرکونه هم جوړېدل، د ارګ مخې ته د دوکانونو کار هم نه و بشپړ شوی چې په نوي ډول جوړېدل، په داسې حال کې چې د شاه بازار پر لور روان وم، ومې لیدل چې په هر دوکان په ډېر ښه لیک سره په فارسي ژبه لوحې لګېدلې وې، د ټولو تختې تورې او حروف یې سپین و، په هر دوکان د مالک نوم او د هغه مسلک یا د دوکان کاروبار لیکل شوی و، د بېلګې په ډول یعقوب علي خان کتاب والا، احمد خان د غوړیو والا، سردارخان د بورې والا.

اردو د نړیوالې ژبې په توګه:

په جلال اباد، کابل او غزني کې مې اردو ژبه لېدلې وه، خو په کندهار کې مې ولیدل چې د دوکانونو لوحو د اردو الفاظو څرګندونه کوله، او د «والا» ټکی چې بشپړ اردو دی د هر دوکان په لوحه لیکل شوی و، لکه فلانی د کتاب والا، د غوړیو والا، د بورې والا، په دې لیدلو سره مې بمبي په یاد شوه، چېرته چې بوتلي والا «بوتل والا» او ان د سټیشن والا ټکي هم اورېدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوکانونه سهار وختي پرانیستل کېږي:

په دې ځای کې دوکانونه هم وختي بندیږي او هم وختي پرانیستل کېږي، له لمرخاته سره دوکانونه پرانیستي او ځای ځای د خوراک دوکانونه وو، کټ مټ د لکهنو او ډیلي د نانبایانو په څېر، ومې لېدل چې هر ځای کې یا کورکمند، یا رخت او یا غلې دانې پلورل کېدې.

د سرک بلې غاړې هغې ګومبدې ته ورسېدم چې د حیدراباد د څلور منارو سره یې ورته والی ورکوم، د سرک په څنډه ځای ځای د شیدو، مستو او پیروي پلورونکي ناست وو، د دې ځای موره مستې ډېرې مشهورې دي، چې په کوچنیو ختېنو کټهوو کې وي او پلورل کېږي، تر یادې ګومبدې لاندې د مستو دا پلورونکي خورا زیات وو.

## د دوکانونو حالت:

دوکانونه چتونه لري، د ماهي د شا په څېر خام چتونه دود دي، دوکان یا یوازې یوه خونه یا کوچنۍ کوټګۍ وی، د بازار لور ته یې دروازې پرانیستې وي، سامانونو ته په کتنې سره دا ډېر معمولي وو، پاک دوکانونه وو؛ خو له دې امله چې توکي یې هومره ښه نه و، نو دومره روښانه نه معلومېدل.

## د شابازار مسجد:

د شابازار په منځ کې یو مسجد دی، زه ورغلم، عادي مسجد و، خو منبر یې د یوې ځانګړې ډبرې جوړ و، معلومه شوه چې دا د پخوانۍ زمانې یوه شاهي ودانۍ ده.

## د ډبرو صنعت:

د کندهار یوه ځانګړتیا د ډبرو صنعت دی، د سنګ شاه مقصود په نوم یوه ډبره دلته شته، سپینه، ژیړه او شنه په درې رنګونو کې وي، ارزانه یې سپینه، بیا ژیړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ګرانه او کمه موندل کېدونکې يې شنه چې عموماً ورڅخه تسبيح جوړېږي، د ځينو نورو شيانو لپاره هم کارول کېږي، لکه پر کاغذ د اېښودلو ډبره، د سګرټ ډبی، د سګريټ پيپ، د ميوو لوښي او د شمعې لوښي.

## دوکانداران:

سر راس مسعود غوښتل د کور مېرمنو ته د دې ډبرې تسبيح واخلي، مامور صيب ځينې دوکاندارانو ته وويل چې له خپلو سامانونو سره ارګ ته راشي، هر چا په بکس کې توکي راوړي وو، په فارسي خبرې پيل شوې، الله اکبر، د قسم او ايمانداری سره سره د نرخ په اړه ډېرې خبرې وشوې، چې نابلده سړی خو په سم قيمت کله هم څه ونه پيري، نرخ له يو سل او پنځوسو روپيو پيل شو، خو لس دولسو روپيو ته ورسېدل، د شنې ډبرې تسبيحو دولس دانې په پنځلس روپيو وشوې، د تسبو د اوبدلو سامان هم و، سمدلاسه يې تار کې اچوي، او پيرودونکي ته ورسپاري.

## مدرسې او علمی ادارې:

په دومره وخت کې مې دلته د کوم علمي مرکز يا مدرسې څخه ليدنه ونه شوه، د کابل په څېر دلته هم يوه علمي ټولنه شته خپل غړي لري، يو کوچنی کتابتون لري، دلته د فارسي پر ځای پښتو ته اهميت ورکول کېږي، دا ټولنه هره مياشت يوه پښتو مجله هم خپروي، يو کوچنی ميوزيم لري، چې موزيم جديد ورته وايي،د عربي يوه مدرسه ده چې مدرسه محمديه يې بولي، د نوي ډول دوه دولتي ښوونځي دي،د يو نوم مکتب شعله ماه او د دويم نوم مکتب توپخانه دی، هر ښوونځي کې پنځه سوه زده کوونکي دي، يو دار المساکين شته چې بې وزلو ته حکومت خوراک ورکوي، د ښار خلک او سيمو اوسېدونکي هم مدرسې لري چې سيمه ييز هلکان پکې درسونه وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندهار مېوې:

د کندهار د سواکرۍ تر ټولو لوی توکي ميوې دي، نورې ميوې هم لري، خو تر ټولو مشهور يې انار دي، کوم کندهاري انار چې هندوستان ته راځي، هغه د مياشتو په تېرېدو سره وچېږي، خو په کندهار کې يو تازه انار له نيم کيلو کم نه وي، او دومره له اوبو ډک وي چې نيم ګلاس جوس ځيني په اسانۍ وتلای شي، خو دا چې يو څه تروشه وي، نو د انار په دانو يو څه مالګه دوړوي او بيا يې خوري، په دې ډول يوه ځانګړې مزه پيدا کوي.

هره ورځ له کندهاره چمن او کويټې ته د دې ميوو له پنځه ويشتو څخه تر ډېرشو پورې لارۍ ځي، هلته ورته ځانګړې ټوکرۍ جوړېږي، په هغې کې بيا يو خاص ډول اوړده واښه څلور اړخونو ته ايښودل کېږي، په هغې کې انار ايښودل کېږي، تر څو په لاره کې مات نه شي.

## نوې کلا او چمن د نومبر دويمه ۱۹۳۳

د کندهار د ښاروالۍ له بلنې څخه معذرت:

د کندهار د ځينو مشرانو باور و چې د دې ځای ښاروالۍ له اړخه موږ ته د چای بلنه راکړل شي، د دې لپاره اړينه وه چې لږ تر لږه يوه ورځ نور هم پاتې شو، خو هېواد ته د نږدې والي مينې موږ د يو چای بلنې له امله د يوې ورځې قرباني ورکولو سره موافق نه کړو، سرور خان ګويا ډېر ټينګار وکړ، خو موږ ښښنه وغوښته، او همدا پرېکړه وشوه چې نن د نومبر په دويمه نېټه له کندهاره روان شو.

له کندهاره دباندې:

له کندهاره دباندې هم ځينې ودانۍ او شاهي او عمومي باغ شته، چې ځينې يې ډېر شهرت لري، خو د وخت د کمښت له امله مو ونه شول کولای له هغې ليدنه وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفترونه:

دولتي دفترونو ته مو هم ونه شول کولای ولاړ شو، اولېدلي مو دي چې د دفترونو ودانۍ ښې دي، خو لا هم د اوسني متمدن نظام سره سمې نه دي جوړې شوي، او يواځې يو قاضي د هر ډول قضيو پرېکړه کوي.

عجيبه دا ده چې څومره د محاکمې طريقه ابتدايي وي، تر همدې بريده قضيې هم کمې او په طبيعي حالت کې وي، خو څومره چې ترتيب او تنظيم او قواعد او قوانين پېچلي لارې خپلوي، په همدې اندازه شخړې نورې هم پېچلې او زياتېږي، چې په هندوستان کې هر څوک دا ښه درک کولای شي.

## د لارې د تګ تاييد:

هغه څوک چې له هندوستانه افغانستان ته د تګ پاسپورټ لري، اړينه ده چې د بېرته ستنېدو پر مهال د تګ اجازه او افغاني تصديق او برتانوي دفترونو کې يې تصديق کړي، موږ له دې امله چې په کابل کې د اپروسه اسانه وه په کابل کې پای ته رسولې وه، لومړی افغاني دفتر او بيا برتانوي سفارت د هغې تصديق په لاندې ډول کړی و:

(برای رفتن هندوستان از راه قلعه جديد قندهار)

له دې وروسته په هغې د (برټش ليګيشن کابل) په ليکلو سره د تصديق ټاپه ولګوله، هغه څوک چې له کابل څخه دا تصديق له ځانه سره نه راوړي، هغه اړتيا لري چې په کندهار کې برتانوي کونسل او د کندهار د والي دفتر ته ولاړ شي او خپل پاسپورتونه تصديق کړي، که داسې ونه کړي نو هغوی ته له افغانستان څخه د وتلو او هندوستان ته د داخلېدو اجازه نه شي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کندهاه روانېدل:

د سهار اته بجې له چای او سباناري څخه له فراغت وروسته له کندهاره روانېدو ته چمتو شوو، موټر مو هماغه و چې له کابل څخه پکې زه او ډاکټر صیب راغلي وو، ښه، لوی او ارام موټر و.

مخکې مې وویل چې له افغانستانه هندوستان ته د راتګ لپاره د برتانوي کونسل یوه فورمه په دې ډول ډکېږي او وړاندې کیږي چې د موټر لمبر د موټر د کارخانې نوم د استعمال وخت اوسنی کیفیت او د موټر د مالک نوم پکې وي، د چلونکي نوم او د اجازې سند او نور هم پکې موجود وي، هغه موټر چې موږ پکې سفر کاوه مخکې هم هندوستان ته تللی و، له همدې امله له مخکې څخه ورسره د دې موټر فورمه د برتانوي کونسل سره موجوده وه، ځکه کومه ستونزه پېښه نه شوه او هغه لارۍ چې سامانونه مو پکې بار و پورته پړاو یې بشپړ کړی و، ویل کېږي دا احتیاط له دې امله کېږي چې د لارې د خرابۍ له امله کومه ستونزه پېښه نه شي.

له روانېدو مخکې د کندهار د والي له خوا په یوه بوجۍ کې څه وچه میوه او کندهاري انارو دوه ټوکرۍ د ډالۍ په توګه راوړل شول، دا ټوکرۍ په لارۍ کې راوځړول شوې، تر څو د څه شي لاندې خرابې نه شي.

سهار نهه بجې شا او خوا زموږ موټر د کندهار شاهي ارګ څخه حرکت وکړ، په لارۍ کې پر سامان سربېره هغه امنیتي ځواکونه هم موجود و چې له کابله له موږ سره راغلي وو، سرورخان ګویا چې تراوسه زموږ د سفر ملګری و، له دې کبله چې هغه نور تکلیف نه کړو، غوښتل مو هغه کندهار کې پاتې شي او له موږ سره مخکې لاړ نه شي، خو د هغه میلمه پالنې دا ونه منله او کېدای شي همدا ورته شاهي حکم و، هغه هم له موږ سره روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاره:

له کندهاره تر یوې فاصلې سرک ښه و، پلونه یې هم درلودل، خو ځومره چې مخکې تلو لاره خرابېده او تکلیف ورکونکې وه، ډېر پلونه مات شوي و، په داسې ځایونو کې موټر له پول څخه کوزېدو او بیا په په لوړ ځای ختلو، داسې برېښېده چې د زړورو افغانانو سره د هغوی موټر هم زړور دي، چې دا وېرونکې لارې بې وېرې وهي، د افغان موټر چلونکو د بهادرۍ هم باید ستاینه وشي، چې په داسې سختو لارو په ښې طریقې سره موټر چلوي.

## تخته پل:

له کندهاره څو میله لېرې یو منزل راغلو چې نوم یې تخته پل و، شاید د نوم اصلیت یې دا و چې دلته د تختو کوم پول جوړ شوی وي.

دلته د محصول یو دولتي ودانۍ شته، چې خامه ده او دلته د کندهار څخه د تلونکو او راتلونکو مالونو کتنه کېږي، او د محصول شیانو څخه گمرک اخیستل کېږي، موږ سره د ډالیو څو قالینې وې، په دې د کابل څخه یو دولتي مهر لگیدلی و، چې په یو تار تړل شوی و، شاید دا د کابل د گمرک نښه وه، یا کېدای شي په هغه سامان لگول کېږي، چې د محصول څخه معاف وي.

د قانون سره سم زموږ موتر هم دلته ودرېدل، د گمرک مسئولینو سرسري کتنه وکړه او بیایې د مخکې تگ اجازه راکړه.

## د سند او بلوچستان دښته:

ځومره چې مخکې تلو، لاره لا پسې خرابېده، بلکې داسې ویلای شو چې له لویه سره لاره نه وه، یوه شگلنه دښته وه، په کومه کې چې هر موټر خپله لاره لټوله، د موټرو د تگ راتگ له امله هر ځای کندې پاتې کېدې، او بیا به د هوا څپو په لږ وخت کې بېرته له شگو ډکولې، د موټر نیم ټایرونه په ریگ کې خښېدل، کله به

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د يو موټر يا لارۍ د ټګ له امله يوه ليکه خرابېده، نو بل موټر به ځان لپاره بله لاره جوړوله، تر څو له کندو څخه په بله لاره لاړ شي، په دې ډول هره ورځ د لسګونو موټرو د ټګ راټګ له امله ننبې پاتې او ويرانېدې، چېرته به چې خاوره يو څه کلکه هم وه؛ نو د درندو موټرو له امله به هغه هم کنده کېده، خو له دې ټولو سره سره موږ د ريګ د دې خدنګ څخه لسګونه تېرېدونکي موټر وليدل چې تېرېدل او ټګ راټګ يې کاوه.

ليدونکو تر ټولو زيات خطرناک حالت دا ليدو چې د موټر يو لوري ته ټايرونه خو په ريګ کې خښ شوي دي، خو دويم لوري ته ټايرونه يې د ځمکې دپاسه وو، په دې ډول به موټر يو لور ته دومره کوږ ښکارېدو چې وېره راسره وه موټر چپه نه شي، د دې دويم لاسم موټرو په حالت مو دومره افسوس وکړ چې موږ ته ځای ځای بې فايدې ښکارېدل، او چلونکي به يې په دې بې نومه سارا کې د څو ساعتونو لپاره په جوړولو بوخت وو.

په دې لاره غرونه ډېر کم دی، بلکې داسې ښکاري چې هېڅ غر نه شته، که څه هم لاره خرابه او ريګزاره ده، سخته ده، خو د خيبر د درې په څېر وېرونکې او خطرناکه نه ده.

دا ريګزاره لاره د افغانستان او هندوستان بلکې په ټوله منځنۍ اسيا او هندوستان کې تر ټولو لرغونې او تاريخي لاره ده، څومره چې تاريخ موجود دی، هومره په دې لاره سوداګريز کاروانونه ټګ او راټګ کوي او په همدې سوداګريو اباده ده، د هندوستان ډېر فاتحين له همدې لارې هندوستان ته داخل شوي دي، تيمور په همدې لاره هندوستان ته راغلی و، همايون هم له همدې لارې له هندوستانه ووت او ايران ته داخل شو، عجيبه نه ده چې محمد بن قاسم الثقفي هم له همدې لارې سند ته راغلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ریګزاره سارا د کندهار له حدودو څخه وروسته پیل کېږي او بیا د بلوچستان او سند له سیمو څخه تېرېږي او د هند د بحر تر څنډو پورې رسېږي، د دې سارا او هندوستان تر منځ یوه غره ییزه لړۍ له لرې ښکاري چې د سارا سره په اوږدو کې غزېدلې ده، او په همدې کې د بولان مشهوره دره پرته ده، له کومې څخه چې هماغه تورزن فاتحین د سند درې ته کوزېدل او بیا هندوستان ته داخلېدل، احمد شاه ابدالي هم څو ځلې له همدې درې تېر شوی او هندوستان ته راغلی دی.

## نوې کلا (قلعه جدید)

له کندهاره اته بجې روان شوو، او شااو خوا له دولس بجو وروسته نوې کلا ته ورسېدو، دا د افغانستان وروستۍ پوله ده، دلته مو یوه زړه کلا ولېده، چې اوس تر ډېره بریده ورانه شوې، دلته یوه نوې کلا هم شته چې افغاني سرحدي پوسته او ګمرک پکې دي، د لویې لارې د پالنې او ساتنې دفترونه هم پکې شته، د افغانستان د عام رواج په څېر دا کلا هم له خامې خټې جوړه وه، بامونه یې هم د خټو او خام دي، ډېرې کوچني بامونه یې د ګمبدې په څېر وو، د کلا په څنډو کې د سرتېرو مېشت ځایونه موجود وو.

هندوستان ته د تګ راتګ پر مهال ډېرې موټر او مسافر دلته راځي، میوې او خوراکونه او د مېوو دوکانونه هم موجود وو، یو پخلنځای هم و چې کلیوال هوټل یې بللای شو.

څنګه چې زموږ موټر ودرېدل، نو سرتیري په یو کتار ودرېدل او د میلمنو د هرکلي فرض یې اداء کړل، مامور صیب چې د دې ځای افسر و، له زینې راکوز شو، لاندې راغی او د میلمنو ښه راغلاست یې ووایه، دا ځوان، منظم او انګریزي لباس یې اغوستی و، په سر یې عسکري خولۍ وه، همدا راز په ښي لاس کې یې د شاه مقصود ډېرې د سترو ژیړو دانو تسبیح هم وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تسبیح رواج:

په افغانستان کې د دا ډول تسبیح په لاس کې درلودل یو ډول رواج (فیشن) دی، دا عموماً د سترو سترو دري دېرش دانو تسبیح وي، چې منصبداران او امیران یې په لاس کې له ځانه لري، کله یې دانې اړوي او کله ورسره لوبېږي.

## په نوې کلا کې استوګنه:

مامور صاحب موږ د کلا پورته برخې ته بوتلو، په بام یې یوه څپره او څو خونې وې، یوه یې د لیدنو یا خوراک کوټه وه، په بله کې د مامور صاحب دفتر و.

له موږ سره له کابله د خوراک سامان، اشپز او نوکران راغلي وو، هر چرته چې به په تم کېدو، اشپز به خوراک پخولو او نوکرانو به په منظم ډول میز جوړولو، بیا مو خوراک خوړو، دلته هم هغوی ژر ژر د خوراک سامان برابر کړ، او په همدې خونو کې په یو مېز خوراک کېښودل شو، د ماسپښین وخت نږدې و، د ماسپښین لمونځ مو اداء کړ، او په دې خوښ شوو چې د کلا د دیوال لاندې یوه چوتره وه چې د لمانځه لپاره ځانګړې شوې وه، سرتیري په خپل لباس کې راتلل او د ماسپښین لمونځ یې اداء کاوه، له موږ سره راغلیو سرتېرو هم همداسې لمونځ اداء کړ، او په دې مو شکر اداء کړ چې دا انګریزي یونیفارم تنګ لباس زموږ د هندوستاني سرتېرو په څېر دا افغان سرتیري د لمانځه د پرېښودلو عذر ته نه دې پرېښي.

دا د حیرانتیا خبره وه چې پنجاب او سرحد د کلیو په څېر دلته هم د خونې په پورته برخه کې بیت الخلاء او د استنجاء د ځای لپاره کارول کېده.

دلته زموږ د تګ راتګ د پاړو یو ځل بیا تصدیق وشو، او داسې پرې ولیکل شول "تحت نمبر ۱۲۵ ۱۰/۸/۱۲ موقع خروج سرحد ملاحظه شد"، او بیا ټاپه شو.

تر هغه وخته چې دا دفتري کارونه بشپړېدل، موږ ډوډۍ خوړلې وه، او د هندوستان د پولې پر لور مخکې تګ ته چمتو وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مخه ښې حالت:

اوس موږ د افغانستان په وروستۍ پوله کې وو، او د خپلو کوربنو څخه د تل لپاره جلا کېدو، د یو اسلامي حکومت مناظر مو په مړو سترګو نه و لیدلي، چې د پسرلي دا موسم پای ته ورسېد، د کلا ټولو افسرانو او کارمندانو له موږ سره د مخه ښې لاس راکړ، زموږ د سفر ملګری سرورخان ګویا چې په دې ټولو ورځو کې زموږ ملګری و، موږ ته یې د افسوس څخه په ډکو سترګو کتل، او موږ له هغه روان وو:

روی گل سیر نه دیدیم و بهار اخر شد

ګویا تر اوسه د پنجرې د بلبل په څېر له افغانستانه بهر نه دی تللی، او بهرنۍ نړۍ یې یواځې د کتابونو له سترګو لېدلې ده، دې سرحد ته په رسېدلو سره یې د حال ژبې دا ویل چې:

اگر یک سر موی برتر پرم　　　　فروغ تجلی بسوزد پرم

تر ټولو زیات اغېزناک حالت له هغو افغان سرتېرو څخه رخصېدل و چې له موږ سره ملګري وو، دوی د موټر مخې ته ولاړ و، د تګ پر مهال هغوی د پوځي نظم سره سم د رخصتۍ سلام وکړ، خو زه چې نه نظامي وم او نه ملکي وم، له پوځي نظام څخه بې پروا له یو یو سرتیري سره مې په غېږ او لاس مخه ښه وکړه، روان شوم، او یواځې همدومره مې ورته وویل چې "تاسې د افغانستان کلا یاست".

د افغانستان دا چغېدنکې بللې اوس غلې وې، د مخه ښې څخه وروسته مو د لیک استولو په ژمنې سره دا څو ورځنی ملاقات پای ته ورسېدو، موټر مخکې روان شول، او له څو دقیقو ورسته مو د افغانستان سرحد شاته پرېښود او د انګریز په سیمه کې داخل شولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چمن:

د هندوستان د لومړۍ سرحدي ابادۍ نوم چمن دی، که وکتل شي هلته يوازې ريګ او وچ غرونه دي، خو هڅه شوې چې د دې ځای معنوي خشکي د لفظي لمدو په مټ لېرې شي، يو وخت چمن هم د افغانستان يوه سيمه وه، خو د باغوان او ښکاري تر منځ د کشمکش له امله دا سيمه له لاسه ووته.

څنګه چې د افغانستان سيمه پای ته ورسېده، نو هغه توره تخته مو ليده چې د هندوستان سرحد اعلان پرې شوی و، او د لارې د کاغذونو له شتون پرته په دې لاره د مخکې تګ څخه خلک منع شوي وو، له سرحد څخه واوښتو، د چمن سيمه مخې ته راغله، دلته د انګريزي کارخانو ستنې او پوستې او لوړې ودانۍ وليدل شوې، دا په اصل کې ټول پوځي مرکزونه دي، هر ځای کې د پوځي ابادۍ ننبې ښکاري، پوځي عمارتونه دي، چېرته د اسونو د ځغل ميدانونه دي، چېرته د لوبو او ورزش سيمې دي.

څنګه چې ابادۍ ته ورسېدو؛ نو کېدای شي چې افغان د سوداګرۍ مامور له خوا زموږ د راتګ خبر ورکړل شوی وي، يا سهار سيد راس مسعود له خوا خلکو ته په دې وخت کې زموږ د رسېدو خبر ورکړل شوی وي، د ښار په دروازه کې مسلمانانو زموږ ښه راغلاست وايه، يو رستورانت ته راغلو هلته مو واړول، غوښتنه وشوه چې سفر وځنډوو، شپه دلته وکړو، دلته مسلمانو ټولنو کې څه تقريرونه وکړو، خو له يوې خوا د دې اوږد سفر له امله ستړي وو، او بل دا چې د هندوستان سرحد ته په رسېدو سره مو خپله هېوادنۍ مينه په لمبو وه، ښښنه مو وغوښته، خو خلکو مسلسل ټينګار کاوه، او زموږ پاتې کېدو ته يې ډول ډول لارې چارې لټولې.

دلته په رسېدو سره لومړی کار بايد دا وشي چې په پاسپورټ د پوليسو د مشر لاسليک وشي، له دې پرته مخکې تګ ناممکن دی، پاسپورټ مو لاسليک ته واستاوه، خو بېرته راتګ کې يې ځنډ وشو، زموږ انديښنه هم زياتېده، او شک

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو پيدا شو چې کېدای شي زموږ د پاتې کېدو لپاره ملګرو دا لاره کتلې وي، تر څو په کوم ډول نن تګ وځنډېږي، موږ پرېکړه وکړه چې باید خپله د پولیسو افسر ته ولاړ شو، کله چې د دفتر دروازې ته ورسېدو، هغه بهر راووت، او لاسلیک شوي پاسپورټونه یې راکړل.

په رستورانت (چایخانه) کې د ډول ډول افکارو مسلمانان راټول شوي وو، هغوی د سیاست د بېلابېلو لارو سره بلد وو، له ما او ډاکټر اقبال څخه یې ډول ډول پوښتنې کولې، خو ټولو په سرونو کې د افغانستان د پرمختګ او خېر غوښتنې جذبات موجود وو، د ډاکټر اقبال د ښوونځي د وخت یو ټولګیوال مو ولید چې هغه هندو او دلته ډاکټر و، له ډاکټر سره یې پېژندګلو وکړه، د خبرو پر مهال یې افغانستان په اړه له خولې څخه داسې یوه خرابه خبره ووته چې مسلمانان ورباندې سخت خفه شول، خو ثرګنده شوه چې هندو ورونه له دې امله د افغانستان له اوسني حکومت څخه کرکه کوي چې هغوی متعصب مسلمانان بولي، او له امیر امان الله خان سره یې له دې امله همدردي ده، چې هغه له اسلام څخه باغي بولي، حال دا چې د هغوی دا دواړه نظریات غلط دي.

دلته د افغانستان د حکومت د سوداګرۍ یو مامور اوسېږي، په ډیلي کې د افغانستان د کونسلګیرۍ کاتب چې له موږ سره یو ځای و، باید له دې مامور څخه زموږ د سفر لپاره لګښت اخیستی وای، کله مو چې مامور صاحب ته خبر ورکړ، نو هغه هم پوره ځنډ وکړ، د بیابیا خلکو له لیږلو وروسته په پای کې په داسې حال کې راغلو چې هغه خپله مخکې روان و، وروسې یې پوره سینګار شوي زامن وو، له پېژندګلو وروسته مو د زیات وخت لپاره له کاتب صاحب سره وخت تېر کړ.

له دې ټول سردردي وروسته له چمن څخه مخکې روان شوو، سرک دومره ښه وو، چې خامخا یې د انګریز حکومت په ستاینه مجبور کړو، زموږ اسلامي او ختیځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلطنتونه بې شکه چې د اصلاحاتو لپاره لېوال دي، خو اوس وخت د اصلاح معنا يوازې روپۍ دي، خو تر هغه وخته چې د دوی اقتصادي حالت ښه شوی نه وي، دوی اصلاحات نه شي راوستلای، هر مسافر چې د افغانستان له سرکونو څخه د هندوستان سرکونو ته راځي، نو روښانه ده چې له کوم دليل او لامل پرته به د مشرقي سلطنتونو وروسته پاتې والی او د انګريزي حکومت برتري خيال په ذهن پيدا کوي، له همدې امله زموږ د مشرقي سلطنتونو فرض دی چې د دې ظاهري نيمګړتياوو لور ته پورته پاملرنه وکړي.

که پرتله وشي نو د هندوستان سرکونه هسې هم ښه دي، او له بلې خوا انګريزانو د پوځي موخو لپاره که د چمن ښار نه وي؛ نو د چمن سرکونه يې بې شکه چې چمن ګرځولي دي، سرکونه دومره پاک او اوار ښکاري چې د موټر ټايرونه خپله پرې روان وو.

له چمن څخه اورګاډی پيل کېږي، خو موږ د يوې ورځې د سپما په موخه له چمن څخه تر کويټې پورې په اورګاډي کې د سفر پر ځای، په موټرو کې سفر کول غوره وبلل، له چمن څخه اورګاډی يوازې يو وخت او هغه هم سهار ځي، که په اورګاډي کې تلو؛ نو اړينه وه چې شپه دلته تېره کړو، بيا به سهار تلو، له بلې خوا له کويټې څخه ډاک موټر د ورځې په يوولس بجې ځي، نو موږ به تر ماښامه پورې کويټې ته رسېدو، بله شپه مو هلته تېروله، يوولس بجې به له هغه ځايه روانېدو، له کندهاره مو دا پرېکړه کړې وه چې له چمن څخه تر کويټې پورې په همدې موټرو کې ولاړ شو، او له کويټې څخه به بيا په اورګاډي کې ځو.

زما په ګومان د ماښام څلور بجې له چمن څخه روان شوو، غالباً د چمن او کويټې تر منځ شپېته اويا ميله واټن دی، اورګاډی دا سفر په پنځه ساعتونو کې وهي، سهار اته بجې په روانېدو سره د ماسپښين يوې بجې کويټې ته رسېږي، په موټر کې سفر هم له څلورو ساعتونو زيات وخت واخيست، چې لامل يې په لوړو ژورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنګ و، لارې مارپېچ وې، له چمن څخه لږ واټن په سفر سره یو پول مخې ته راغی، په دې پول دراندە ځنځیرونه ځوړوند و، چې د هغې له لیرې کولو پرته بل لور ته اوښتل او له هغې خوا دلته راتګ ناممکن دی، هلته مامور پیره دار د چمن د پولیسو د افسر د تصدیق په لیدلو سره دا ځنځیر لیرې کړ او موټر مخ په وړاندې روان شول.

## کویټه او ملتان

### غره ییز سرک:

ماښام و، یو لوی پېچومی پاتې و، او دا هماغه اوږده غره ییزه لړۍ ده چې افغانستان له هندوستان څخه جلا کوي، د چمن او کویټې په منځ کې دا د سد سکندر په څېر دی، چې هاخوا ورڅخه کویټه مخې ته راځي، اورګاډی د همدې غر لاندې د یو تونل څخه تېرېږي، خو موټر او پلي مسافر دا سرک په سور سره پرې کوي او له دې اوښتلو څخه وروسته بلې غاړې ته اوړي، په دې غر د ختلو لپاره انګریز حکومت دا غر غوڅ کړی او ځای ځای یې لوړې ژورې اوارې کړي دي، د موټرو او پلیو مسافرو لپاره یې ډېر ښه سرک جوړ کړی دی، ځای ځای کږلیچونه راځي، په څنډو کې یې غارونه او خندقونه وو، د موټر چلونکي لږه تېروتنه د مرګ پیغام و، په ستونزمنو لارو په انګریزي کې لارښونې هم لیکل شوې وې.

موټر کرار کرار پورته شو، سرک ښه و، او موټر په تېزۍ سره لاره پرې کوله، له ښه بخته له مقابل لوري کوم بل موټر مخې ته رانه غی، له همدې امله موټر چلونکي له دې وېرې خپل موټر تېز روان کړی و چې د شپې له تیارې خپرېدو مخکې له دې ستونزمنو خطرناکو لارو ووځي، خو په دې ببره کې بیا هم ماښام شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روحانیاتو ذکر:

عجیبه تصادف و چې لاره خو ډېره خطرناکه وه، خو ډاکټر اقبال د روحانیاتو په خپله لیدلو پېښو او تجربو او د یو ریښتیني پیر د لټون په اړه خبرې پیل کړې، ډېرې په زړه پورې خبرې مو وکړې، د دې زمانې د مختلفو شیخانو او بزرګانو په سلسلو مو بحث وکړ، او په دې لړ کې ډاکټر اقبال د خپل ژوند د پیل او د زده کړیالۍ د وخت یادونه وکړه، بیا یې د خپل پلار یادونه وکړه، چې هغه خپله یو صوفي و، او د دینداره علماوو سره یې ملګرتیا وه، دلته زه پوه شوم چې زموږ د دې اسلامي شاعر په حس کې چې کومو تارونو حرکت پیدا کړی دی، هغه خپله د ده ښاغلی او برکتي پلار و.

د خبرو پر مهال اقبال د خپلې زده کړیالۍ د وخت یوې کیسې په لړ کې د خپل پلار یوه داسې خبره راته وکړه چې زما په زړه یې ډېر اغېز وکړ، هغه وویل چې زموږ په خپل ځای سیالکوټ کې یې د سهار له لمانځه وروسته د قرآن کریم تلاوت کاوه، یو سهار له لمانځه وروسته زه په تلاوت مشغول وم، چې پلار مې راغی او ویې ویل چې څه کوې؟ ما ورته وویل چې ته پوهېږې زه دا وخت تلاوت کوم، هغه وویل تر هغه وخته چې ته پوه نه شې چې قرآن ستا په زړه هم دومره پروت دی، څومره چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په زړه مبارک نازل شوی و، نو د تلاوت هېڅ مزه نه وي، ډاکټر وپوښتل چې دا څنګه کېږي؟ هغه وویل کله چې لسانس دوره بشپړه کړې بیا درته وایم، کله چې هغه لسانس بشپړ کړ، نو د دې زیري په بدل کې د هغه ورځې د بحث پر بسنټ ما د هغه مقام تر لاسه کولو لاره وپوښتله، نو پلار یې هغه ته ځینې دعاوې او طریقې وروښودې، او له خپل زلمي زوی څخه یې ژمنه واخیسته چې په خپله ژبه او قلم به د محمد صلی الله علیه مسلو د امت خدمت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داکتر اقبال شاعري د هغه د والد په ژوند کې خپل اوج ته رسېدلې وه، او د هغه په نغمو يوه نړۍ سرشاره او مسته وه، په مسلمانانو کې يې پاڅون کونکی اغېز پيدا کړی و، او پلار يې د خپل زوی په دې پرمختګ خوشاله له نړۍ وکوچېد.

اوس غره ييزه لاره پای ته رسېدلې وه، اواره سيمه رابنکاره شوه، مابنام نږدې د غر په بېخ کې ميدان مخې ته راغی، د ابادۍ ننبې مو ولېدې، سرک مستقيم و، مخکې يو کوچنی بنارګوټی دی، په کوچني بازار کې يې سرک غزېدلی دی، دلته په رسېدو سره موټر ودرېد، د پوليسو يو سرتيری مخکې راغی يو راجستر يې راکړ، په کوم چې د بيرسټر غلام رسول خان (د ډاکټر اقبال ملګری) لاسليک وکړ، له دې وروسته مخکې روان شوو، پوه شوو چې له دې ځايه د هر تېرېدونکي مسافر نوم ثبت کېږي.

د مابنام او ماسختن تر منځ چې تياره بنه په خپرېدو وه، له لېرې مو کتار ځراغونو رڼا ولېده، دا کويټه وه، په تياره کې د رڼا دا منظر په اسمان کې د ځلېدونو ستورو په څېر و، بنار په نږدې کېدو و، په ډيلي کې د افغان سفارت استازي زموږ لپاره په ډاک بنګله کې درې خونې نيولې وې، هلته مو واړول.

ټول سامان مو په موټر کې و، هغه شاته پاتې و،، کويټه کې يخني وه، د ډاکټر صاحب په خونه کې بخارۍ لګېدلې وه، موږ يې شا او خوا ناست و، د لارۍ د راتګ انتظار مو کاوه، د شپې تياره او يخني مخ په زياتېدو وو، د لارۍ انتظار زموږ د روح او روان لپاره په سختېدو و، وېره دا وه چې د شپې په تياره کې چېرته لارۍ له کومې پېبنې سره نه وي مخ شوې، ځکه ډېر اندېبنمن و، وخت تېرېدو او زموږ اندېبننه هم زياتېده، بالاخره د شپې لس بجې لارۍ راورسېده، چې لاره يې په خيرت سره وهلې وه، کوم بکسونه او بسترې مو چې په کابل کې په موټر کې ايبنې وې، په لومړي ځل له موټر بنکته کېدل، د لارې د خرابوالي، لوړو ژورو له امله د دې بکسونو حالت خراب و، د څرمنې بکسونو څنډې خو له لارۍ سره سولېدلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې شوې وې، بسترې او لباسونه مو درانده شوي وو، خو دا هم شکر چې خپل منزل ته ورسېدل.

ډوډۍ مو د ډاک بنګلې په خوړنځي کې وخوړه، انګريزي خوراک و، خو ډېره ساده او ښه نه وه پخه شوې، په ناچاره مو په ډوډۍ او کوچو ګوزاره وکړه.

موږ ټول د لاريو په رسېدو خوشاله وو، د بخارۍ څنډې ته ناست وم، د لارۍ د رسېدو په خوشالۍ کې ناڅاپي په يخ کې دباندې ووتم، له همدې امله ټوله شپه نرۍ تبې نيولی او لړزېدم، سهار پاڅېدم طبيعيت مې ښه و، لمونځ مې وکړ، لږ وروسته مو چاى وڅښو، يواځې د ښار ليدلو لپاره پلی ووتم، تر سټېشن پورې ولاړم.

کويټه:

دا دبرتانوي بلوچستان مرکز دی، د سمندر له سطحې څخه پنځه زره کزه لوړ دی، ويل کېږي چې د دې ځاى پخوانی نوم کوهټ کوټ او يو کوچنی کلی و، په ۱۸۷۶ کال کې سر رابرټ سينډيمين[۴۴] چې کله دا سيمه ونيوله او دلته يې يوه کلا جوړه کړه چې نوم يې د سينډيمين کلا دی او د هغه نوم ته منسوبه ده، نو بيا يې نوم د کويټې په نوم عام شو، دا د هندوستان تر ټولو ستر سويلي پوځي مرکز دی، له دې ځايه د ايران تر سرحد دوزاپ پورې د اورګاډي پټلۍ غزېدلې ده، او بل سرک تر کندهار پورې رسېدلی دی، له کومه ځايه چې موږ راغلي وو، د اورګاډي درېيمه پټلۍ تر کراچۍ پورې رسېږي، چې له دې ځايه پنځه سوه ميله ليرې ده، څلورمه ليکه له ښکارپورې څخه تېرېږي بهاولپور ته رسېږي او بيا د ملتان له لارې لاهور ته رسېږي.

---

[۴۴]- Sir Robert Groves Sandeman په هندوستان کې د برتانوي پوځ يو افسر و چې په بلوچستان کې د خپلو فعاليتونو له امله شهرت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د منځنۍ اسيا، ايران، افغانستان او هندوستان د سوداګرۍ لپاره مرکزي منډيي ده، تازه مېوې پکې زياتې موندل کېږي، خو دلته د وچوو ميوو نرخونه د هندوستان له نورو ښارونو څخه ښکته نه دي، زه يې يوازې د بادامو تجربه لرم، ملګرو ويل چې کابل کې يې رانيول ښه نه دي، په همدې نرخ په کويټه کې هم پيدا کېږي، خو دا نظر غلط و، په کابل کې يو سير بادام په دولسو کابليو انو و، په پېښور کې په هندوستاني دولسو انو پيداکېدل، خو په کويټه کې يو سير بادام په يوه نيمه روپۍ تر لاسه شول، انګور او انار بيا ارزانه وو.

ودانۍ يې بنګلو ته ورته دي، بامونه يې د لرګي او کړکو دي، سرکونه يې پراخه او پاک دي، مسلمانان پکې زيات معلومېږي.

د شپې له مخې مو کويټه سرسري ولېدله، خو سهار وختي سرک ته ووتم، د اورګاډي تم ځای ته ورسېدم، د سرکونو په دواړو خواوو بنګلې وې، د اورګاډي مرکز ډېر ستر او ډېر عاليشان دی، د پوځي مرکز له امله هر ځای پوځيان لېدل کېدل، هلته کارکوونکو مزدورانو پښتو، بلوچي، سندي، فارسي، اردو ټولې ژبې ويلې.

کله چې له تم ځايه بېرته راتلم له شا څخه يو تن چې خولۍ، پګړۍ، کوټ او کالي يې پر تن و، له شا يې د مولانا مولانا غږ کاوه او زما د ورېدو کوښښ يې کاوه، زه ودرېدم، هغه په منډه نږدې راغی، اول يې د دې غږونو معافي وغوښته، بيا يې د پاسپورټ کتل وغوښتل، د سفر د وخت پوښتنه يې وکړه، د سفر لوري پوښتنه وکړه، او بيا يې وويل چې زه په استخباراتي پوليسو کې افسر يم، بايد خپله دنده تر سره کړم، راته يې وويل چې سهار سر راس مسعود له دې امله خفه شوی دی، ما وويل هره پوښتنه چې لرې ويې کړه، ما ټول معلومات ورکړل، او د هغه پوښتنې مې ځواب کړې، هغه مننه وکړه او لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملتان په لاره کې راځي، زما يو ملګری مولوي سيد عبدالباري صاحب له يوې مودې په ملتان کې ژوند کوي، د اورګاډي په دفتر کې دنده ترسره کوي، له کلونو مې ارزو وه چې کله ملتان ته ولاړ شم، دا وخت هم راغی، هغه ته مې ليک واستاوه چې سبا غرمه به زه راورسېږم.

نږدې لس بجې موږ له ډاک بنګله څخه د اورګاډي تم ځای ته ورغلو، پلټونکی هم هلته موجود و، هغه د شيانو په تول او ټکټ اخيستلو کې مرسته وکړه، يوولس بجې موټر راغی او موږ په موټر کې سپاره او روان شوو، لاره ډېره ښه وه، ځای ځای غرونه وو، يو څه مزل وروسته اوار شګلين ډاګ و، له ريګ او ګرد سره مخ شوو، د پټنا[۴۵] له لارې له پېښور څخه تر کلکتې چې کومه لاره تللې، څومره چې هغه لاره اباده ده، هومره دا لاره ويرانه وه، ساعتونه ساعتونه وورسته هم ابادي نه وه، طبيعت دا سيمه له ابادۍ او سرسبزۍ محرومه کړې وه، له دې وروسته د سند سارا پيل شوه، د اورګاډي مرکزونو کې يوازې ابادي وه، خو په دې خوشاله وم چې په خپل عمر کې په لومړي ځل له هغې لارې تېرېږم چې د اسلام فاتحانو کاروانونه په دې لاره له پېړيو څخه تللي راغلي دي.

بهاولپور:

اورګاډي شپه ورځ همداسې روان وو، جيکب اباد او شکار پور په دې لاره مشهور ځايونه دي، دويمه ورځ بهاولپور[۴۶] راورسېد، د بهاولپور نوابانو او په ځانګړي ډول ښاغلي مرحومې د بهاولپور د نواب نيا د تل لپاره د ندوة العلماء مالي مرسته کړې ده، له همدې امله مې دا سيمه په ډېر شوق سره وکتله، دا ځای راته خپل او له مينې ډک معلوم شو، د دې رياست حاکم د عباسي کورنۍ سره اړه

---

[۴۵]-پټنا يا پټنه د هندوستان د بهار ايالت تر ټولو ستر ښار دی.

[۴۶]-بهاولپور د اوسني پاکستان د پنجاب ايالت يو له لويو او مشهورو ښارونو څخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، د احمد شاه ابدالي د واکمنۍ پر مهال هغه د سند په دې سیمه کې خپل حکومت درلود، رنجیت سنګ[۴۷] په پنجاب د خپلې واکمنۍ پر مهال د دې سیمې د نیولو کوښښ وکړ، په ۱۸۱۶ کال کې یې له هغه څخه په زور اویا زره مالیه تر لاسه کړه، خو ډېر ژر له هغه څخه ازاد او له انګریزانو سره یو ځای شو، اوسمهال عباسیه جامعه د دې ایالت د علمي پرمختګ تر ټولو ستر دلیل دی، د سند تر ټولو مشهور ښار (اچ) په همدې ایالت کې دی، د ناصر الدین قباچه په زمانه کې په دې ځای کې فیروزي مدرسه واقع وه، چېرته چې د طبقات ناصري لیکوال قاضي منهاج السراج د ښوونکي په توګه مقرر شوی و.

## ملتان:

نږدې دولس بجې ملتان ته ورسېدو، سید عبدالباري، د ملتان د پوځي مرکز اجرائیه افسر کپتان محمد عظیم، د پوځي ګارنیزون مرستیال سید عبدالغني د ملتان رئیس سید میر حسن او نور د اورګاډي تم ځای کې موجود وو، نېغ په نېغه د سید عبدالباري استوګنځای ته ولاړو، دلته مو پرله پسې له مینه والو سره لیدنې کېدې، په دوی ټولو کې په زړه پوري شخص سید میر حسن د ملتان د پوځي مرکز رئیس و، عمر یې د شپېتو او اویا کلونو تر منځ دی، د سترګو دید یې کم شوی دی، بیا یې هم له کتابونو سره د کلونو مینه پر ځای ده،خپله اوس څه نه شي لوستلای خو نورو ته وایي چې ورته ولولي، د سر سید له افکارو ډېر اغېزمن دی، خو هیله ده چې اوس به له هغه غبرګون څخه اغېزمن شي چې د مرحوم سر سید د فطرت خوښۍ په اړه منځ ته راغلی دی.

---

[۴۷]-رنجیت سنګ (۱۷۸۰-۱۸۳۹) د اوسني پاکستان د پنجاب په ایالت کې راپورته شوی یو سیک واکمن و، چې خپله واکمني یې جوړه کړې وه، په پنجاب او پېښور کې یې افغانانو سره سختې جګړې راغلې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مو د جامع مسجد له خطیب او امام مولانا سید اشفاق علي چې د دیوبند فاضل دی سره ولیدل، خوښ شوو، دا روښان فکره او روښان ضمیره انسان دی، په ملتان کې د درې ورځو تم کېدو پر مهال له هغه سره ناستې ولاړې ډېرې په زړه پورې وې.

زموږ ځوان ملګری پروفیسر اکبر منیر چې له اوږدې مودې مو سره لیکونه تبادله کول، د ایران له سفر څخه یې موږ ته د نوي فارسي شاعرۍ ډالۍ راوړې وې، چې د "ماه نو" په نوم دیوان یې هم خپور شوی، د همدې دیوان د نظمونو په مټ د معارف لیدونکي هم له هغه سره اشنا وو، له نېکه مرغه نن سبا په ملتان کې دولتي کالج کې د فارسي پروفیسر و، لومړی مو ورسره په لاهور کې لیدنه شوې وه، دلته مو بیا ولیدل، منیر د نوې فارسۍ او اردو نازک خیاله شاعر دی، ډېر د متواضع او خاکسارۍ اخلاقو لرونکی دی.

ملتان زموږ د اسلامي تاریخ ډېر لرغونی او ډېر مشهور ښار دی، دا هماغه ښار دی چې کله مسلمانانو د محمد بن قاسم په مشرۍ په لومړۍ هجري پېړۍ کې فتح کړ، نو له هماغه وخته د سکانو تر زمانې پورې دا د تل لپاره د اسلامي حکومت یو مهم مرکز و، د غزنویانو له فتوحاتو پېړۍ مخکې دلته مسلمانان اباد وو، او اسلامي حکومت قایم و، د شپږمې پېړۍ په وروستیو کې دلته د مصر د فاطمیه تر سیوري لاندې عربي حکومت په اسماعیلیت بدل شوی و، او اسماعلي واکمنو دلته حکومت کاوه، د دوی نوم د هندوستان په تاریخونو کې د ملاحده او باطنیه په توګه یادېږي، محمود غزنوي دا ښار د باطنیانو له لاسو واخیست، او خپل سلطنت سره یې وصل کړ، د غزنویانو له کمزورۍ وروسته بیا دا ښار اسماعیلیانو ونیو، او بالاخره شهاب الدین غوري له هغوی بېرته واخیست.

د غزنویانو له راتګ مخکې پورې دا ښار د عربانو د تهذیب او تمدن مرکز و، د غزنویانو له فتحې وروسته یې اړیکې د مصر پر ځای له غزني سره جوړې شوې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا هم په هر دور کې د اسلامي علومو او فنونو ستر مرکز و، علامه بیروني چې په ۴۴۰ کې وفات شوی، هم دلته ژوند کړی دی، تر شا یې خلک پرېښودل، د تصوف دویمه کورنۍ چې هندوستان کې تر ټولو زیاته خپره ده، هغه سهروردي وه، چې بنسټګر یې حضرت شیخ ابو النجیب شهاب الدین سهروردي و، څوک چې په ۵۶۳ کې وفات شوی دی، د سهروردي کورنۍ د فیوضو او برکتونو سرچینه همدا ښار دی، شیخ الاسلام بهاو الدین زکریا ملتاني (زېږد ۵۷۸ وفات ۶۶۶) په ترکستان، خراسان، عراق او حرمینو کې دیني علم کړی و، ابو حفص عمر شهاب الدین سهروردي چې په ۶۳۳ کې وفات شوی، د ابو النجیب شهاب الدین سهروردي خوریی او مرید و، له هغه یې د تصوف پانګه تر لاسه کړه، او هغه یې له عراق څخه ملتان ته راولېږدوله، مشهور صوفي شاعر عراقي هم ل ههمدې چینې خړوبه شوی و.

د غزنویانو په اړه خو معلومات نه شته؛ خو د غوریانو په واکمنۍ کې ناصر الدین قباچه چې د سلطان التمش همعصره و، او د سند واکمن و، دلته لومړۍ علمي درسګاه جوړه کړې وه، چېرته چې مولانا قطب الدین کاشاني له ماوراء النهر څخه راغی او دلته یې د درس او تدریس ټغر خپور کړ، دا د شیخ الاسلام بهاء الدین د زمانې پیل و، هغه هم دلته تګ راتګ لاره، شیخ فرید الدین ګنج شکر (زېږد ۵۸۴ وفات ۶۷۹) هم له مولانا تاج الدین ترمذي څخه همدلته د فقهې تعلیم وکړ.

له خراسان او ایران څخه چې کوم علماء او د کمال خاوندان له دې لارې هندوستان ته راغلي، د هغوی لومړی پړاو همدا د ملتان ښار و، ځکه دلته د علماوو او فاضلانو یوه ستره ډله اوسېده.

د علاء الدین خلجي په زمانه کې چې کوم علماء د وخت مشران و، په هغوی کې ځلور مشران د ملتان څخه و چې مولانا محب ملتاني، مولانا حمید الدین ملتاني، مولانا شهاب الدین ملتاني او مولانا علیم الدین نبیره شیخ السالم ملتاني، دا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيلي ته راتلو او د عقلي او نقلي علومو درس به يې ورکاوه، په هندوستان کې د معقولاتو په درس کې داخلېدل هم د ملتان په برکت دی، د ملتان له ويجاړېدو وروسته د سلطان سکندر لودي په زمانه کې شيخ عبدالله او شيخ عزيز الله له ملتان څخه راغلل، لومړی يې په ډيلي کې او دويم يې په سنبل (مراد اباد) کې په درس بوخت شول.

که ملتان ته وکتل شي نو له کندهار سره ډېر ورته والی لري، هماغه خامې ودانۍ، ريګستانونه، هماغه د باران کمښت، خلک وايي که ملتان کې د هندوستان په څېر يو باران هم وشي، نو ډېرې ودانۍ به ونړېږي، د ملتان په اړه يو شعر ډېر مشهور دی چې:

چهار چيز است تحفه ملتان گرد و گرما، گدا و گورستان

چېرته چې رېګ وي او باران کم وي، هلته نو ګرمي زياته وي، او ګرد او غبار خو له ريګ پيدا کېږي، د سوالګرو زور له مخکې څخه و، خو اوس که نه هم وي دلته داسې درويشان شته چې د بزرګانو په نيالۍ ناست دي، خو ژوند يې د اميرانو په څېر دی، غالباً چې دا چاره د شيخ الاسلام زکريا سهروردي څخه وروسته پيل شوې ده، ځکه چې د شيخ الاسلام لمسی حضرت رکن عالم د ډيلي د سلطانانو سره نږدې و، او د ابن بطوطه په وينا هغه به د ملتان د حاکم له تاييد پرته چاته ميلمستيا هم نه کوله، هدېرې هم پکې زياتې دي، د دې پخواني ښار هره لويشت د اسلامي عظمت يو مدفن دی.

چپه چپه په هی يا گوهر يکتا تهه خاک دفن هوگا نه کهين ايسا خزانه هرگز

د سترو علماوو او بزرګانو قبرونه او مزارونه دي، خو د هغوی قبرونه چې مالدار دي پاتې دي، نور يې ټول بې نښې پراته دي، له مدفن څخه مولد رایاد شو، ويل کېږي چې ملتان يو بل دا وياړ لري چې دا خاوره د درې سترو پاچايانو زېږدځای دی، سلطان محمود تغلق (ناصر الدين محمد شاه)، سلطان بهلول لودي او سلطان

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد شاه ابدالي، د دې درې پاچايانو د زيږېدو ځای هم خلک وايي چې ملتان دی، ويل کېږي چې سلطان محمود تغلق د لاهورۍ دروازې څخه د محکمې پر لور غزېدلې سرک په يوه محله کې چې د کوټله توله خان په نوم يادېږي زيږېدلی و، د سلطان بهلول لودي ولادت په حسين اګاهي کې شوی و، او د سلطان احمد شاه ابدالي زيږېدنه د کميشنر له کور سره نږدې د سرک په غاړه يو کور کې شوې وه، چې اوس يې نښې نه شته، خو شايد چې دا پېښې د تاريخ له مخې سمې نه وي.

د مازديګر له لمانځه وروسته له ملګرو سره د ملتان د ليدو وړ سيمو په چکر ووتو، په عربي تاريخونو کې د ملتان د يو مشهور مندر «د هندوانو عبادتځای» يادونه شوې ده، له کوم څخه چې د عرب فاتح محمدبن قاسم ثقفي لاس ته د سختې اړتيا پر مهال ډېر سره زر لاس ته ورغلي وو، هغه دا مندر مات نه کړ، او په خپل حالت يې پرېښود، ورسره نږدې يې يو مسجد جوړ کړ، له هغې وروسته چې دلته کوم عرب رياستونه جوړ شول، هغوی هم مندر ته لاس ورنه وړ، خو په عبادتګرو يې ماليه وضع کړه، چې ښه عايد يې درلود، کله به چې دوی کمزوري شول، او کوم هندو راجه به ورباندې بريد کول غوښتل، نو هغه به يې په دې وېرلو چې که زموږ خوا ته لږ هم ستر ګې پورته کړې، نو موږ به دا مندر ړنګ کړو، له دې ګواښ به هغه وېرېدو او په ملتان به يې بريد نه کاوه.

بيروني په کتاب الهند کې ليکلي، ورسته چې کله باطنيانو ملتان ونيو، حلم بن شيبان اسماعيلي د ثقفي مسجد بند کړ، مندر يې ړنګ کړ، هغه يې په جامع مسجد بدل کړ، وروسته چې کله سلطان محمود باطنيانو ته ماتې ورکړه، او ملتان يې ونيو، نو د مندر مسجد يې بېرته ړنګ کړ، او پخوانی مسجد يې بېرته پرانيست.

د بيروني د سترګو ليدلی حال دی چې دا مندر په لوړه جوړ شوی و، له خښتو جوړ و، خو په هغه زمانه کې يې ډېرې برخې اوارې شوې وې، د چکر لپاره وتلو پر مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا خبره زما یاده شوه، خلکو ویل چې دا مندر اوس هم شته او اوس یې نوم پرهلاد پوري دی.

**د پرهلاد پوري مندر:**

دا مندر له اوسني ښاره دباندې د پخوانۍ کلا په ځنګ کې شمال لور ته په يوه لوړه جوړ شوی، د شیخ الاسلام بهاء الدین زکریا پخوانۍ خانقا ورسره نښتې ده، اوسنۍ ودانۍ له خښتو جوړه ده، له دخولي دروازې وروسته یې پراخه انګړ دی، څلور خواوو ته يې څپرې دي، په دې کې د پرهلاد نرسنګ بهګت او لکشمي مهاراج تندیسونه (مجسمې) ايښي، مسلمانانو ته اجازه نه ورکوي چې مندر ته داخل شي، ځکه پوه نه شوم چې داخل يې کوم ډول جوړ شوی دی.

د دې مندر په اړه سیمه ییز روایت دا دی چې له نن څخه دېرش لکه کاله مخکې د هرنیه کشیپو په نوم یو راجه واکمني کوله، دې راجه د خدايۍ دعوا درلوده، ټولو اتباعو باید د راجه عبادت کړی وای، د سرغړونکي سزا مرګ و، د راجه یو زوی وزېږېد، د هغه نوم پرهلاد کېښودل شو، کله چې هغه ځوان شو، د خپل پلار له خدايۍ منکر شو، هغه ته ډول ډول سزاوې ورکړل شوې، خو هغه له خپلې خبرې وانه وښت، بالاخره تنګ شو، هرنیه کشیپو یوه وسپنه په اور سره کړه او بیا یې پرهلاد ته امر وکړ چې د وسپنې دې ستنې ته غاړه ورکړي، کله چې هغه وغوښتل له ستنې سره ونښلي، نو ناڅاپي دا ستنه له بېخه وچاودېده، یو کس ورڅخه راڅرګند شو، هغه راجه مړ کړ، د همدې پېښې په یادګار کې څه موده وورسته دا مندر اباد شو.

علامه بیروني ویلي چې دا مندر د لمر د خدای و، ځکه یې نوم "ادت" ایښودل شوی و، له لرګي جوړ شوی و، په دواړو سترګو کې یې دوه سره یاقوت ایښودل شوي وو، په بدن یې سور پوستکی خپور و، خو اوس دا شیان نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۸۴۸ کال د انګریزانو په جګړه کې دې مندر ته د پام وړ زیان ورسېد ، وروسته بېرته ترمیم شو، د مندر سمه پالنه کېږي، د مندر سمبالښت د نرسنګ مندر کمیټې له خوا کېږي.

## د حضرت بهاء الدین زکریا مزار او خانقاه:

دا خانقاه اوس د مزار په شکل کې ده، له مندر سره بیخي نښتې ده، د مندر په لوېدیځ کې موقعیت لري، زما په ګومان که دا پرهلاد مندر هماغه پخوانی د "ادت" دیوتا پخوانی مندر وي، نو دا به لرې نه وي چې دا خانقاه به لومړی هغه ځای وي چې مسجد پرې جوړ شوی و، په ملتان کې دا خانقا د خانقاه بهاء الحق په نوم شهرت لري، ویل کېږي چې دا خپله حضرت بهاء الدین زکریا جوړه کړې وه، دلته یې څلوېښت کاله د حدیثو درس ورکړی دی، خانقاه ډېره پراخه ده، دوه سترې لارې لري، شا اوخوا یې ودانۍ جوړې شوي دي.

له لومړۍ دروازې وروسته یو انګړ دی، له انګړ وروسته کوټې ته ورته برخه ده، له هغې وروسته اصلي مزار راځي، مزا د اوږدې خونې په شکل کې دی، دپاسه ګمبده لري، د مزار په داخل کې د حضرت شیخ الاسلام بهاء الدین زکریا ملتاني سهروردي پوخ قبر دی، د قبر د پاسه تور ځادر خپور دی، د دې مزار په هر لور په ترتیب سره د هغه د اولاد او لمسیانو قبرونه دي، باندې یې پالونکي او منجاوران ناست دي، له زایرینو څخه نذرونه تر لاسه کوي، زه د حضرت مزار ته ولاړم، مسنون دعاوې مې ولوستې، داخل کې یې تیاره وه، خو چې سترګې مې پټې کړې یونور راته وځلېد ، د سهروردي کورنۍ د سر تاج دلته ارام کړی دی، نه پوهېږم چې ولې خو زړه مې یو اغېز محسوس کړ، او له سترګو مې اوښکې روانې شوې.

هر کاله د شیخ الاسلام سهروردي عرس کېږي، باچایانو دې ځای لپاره ډېر څه وقف کړي وو، خو اوس ډېر کم کلي پاتې دي، د بهادر شیخ مرید حسین قریشي کورنۍ د دې مزار متولیان دي، او غالباً د همدوی په کورنۍ کې تولیت محدود

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، د شیخ الاسلام د مزار سره مخامخ د هغه د مشر زوی او ځای ناستي حضرت صدر الدین چې په ۷۷۶ کې وفات شوی، قبر دی، دا هماغه بزرګ دی چې د سلطان غیاث الدین بلبن په زمانه کې د هغه نومیالي زوی محمد سلطان خان شهید د ملتان حاکم و، چا چې د تاتاري حملې د سیلاب مخه نیولې، د کوم سیلاب په څپو کې چې د بغداد د خلافت کښتۍ ډوبه شوې وه، په همدې پېښه کې په شهادت رسېدلی، او د خان شهید لقب یې خپل کړی و، په دې نښته کې حضرت امیر خسرو دهلوي هم له دې شهزاده سره په ملتان کې وو.

## له ملتان څخه تر لکهنو

یادونه: د چمن او کویټې تر منځ چې کومه غره ییزه لړۍ پرته ده، په سور سره د دې غره ییزې لړۍ په اوږدو کې په سفر سره له چمن څخه کویټې ته لاره رسېږي، زموږ ملګري غلام رسول خان وویل چې د دې نوم خوجک دی، او له کومې درې څخه چې انګریزانو دا سرک ایستلی دی، هغې ته خوجک دره وایي، مخکې مې وویل چې دا لاره څومره له پیچ و خم څخه ډکه ده، کله چې خان صاحب د دې نوم خوجک وویل نو ما ورته وویل چې تر دې خو یې ګنجلک نوم ښه دی، لوړوالی یې تقریباً اوه زره فوټه او د درې اوږدوالی نږدې شل میله دی.

### رکن عالم:

په ملتان کې د حضرت شیخ الاسلام زکریا ملتاني په مزار کې مې خپل بیان نیمګړی پرېښی و، له هغه ځایه د مزار په دویمه دروازه ووتو، موټر په سرک ولاړ و، مخامخ لوېدیځ لور ته د شیخ الاسلام د لمسي حضرت رکن الدین رکن عالم (مړ ۷۳۷ هجري) د مزار ګمبده په نظر راغله، خو هلته مو تګ ته زړه ښه نه کړ.

د سلطان محمد تغلق په دربا کې حضرت رکن عالم د درناوي مقام دلود، ابن بطوطه د همدې بزرګ په زمانه کې هندوستان ته راغلی و، حضرت برهان الدین

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکندري چې ابن بطوطه[۴۸] د اسکندریه کې د استوګنې پر مهال د کومو درې مشهورو بزرګانو د لیدنې زیرې ورکړې و، په هغوی کې یو همدا و، ابن بطوطه د ښار د حاکم په اجازه د هغه په خانقا کې مېشت شوی و، چې له ښاره دباندې ده.

د حضرت رکن عالم دا روضه د سلطان محمد تغلق له خوا جوړه شوې، لیدونکې وايي چې ودانۍ يې ډېره ښکلې ده، په زړه پورې نقاشي پکې شوې، يو شمېر پالونکي او ساتونکي لري، او متولي يې شيخ مرید حسین دی.

## د شمس تبریز مزار:

د شمس تبریز په نوم د حضرت مولانا جلال الدین رومي د مرشد په توګه مشهور دی، چې د شمس تبریز دیوان هغه ته منصوب دی، په ملتان کې په همدې نوم یو مزار هم له شهرت څخه برخمن دی، د تاریخ پوهانو په وینا دا خو ثابته ده چې دا هغه شمس تبریز نه دی چې د مولانا رومي پیر و، نو دا بیا څوک دی؟ په ځواب کې داسې ویل کېږي چې دا د اسماعیلي مذهب یو داعي و، په یو کوچني انګړ او برنډه او کوټه کې د هغه مزار دی، په مزار ګومبده جوړه ده، په دیوالونو يې د چیني ډېرو کار شوی، کله چې زه ورغلم ځینې خلکو هلته قرآن کریم لوست، خو تګ مې زړه ونه غوښت او بېرته ژر راغلم.

د هغه په اړه سیمه کې ویل کېږي چې نوم يې شمس الدین و، ۱۱۴۶ میلادي (۵۳۰ هجري) کې د سبزدار په سیمه کې زېږېدلی و، د خپل پیر په لارښوونه ملتان ته راغلی و، داسې مشهوره ده چې د شیخ الاسلام بهاء الدین زکریا همعصره و، د

---

[۴۸]-ابو عبدالله محمد بن عبدالله بن محمد اللواتي الطنجي په ابن بطوطة مشهور و (۷۰۳-۷۷۹هـ) د المغرب د طنجة اوسېدونکی یو مسلمان سیاح و، چې خورا زیات سفرونه يې کړي، او خپل یونلیک يې د یو ډېل کتاب په شکل لیکلې چې د "تحفة النظار في غرائب الأمصار و عجائب الأسفار" په نوم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت په وینا د ملتان خلکو له هغه سره پرېکون کړی و، تر دې چې چا به هغه ته د پخلي لپاره اور هم نه ورکاوه، هغه په ناچارۍ کې دا کرامت وښود چې له درياب څخه يې کب راوايست، لمر ته يې ونيو، او ويې ويل چې ای لمره ته زما همنومی (شمس) يې، نږدې شه چې کب پوخ کړم، لمر رانږدې شو، او کب وريت شو، ويل کېږي چې له هماغه وخته په ملتان کې ګرمي هم زياته شوې ده. ۱۲۷۴ ميلادي ۶۷۳ هجري د هغه د وفات تاريخ ويل کېږي، او ويل کېږي چې په ۱۲۳۰ ميلادي کال کې د هغه لمسي دا ودانۍ جوړه کړه، متوليان يې شيعه ګان دي، اوسنی متولي او سجاده نشين يې سيد ضمير حسن شاه دی.

عيدګاه:

اوسمهال د ملتان تر ټولو د يادولو وړ ودانۍ د عيدګاه مسجد دی، دا د ښار شمال ختيځ لور ته د يو ميل په واټن کې موقعيت لري، دروازه يې ريونده لور ته يو اړخ ته ده، د ننوتلو پر مهال مسجد ټول نه ښکاري، له دروازې څخه په دننه کېدو سره چپ لور ته د مسجد ودانۍ ته، انګړ يې ډېر پراخه دی، تقريباً زر تنه پکې ځايدای شي، د مسجد دالان ښه اوږد دی، ګمبده او مناره لري، ديوالونه يې له کاشي جوړ دي، ډېر په زړه پوري جوړ شوي دي.

پروفيسر منير چې د ايران او عراق سياحت يې کړی، اوس له موږ سره ملګری و، هغه وويل چې د معمارۍ دا ډول يې له ايران پرته بل هيڅ ځای کې نه دی ليدلی، دا مسجد د لاهور صوبه دار او د ملتان ناظم نواب عبدالصمد خان جوړ کړی و، د جوړېدو چارې يې په ۱۲۲۵ ميلادي کې بشپړې شوې وې.

د نواب عبدالصمد خان لقب سيف الدولة دلير جنګ و، په مأثر الأمراء کې په همدې لقب سره د هغه يادونه شوې ده، د سلطان محمد فرخ سير په زمانه کې د پنجاب صوبه دار مقرر شوی و، هغه مهال دلته د سيکانو سخت شورش موجود و، عبدالصمد خان په خپله زمانه کې په برياليتوب سره د هغوی اصلي مزکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاصره کړ، د هغوی مشران یې بندیان کړل، ډیلي ته یې واستول، بیا د ملتان ناظم وټاکل شو، او په ۱۱۵۰ میلادي کې وفات شوی دی.
په ۱۸۱۶ میلادي کال کې سیکانو ملتان ونیو، ویل کېږي چې د هغوی په واکمنۍ کې دا مسجد په اصطبل (د اسونو غوجل) بدل شو، کله چې په ۱۸۴۸ میلادي کال کې مسټر اګنیو او انډرسن د لاهور ریاست د انګریز والي د استازي په توګه د ملتان له ناظمۍ څخه د دیوان مولراج د لېږې کولو لپاره راغلي وو، همدلته نیول شوي، او بیا همدلته د مولراج د سکانو افسرانو له خوا وژل شوي وو، د ودانۍ په چپ لوري اخیري مناره په انګریزي ژبه داسې لیکل شوي دي.
دلته د ۱۸۴۸ میلادي کال د اپریل په ۲۹ نېټه پیټرک وان اګینو د بنګال د ملکي خدماتو او لفټننټ ولیم انډرسن سیکنډ کمپنۍ فیوز لیټر چې د لاهور مرستیال والي و، په ډېرې بې رحمۍ سره وژل شوي وو.[۴۹]
له دې پېښې وروسته نښته وشوه، له جګړې وروسته د امن په وخت کې انګریزانو د مرستیال کمیشنر دفتر جوړ کړ، په ۱۸۶۳ میلادي کال کې د مسلمانانو په غوښتنه هغه بېرته هغوی ته ورکړل شو، دا مهال په ډېر خرابه حالت کې و، مسلمانانو په چندې سره هغه ورغولو، اوسمهال د سیمه ییز اسلامي انجمن تر نظم لاندې دی، د ځمکې یو څه برخه ورته وقف شوې ده، او دومره عاید لري، چې د ساتونکي معاش یې ورڅخه پوره کېږي، اړتیا ده چې ښاریان د خپل دې تاریخي مسجد د بقاء او پرمختګ ته توجه وکړي.

## علي محمد خان مسجد:

کله چې د ډیلي مرکزي حکومت کمزوری شو، نو په پنجاب او سند کې ځای ځای افغان سردارانو او سکهانو مثل دارانو[۵۰] (جهته دار) خپل کوچني کوچني

---

[۴۹]-مولراج چوپړه د ملتان سیک والي وو، مسټر اګنیو او انډرسن د انګریزانو استازي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواک ریاستونه جوړ کړل، راجه رنجیبت سنګ چې خپله د یو مثل دار (جته دار) زوی و، کرار کرار دا ټول سیک سرداری ماتې کړې، او یو مرکزي سیک دولت یې جوړ کړ، له دې مرکزیت څخه پیاوړی شو، ورپسې یې یو پر بل پسې اسلامي ریاستونه ونیول، د هغه وخت یوازینی بهاولپور اسلامي ریاست پاتې شو، هغه مهال په ملتان کې هم یو اسلامي ریاست قایم و، چې باني یې د درانی سلسلې سدوزی افغان و، نواب علي محمد خان، شجاع خان او مظفر خان بهادر صفدر جنګ د دې کورنی مشهور افراد دي، رنجیت سینګ د همدې کورنی څخه دا هېواد ونیو، او د دیوان مول راج پلار ته یې ورکړ، او بیا په ۱۸۴۹ میلادي کې انګریزانو له دیوان مول راج څخه ونیو.

د همدې افغان سدوزي ریاست یادګار همدا مسجد دی چې په ۱۱۷۱ میلادي کې جوړ شوی و، د سیکانو په زمانه کې دلته د سیکانو د ملتان ناظم محکمه وه، او په داخل کې یې د سیکانو مذهبي کتاب ګرنت صاحب اېښودل شوی و، د انګریزانو له نیولو وروسته بېرته مسلمانانو ته ورکړل شو، د مسجد اړوند څو دوکانونه دي، د هغې له عاید څخه د مسجد لګښت پوره کېږي.

## عام و خاص باغ:

دا باغ د ډیلي له دروازې دباندې د شمس تبریز له خانقا څخه سویل لور ته موقعیت لري، ویل کېږي چې دلته د شاه جهان پاچا زوی شاهزاده مراد د عامو خلکو عریضې اورېدې، او دلته به یې مجلس جوړاوه، دلته به یې خاص دربار هم جوړاوه، له همدې امله د باغ خاص و عام په نوم شهرت لري، د سیکانو په زمانه کې د مولراج پلار سانول مل، چې د رنجیت سینګ له خوا دلته د صوبدار په توګه ټاکل شوی، په دې ځای کې مجلس کاوه.

---

۵۰- سکانو د خپلو جته دارانو لپاره دا اصطلاح جوړه کړې وه.(لیکوال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته له دې شاهي باغ څخه پرته يو حضوري باغ هم شته، چېرته چې يوه ودانۍ اوس هم ودانه ده، دا هم شاهزاده مراد جوړه کړې ده.

## پخوانۍ کلا:

دا په يوه لوړه او پراخه غونډۍ موقعيت لري، کله چې اباده وه نو مساحت يې پاو باندې يو ميل و، يو لور ته يې د راوي سيند بهېدو، په دې کلا کې د مسلمانانو او هندوانو د عبادتځايونو نښې اوس هم پاتې دي، له دې امله چې دا سيمه لوړه ده، د ماښام په وخت کې دلته د يخې هوا څپې زياتې راځي، له همدې امله د ښار اوسېدونکي له ماښام کېدو سره سم، د هوا خورۍ لپاره دې سيمې ته زيات راځي، له دې ځايه ټول ښار معلومېږي.

اوس دا کلا د خاورې يوه ډېرۍ ده، يوازې يو پراخه سالون يې په خپل حال پاتې دی، پوهنتون د خپل کلنۍ ازموينې لپاره همدا بد حاله سالون غوره کړی دی، د پوهنتون له خوا د هلکانو کلنۍ ازموينه دلته اخيستل کېږي.

د کلا په منځ کې د مسټر اګنيو او انډرسن د درناکې وژنې يادګار کې پنځوس فوټه لوړه مناره جوړه کړای شوې ده.

## جامع مسجد:

دلته يو جامع مسجد هم شته، ورداخل نه شوو، د دې مسجد خطيب او امام مولانا اشفاق علي د ديوبند فاضل دی له ما سره ملګری و، د ماښام وخت نږدې و، کله چې د شيخ الاسلام بهاء الحق له درګاه څخه بېرته راتلو، نوموړی دلته ښکته شوو، دا مسجد د يوې ټولنې تر نظامت لاندې دی، او سيد مير حسن د دې متولي دی.

## د ملتان چاوڼۍ:

ملتان په دوه برخو وېشل شوی، يو د ملتان پخوانی ښار او يو نوی دی، نوي ته يې د ملتان صدر يا ملتان چاوڼۍ وايي، چېرته چې د انګريزانو پوځي مرکز دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ځای نفوس زیات دی، بنګلې او ودانۍ پکې زیاتې دي، د مسلمانانو نفوس هم د پام وړ زیات دی، دلته قومي رهبر او کارکن سید میر حسن دی، چې په سترګو معذور او کمزوری شوی، خو بیا هم د دې ځای یو باوري شخص دی، د هغه زوی سید عبدالغني د دې ځای په دولتي ښوونځي کې سرښوونکی دی، او په قومي کارونو کې د خپل په څېر فعال دی.

د سید میر حسن او نورو مسلمانانو په هڅو په ۱۹۱۱میلادي کې دلته د محمدن هال په نوم یوه ودانۍ جوړه شوې، او د نصرة الاسلام په نوم یوه ټولنه جوړه شوې، د دې ټولنې سره یو ښوونځی او یو کتابتون پرانیستل شوي دي، چې د هغې نوم محمدن کتابتون دی، له دې کتابتون او د دې کتابتون چلونکی سید میر حسن سره زما پېژندګلو له هماغه وخته شته، کله چې دا ټولنه جوړه شوه، نو ما د سید په غوښتنه خپل وراره مولوي سید ابو ظفر چې هغه مهال له زده کړو فارغ شوی و، دلته راواستاوه، او د هغه په مشوره او هڅو سره دا کتابتون جوړ شو، له هغه وروسته مولوي سید عبدالباري ندوه خوشې کړه له لکهنو څخه د فضیلت له سند اخیستلو پر ځای یې د هیوټ انجنیرنګ سکول څخه سند واخیست، او دلته راغی، او په ۱۹۱۵ میلادي کې د همدې کتابتون سکرتر وټاکل شو، له ماغه وخته په همدې دنده خپل خدمات وړاندې کوي.

## محمدن کتابتون:

د کتابتون ودانۍ ښه او ستره ده، انګړ یې هم پراخه دی، ونې او ګلان پکې کرلي دي، په ۱۹۱۵ میلادي کال کې د عاریت د ځینو کتابونو پرته په دې کې هېڅ نه وو، د سکرتر په هڅو سره یې هر کال کتابونه زیاتېدل، تر دې چې اوس په دې کتابتون کې نږدې پنځه زره کتابونه شته، د اردو ټول ښه کتابونه او د اردو د ټولو مشهورو لیکوالانو کتابونه موجود دي، فارسي او عربي هم څه کتابونه لري، یو څه انګریزي کتابونه هم پکې شته، د فن پر بنسټ کتابونه په لاندې ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب او دنيات ۴۵۰، تاريخ او سوانح ۵۰۰، ناول او افسانې ۲۱۱۰، جغرافيه او سفرنامې ۴۰، علمي او ادبي ۴۷۰، متفرقات ۷۰، فارسي او عربي کتابونه ۳۵۰، انګريز کتابونه ۴۳۰.

د نويو او پخوانيو علمي رسالو د پام وړ جلدونه پکې شته، خو دومره زيات نه دي، ورځپاڼې او مياشتينۍ علمي رسالې هم ورته راځي، دا کتابونه په لسو الماريو کې منظمې ايښودل شوي دي.

## ملتاني ژبه:

ملتان يوه خاصه ژبه هم لري چې له پنجابي او سندي څخه جلا ده، ملتان د پنجاب او سند تر منځ پرته سيمه ده، په همدې اساس دا ژبه د دې دواړو ژبو په منځ کې د يوې کړۍ په توګه بلل کېداى شي.

## روانېدل:

ملتان کې درې ورځې پاتې شوم، په دې کې مې نارغې هم تېره کړه، څلورمه ورځ مو د تګ تابيا وکړه، يوولس بجې اورګاډى ځي، ملګرو د اورګاډي تم ځاى ته ورسولم، کله چې موټر روان شو، بيا هماغه ريګستان و، خو څومره چې مخکې تلم، نو د پنجاب سرسبزه سيمه مخې ته راغله، له ماښام وروسته لاهور ته ورسېدو، اول مې پام کې وه چې يو دوه ورځې لاهور کې هم تېرې کړم، خو په ملتان کې د زيات وخت له امله لاهور کې له پاتې کېدو تېر شوم.

## لکهنو:

په لاره د يادونې وړ کومې پېښې سره مخ نه شوم، په لکهنو کې ګران ورور مولانا مسعود علي ندوي په دارالعلوم کې د مسجد د جوړولو لپاره مېشت و، هغه ته مې د ليک په واسطه د خپل راتګ خبر ورکړى و، دويمه ورځ ماسپښين مهال موټر لکهنو ته ورسېد، په تم ځاى کې مولانا مسعود علي او د ندوې نور ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجود و، له هغه ځايه د دار العلوم ندوه هغه ځای ته راغلو چې د مسجد د ودانۍ لپاره د مسجد په مخامخ په ډېر منظم ډول جوړ شوی و، مولانا په خپلې صفايۍ او خوش سليقگۍ داسې جوړ کړی و، چې د ودانيو او بنگلو مالکانو به ورته زړه کېدو.

د مسجد د تعمير کار روان و، پرېمانه مزدوران او معماران لگيا وو، يو لور ته د وسپنيزو کټارو د جوړولو لپاره اهنگر په کار بوخت و، بل لور ته د ربړ د نلونو په مټ هر لوري ته مصنوعي نهر روان و، د ندوې اعزازي کارمندان د ودانۍ د چارو تر سره کولو لپاره د مولانا په شا اوخوا راټول وو، د دار العلوم طالبان د افغانستان د حالاتو او خپلو افغان ورونو د پرمختگ د حالاتو اورېدلو لپاره راتلل، د کندهار کوم انگور او انار مې چې له ځانه سره راوړي وو، هغوی ته مې ډالۍ کړل، ورځ تېره شوه، سبا د اوم نومبر سهار و، بيا هم د افغانستان د سفر مستي او خمار پر ما راخپور و.

## د نادرشاه شهادت

يو سهار يو ملگری راغی او راته يې وويل چې افغان شاه نادرخان شهيد شو، داسې خبر و چې زړه مې نه منله، د ندوې ځينې ملگري مې په سايکل د اخبارونو دفتر ته واستول، نږدې لس بجې خبر باوري شو، او ماته داسې معلومه شوه چې ما تېرې ځو اونۍ د داسې تماشې ليدنه کې تېر کړي دي، چې د هغې پايله يو ناورين شو.

## د ډاکټر اقبال "مسافر"

څه يو عجيبه اتفاق دی، نن ۱۹۳۴ کال د اکتوبر اومه نېټه ده، کله چې مې د دې يونليک وروستۍ ليکنه پای ته ورسوله، قاصد د ډاکټر محمد اقبال تاليف مسافر راکړ، دا د افغانستان د څو ورځني سياحت په اړه د موصوف د شاعرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جذباتو مجموعه ده، چې همدا اوس خپره شوې ده، په فارسي ژبه کې د خیبر، سرحد، کابل او غزني، او کندهار له عبرت ښخه ډکو منظرو او مقبرو د شاعر اوښکې دي، او د بابر، سلطان محمود، حکیم سنایي، او احمد شاه دراني د خاموشو خاورو په زبان حال کې سوال او ځواب دی، د مسافر پیل د نادرشاه شهید په مناقبو شوی دی، او پای یې د شاه محمد ظاهر خان پورې ترلو توقعاتو شوی دی، نوموړی وایي:

## شاه ظاهر خان ته خطاب

ای قبای بادشاهی بر تو راست
سایه تو خاک ما را کیمیا است
از تو ای سرمایه فتح و ظفر
تخت احمد شاه را شانی دگر
نحرف شوق آورده ام از من پذیر
از فقیری رمز سلطانی بگیر
هر که خود را صاحب امروز کرد
گرد او گرده سپهر گرد گرد
دو جهان رنگ و بو را آبروست
دوش از و امروز از و فردا ازوست
مرد حق سرمایه روز و شب است
زانکه او تقدیر خود را کوکب است
سرگزشت آل عثمان را نگر
از فریب غربیا خونین جگر
ذکر و فکر نادری در خون تست
قاهری با دلبری در خون تست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای فروغ دیده بر ناو پیر
ستر کار از هاشم و محمود گیر
هم از ان مردی که اندر کوه و دشت
حق ز تیغ او بلند آوازه گشت
روها شب ها تپیدن می قوال
عصر دیگر افسریدن می توان
صد جهان با قیست در قرأن هنوز
اند آیا نش یکی خود را بسوز
باز افغان را ازو سوزی بده
عصر او را صبح نوروزی بده
(مسافر)

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**